# د نازو انا یاد

(د نازو انا په یاد د جوړشوي سیمینار د لیکنو ټولګه)

سریزه او راټولونه

د

محمد اسمعیل یون

۱۳۸۷ل

Ketabton.com

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د نازو انا یاد

سریزه
او
راټولوونه
د

## محمد اسمعیل یون

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بسم الله الرحمن الرحیم

## کتاب پېژندنه


| | |
|---|---|
| د کتاب نوم: | د نازو انا یاد |
| راټولوونکی: | محمد اسمعیل یون |
| خپرندوی: | یون کلتوري یون |
| چاپشمېر: | ۱۰۰۰ ټوکه |
| لومړی چاپ: | ۱۳۶۹ل کال |
| دویم چاپ: | ۱۳۸۷ل کال |
| د راټولوونکي پرله پسې نومره: | (۵) |
| د خپرندوی پرله پسې نومره: | (۵) |
| کمپوزر: | ضیاءالرحمن ضیاء |


Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نیولیک


| ګڼه | سرلیک | مخ |
|---|---|---|
| ۱ | دا اثر او دویم چاپ | ۱ |
| ۲ | سریزه | ۲ |
| ۳ | د خوشال فرهنګي ټولنې د رئیس وینا | ۱۲ |
| ۴ | د ښوونې او روزنې د وزیرې وینا | ۱۸ |
| ۵ | پیام شورای سراسری زنان به مناسبت... | ۲۲ |
| ۶ | د نازو انا ژوند ،سخاوت،شجاعت او شاعري | ۳۲ |
| ۷ | مخمس (شعر) | ۴۲ |
| ۸ | د یونس د یوې معما حل | ۴۸ |
| ۹ | محمد هوتک او محمد یو شاعر دی که.. | ۵۸ |
| ۱۰ | سخن چند پیرامون ماخذ شناسی پټه خزانه | ۷۴ |
| -۱۱ | د ګورګاني هند او صفوي ایران تر منځ... | ۹۰ |
| -۱۲ | د پښتو ادب ځلانده عرفاني نمونه | ۱۱۷ |
| -۱۳ | راوبط میرویس هوتکی با شاهان ګورګاني هند | ۱۳۴ |
| -۱۴ | د پښتو په لرغونو ښځمنو شاعرانو کې... | ۱۴۳ |
| -۱۵ | د نازو انا په کورنۍ کې د پښتو شارعرۍ عنعنه | ۱۵۱ |
| -۱۶ | د هوتکیانو په باب چاپ شوي پښتو کتابونه | ۱۶۴ |
| -۱۷ | د چا بدل (شعر) | ۱۷۴ |
| -۱۸ | د محمد اسمعیل یون لنډه پیژندنه | ۱۷۶ |


Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دا اثر او دويم چاپ


پر ۱۳۶۹ل کال د لړم د مياشتې پر (۲۵)مه نېټه په کابل کې ((خوشال فرهنګي ټولنه)) جوړه شوه، په دې ټولنه کې په لسګونو ځه، چې په سلګونو هغه افغان ليکوال، شاعران او کلتورپالي راټول شوي وو، چې پر خپل هېواد او ملي کلتور يې تر هر چا زيات زړه سوزېده او د ملي فکر ځښتنان وو. زه دا مهال ددې ټولنې د ځوانانو د ادبي انجمن مسئول وم. دې ټولنې له خپل تاسيسه، بيا په کابل کې د جنګونو تر پيل، په نږدې يو کلن بهير کې ډېر مهم او په زړه پورې فرهنګي کارونه ترسره کړل، ځو عنوانه کتابونه يې چاپ کړل او تر لسو زيات علمي سيمينارونه او ورکشاپونه يې جوړ کړل، دا هغه برى و، چې په دې دومره کمه موده کې، په کابل کې هېڅ دولتي او نادولتي ټولنې تر دې مهاله نه و ترلاسه کړى. دې ټولنې د همدې يوه (۱۳۷۰)ل کال په بهير کې د نازو انا په ياد، په ملي کچه يو سيمينار جوړ کړ، ټولنې ماته دنده راوسپارله، چې په دې سيمينار کې اورول شوې او نا اورول شوې ټولې ليکنې سره راټولې، ايډيټ او چاپ کړم. ما دا کار وکړ او د ۱۳۷۰ل



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

کال پر وروستیو میاشتو مې دا کتاب چاپ ته تیار کړ. دا په داسې حال کې و، چې زه د پوهنځي د څلورم ټولګي محصل وم او د فراغت وخت مو رانږدې کېده، د پایلیک (مونوګراف) لیکنه او نور ګڼ کلتوري مصروفیتونه هم را ترغاړې و. هره ورځ به ماسپښین مهال د کابل-




جلال اباد پر لویه لاره، د کابل هوتخېلو سیمه کې اریانا چاپخونې ته ور روان وم. کله به په چاپخونه کې کاغذ نه و، کله به کاریګر نه و، کله به برښنا نه وه او کله به نورې ګڼې ستونزې وې، خو فرهنګي ولولې، دا ټولې ستونزې له مونږه هېرولې، ددې ترڅنګ سیاسي وضعه هم ډېره وېرونکې وه، داسې اټکل کېده، چې د ډاکټر نجیب الله حکومت به نسکور شي او په کابل کې به یوه سخته ګډوډي رامنځته شي، اریانا چاپخونه دا مهال په افغانستان کې یوه ډېره لویه او مجهزه چاپخونه وه خو د کاغذ د کمښت له ستونزې سره مخ وه، که نه خو دا چاپخونه دومره مجهزه او سمباله وه، چې د ورځې یې هم یو کتاب چاپولای شو. مونږ چې د افغانستان حالت ښه درک کړی



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

و او د راتلونکي اټکل مو هم کولای شو، نو تر وروستي بريده مو هڅه کوله، چې کتاب شي، که څه هم په چندان ښه کاغذ نه وي، سره له دې چې دا کتاب موږ د دولت په لګښت نه چاپوه او خوشال فرهنګي ټولنې چاپوه، خو بيا هم که پخواني حالات او امکانات وای، تر دې ښه چاپېدلای شو. پر کتاب مې ډېر بېړنی او ضربتي کار وکړ او د ۱۳۷۰ل کال پر وروستيو شپو ورځو؛ مخکې تر دې چې کابل ته د جګړو فصل راورسي، چاپ کړ. دا نو زما په فرهنګي ژوندانه کې د ډېرې خوښۍ يوه ورځ وه. د ۱۳۷۱ل کال د ثور تر (۲) مې نېټې وروسته، په کابل کې جګړې پيل شوې، بيا نو د دې چاپخونې ښه او نبيره چا ونه ليدله، څه چې يې درلودل، ويجاړ، لوټ او پر پاکستان وپلورل شول. دا د دې اثر د لومړي چاپ داستان و. په کابل کې دا مهال زما او زموږ د نورو ليکوالو په زيار اکثره چاپ اثار، دا او د پته ورته داستان لري. له دې کيسې څخه مې هدف دا دی چې زموږ په هېواد کې فرهنګي کار، هغه هم د جګړې پر مهال او د جګړه په نسل د واک په بهير کې، څه اسانه خبره نه ده. اوس چې د خدای(ج) په فضل په هېواد کې د چاپ امکانات او تخنيکي چارې اسانه شوې، موږ بايد پخوانی محروميت او اوسنی ضرورت دواړه خروب کړو، خپل ټول هغه اثار چې هنري، تاريخي، کلتوري، علمي او نور ارزښتونه لري، بيا له



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره چاپ او د مرګ له خطره وژغورو، اوس د کمپیوټر او انټرنیټ زمانه ده، له دې تخنیکي امکاناتو، چې اوس هم موږ ګټه نه پورته کوو، نو بیا خو باید ځان په مړو او ویدو قومونو کې حساب کړو او مرګ ته خپله پښې وغځوو. یو ځل چې د کمپیوټر او انټرنیټ څپو ته یو اثر ورسېد، بیا یې نو د مرګ قاصدان په اسانۍ نه شي وژلای، نو موږ باید د زماني له همدغه رمز او امکان څخه ګټه پورته کړو، ځکه خو زه دا کتاب او نور کتابونه د همدغه رمز په رڼا کې، نه یوازې دا چې بیا له سره چاپوم، بلکې سي ډي ګانو کې یې هم ثبتوم او د انټرنیټ په څپو کې یې بېلابېلو وېبپاڼو ته هم ورسپارم، چې د مرګ له بلا څخه وژغورل شي.

دا چې دا اثار به څومره زموږ او سني او راتلونکي نسل ته ګټور وي او زموږ ټولنې ته به یې ګټه څه وي، دا قضاوت به لوستونکو ته پرېږدم، زه اوس خپل مسولیت رفع کوم، قضاوت د لوستونکو کار دی او زه ځان ته د چا په قضاوت کې د مداخلې حق نه ورکوم، نو د یو ساده یا مبتدي لیکوال په توګه دومره وایم، چې د خپل تېر او راتلونکي نسل ترمنځ کلتوري خلا نه شم زغملای، زموږ او سنی فرهنګیالي پښتانه ته په کار دي، چې د تېر او راتلونکي نسل ترمنځ کلتوري پُل



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

وغځوي او د پوهې په دې زمانه کې کلتوري خلا ته اجازه ور نه کړي.

د همدې ارمان په ارمان
پوهندوی محمد اسمعیل یون
ارګ- د جمهوري ریاست ودانۍ
کابل- افغانستان
۱۳۸۷ل کال، د سلواغې ۷مه



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سریزه

څرنګه چې ټولو ته څرګنده ده، د هېواد یو شمېر روښانفکرانو او فرهنګیانو په شعوري هڅه او هاند، د ۱۳۶۹ المریز کال د عقرب میاشتې پر (۲۵) نېټه د خان علین مکان لوی خان، خان خوشال خان خټک فرهنګي ټولنه (د خوشال فرهنګي ټولنه) د ډېرې شانداري غونډې په ترڅ کې په انټرکانټیننټال هوټل کې پرانستل شوه.

له هغه وخته راهیسې دا دی څه کم یو کال تېرېږي. په دې زماني واټن کې خوشال فرهنګي ټولنې نه یوازې په هېواد کې خپل ملي هویت وځلاوه، ټولنیز بنسټ یې پیاوړی شو، بلکې په داسې عملي فعالیتونو یې لاس پورې کړ، چې کولی شو، د هېواد د فرهنګي تاریخ یوه ځلانده پاڼه یې وبولو. د ۱۳۶۹ ل کال تر عقرب میاشتې وروسته د کامل مومند په یاد علمي-ادبي سیمنار جوړ شو، د لوونو فصل شعري جونګ چاپ شو، د استاد اولمیر تلین په درنښت غونډه جوړه شوه، د ګل او غزل سندریز پروګرام د لومړي ځل لپاره ثبت شو، د فرهنګي ټولنې هنري ډله جوړه شوه، د هېواد د پیاوړي شاعر نصرالله حافظ شپېتمه کلیزه ونمانځل شوه، په ځینو تحصیلي او علمي موسسو کې د ټولنې څانګې پرانیستل شوې، د ملي اتل



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

عجب خان اپریدي سیمینار جوړ شو ، د عجب خان اپریدي د سیمینار د مقالو مجموعه چاپ شوه ، د نازو انا د زوکړې د درې سوه پنځوسمې کلیزې په ویاړ علمي ادبي سیمینار جوړ شو ، د خوشال خټک پسرلنۍ مشاعره جوړه شوه او یو لړ نور ورته کارونه سرته ورسېدل.

او دادی اوس شمشاد مجله (د ټولنې خپرنی ارګان) له چاپه د راوتو په حال کې ده. د محترم استاد کاډمیسین عبدالشکور رشاد د اویایمې کلیزې د نمانځنې لپاره هلې ځلې روانې دي او د عبدالقادر خان خټک په باب د یو لوی سیمینار د جوړېدو لپاره کارونه پیل شوي دي.

د خوشال فرهنګي ټولنې د کلني پلان له مخې یو هم د نازو انا د درې سوه پنځوسمې کلیزې په ویاړ د علمي-ادبي سیمینار جوړېدل او د یوه ځانګړي کتاب په شکل د هغه سیمینار د مقالو چاپول و. د دې سیمینار د جوړېدو لپاره مخکې تر مخې کار پیل شو د ټولنې اکثرو غړو خپلې هڅې ونه سپمولې، ښایسته ډېرو فرهنګي دوستانو او پښتو پالونکو ، چې نومونه یې وروسته راوړم، له موږ سره مادي او معنوي مرستې وکړې، خو زما د ډېر پرکاره استاد ، د پښتو د خدمت او پالنې د عملي او نظري ډګر لوی اتل او یا هم زموږ د یوه لیکوال خبره ((زموږ ژوندۍ اکاډمي)) محترم (زلمي



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

هېوادمل) منډو رامنډو او هلو ځلو غوځ او ټاکونکی رول ولوباوه، دی نه یوازې د مادي امکاناتو د برابرونې لپاره کوښه پر کوښه او کور پر کور ګرځېدلی دی، بلکې د مقالو د تنظیم لپاره هم په لیکوالو پسې ستړی شوی دی. استاد هېوادمل ماته ویلي و، چې ددې کتاب تدوین او چاپ ستا پر غاړه دی، خو په دې برخه کې ده دومره کار سرته ورساوه، هغه د چا خبره ماته یې تیاره مړۍ په خوله کې راکړه.

دا سیمینار د ۱۳۷۰ل کال د میزان د میاشتې پر ۱۷مه نېټه د کابل پوهنتون د علمي شورا تالار کې د سهار پر نهه نیمو بجو پیل او د ماسپښین پر دوو بجو پای ته ورسېد. د سیمینار کار د قران کریم د څو مبارکو ایتونو په تلاوت سره پیل شو، تر ویناوو او پیغامونو وروسته لیکوالو خپلې مقالې ولوستلې. د سیمینار په وروستۍ برخه کې یوه ازاده مشاعره وشوه او د ټولنې له خوا څو ټوکه کتابونه، د سیمینار پر برخوالو ووېشل شول. څنګه چې ټول پوهېږي، د خوشال فرهنګي ټولنه یوه غیر سیاسي، غیر دولتي او غیر ګوندي ټولنه ده، یوازینۍ تکیه یې د خپل هېواد پر فرهنګپالونکو او پښتو پالونکو ده، نو د مالي امکاناتو په برخه کې هم پر همدوی تکیه کوي، نو که ددې کتاب په ځینو مقالو کې څه لنډون شانته راغلی وي، هغه به یوازې د ټولنې د مالي امکاناتو له کبله وي.



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلته ضروري بولو ، د هغو ښاغلو له مرستو څخه یادونه او مننه وکړو ، چې ددې سیمینار په جوړولو او د کتاب د چاپ لپاره يې له موږ سره کړې دي. ددې فرهنګپالونکو نومونه او د مرستو څومره والی په لاندې ډول دی:

۱- محترم حاجي بابک کندهاري یو سلو پنځوس زره افغانۍ.

۲- محترم حمید جان قادري، د قادري شرکت رئیس سل زره افغانۍ.

۳- محترم هریش کمار کندهاري شل زره افغانۍ.

۴- محترم دوکتور شاه محمد ( په کابل کې د پښتونخوا سټوډنټس ارګانیزیشن (P.S.O) د سازمان مشر ) شل زره افغانۍ.

۵- محترم عمر معروفي لس زره افغانۍ.

۶- محترم فدا محمد خوار یکښ لس زره افغانۍ.

۷- محترم احسان اریبزي ځلور زره افغانۍ.

۸- محترم بسم الله حقمل دوه زره افغانۍ.

۹- محترم علي محمد رسولي دوه زره افغانۍ.

۱۰- محترم انجنیر ګلاب دوه زره افغانۍ.

۱۱- محترم جلات خان حکمتي دولس سوه افغانۍ.

۱۲- محترم پوهندوی شېر احمد ګردیوال زر افغانۍ.



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۳- محترم پوهنمل اصف بهاند زر افغانی.

۱۴- د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د پښتو څانګې د لومړي ټولګي محصلینو ټولې درې زره افغانۍ.

اوس چې زه دغه سریزه لیکم، خوشال فرهنګي ټولنې په یو بل نوښت لاس پورې کړ، هغه د خوشال فرهنګي ټولنې په چوکاټ کې د یوې طبي څانګې پرانیستل دي. په دې څانګه کې د کابل طب انستیتیوت د (۳۰۰) تنو په شاوخوا کې محصلینو او استادانو غړیتوب واخیسته، سره له دې چې یو شمېر لنډ فکرانو ددې څانګې د جوړېدو د مخنیوي لپاره خپل لنډ فکره هویت په ډاګه څرګند کړ، خو له نېکه مرغه د کابل طب انستیتیوت د نوښتګرو محصلینو د پرله پسې هلو ځلو او کوښښونو له کبله، د هغو ټولې هڅې له ناکامۍ سره مخامخ شوې او ددې څانګې افتتاحیه غونډه په داسې شاندارو مراسمو او احساساتو سره پرانیستل شوه چې حتی تصور یې نه کېده.

په دې مجموعه کې درې پیغامونه، دوه ټوټې شعرونه او یوولس مقالې راغلې دي. په مقالو کې ځینې مشخصې د نازو انا د فرهنګي او ملي ژوند د بېلابېلو اړخونو په څېړنې او تحلیل پورې اړه لري او ځینې نورې مقالې د هوتکو د ملي او



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرهنګي غورځنګ په ارتباط ليکل شوې دي، چې د ځينو ربړو په حل کې مرسته کولی شي.

د خوشـال فرهنګـي ټولنـه هيلـه لـري، چـې ددې مجمـوعې مقـالې بـه د هـوتکي دورې د فرهنګـي او ملـي کـارونو لـه څېړونکو سره مرسته وکړي.

په پای کې زه دغه مجموعه خپلې فرهنګي ټولنې ته ډالۍ کوم او هيله لرم چې زما دا هاند او هڅه د فرهنګ د يوې پيـڅې په رڼولو کې د څېړونکو په درد ولګي.

په ډېر درناوي
له پښتو، پښتونولۍ او انسانيت نه په ډکو ولولو
اسمعيل يون د ژبو او ادبياتو پوهنځي د پښتو څانګې
محصل

## د نازو انا د زوکړې د درې سوه پنځوسمې کاليزې په غونډه کې د خوشال فرهنګي ټولنې د رئيس وينا

درنو پوهانو، مېرمنو او ښاغلو!



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خوشال فرهنګي ټولنه له خپلې اساسنامې سره سم د هېواد دعلمـــي، فرهنګـــي او ټـــولنيزو شخصـــيتونو د کارنـــامو او خدمتونو د نمانځنې لپاره علمي او فرهنګي غونډې جوړوي.

دا زمـــوږ ملـــي وجيبـــه ده، چـــې د فرهنـــګ د ربښـــتينو خدمتګارانو درناوی وکړو او هغـو تـاريخي شخصيتونو تـه، چې د ملي فرهنګ د غنې کولو په برخه کې يې ونډه اخيستې ده، د عقيدت ګلونه وړاندې کړو.

د نـن ورځـې علمـي غونـډه د نـازو انـا د زوکـړې د درې سـوه پنځوسمې کاليزې په ياد جوړه شوې ده. په دغه علمي غونډه کـې بـه د افغانسـتان د سياسـي، ټـولنيز او فرهنګـي تـاريخ پـر بېلابېلو خواو رڼا واچوله شي، ګوندې د تاريخ په هېنداره کې مـوږ افغانـان خپـل صـلاحيتونه، خپـل ملـي کرکتـر، خپلـې برياوې او خپلې نيمګړتياوې يو ځل بيا لـه نظره تېرې کړو، تـاريخ مـوږ تـه اجـازه نـه راکـوي، چـې د حقـارت عقـده ولـرو، پرځان باور له لاسه ورکړو او توري تياري په خوب کې ووينو. افغانـانو لـه پـاريس څخـه نيـولې تـر ډهلي او بنګالـه پـورې پـه اداره، سياست او فرهنګ کې ستره ونډه اخيستې ده. سره لـه دې، بايد وويل شي، چې د افغانانو په تاريخ کې له قلم څخه د تـورې نقش زيـات وو، دوی لـه مغـزو څخـه هغـومره کـار نـه دی اخيستی لکه څومره يې چې له خپلو متو څخه اخيستی دی. د



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

پښتنو په باره کې دا خبره ډېره مشهوره ده، چې وايي: پښتانه يې په توره ګټي، په سياست يې بايلي.

که چېرې د اسيايي ملتونو سياسي تاريخ ته په ځير وکتل شي، نو دلته سياسي فلسفي او سياسي ايډيالو نو چنداني انکشاف نه دی کړی. په پښتنو مشرانو کې شېرشاه سوري، خوشال خان خټک، افضل خان (د تاريخ مرصع مولف)، ميرويس هوتک، احمد شاه بابا، سيد جمال الدين افغان او محمود طرزي د لوړې سياسي پوهې خاوندان وو، دوی د خپل قام د لوړتيا لپاره له ځانه سره ايډيالونه درلودل او د قامونو د عروج او زوال علتونه يې پلټل. له بده مرغه، د پښتنو د سياسي مشرانو نظريې په ځانګړي اثر کې نه دي راغونډې شوې او په انتقادي توګه نه دي تحليل شوي.

درنو پوهانو او د فرهنګ مينه والو ! د نن ورځې علمي غونډه د فرهنګيانو له نظره خاص ارزښت لري: لومړی دا چې نازو انا د ميرويس خان هوتک مور ده او د هغه ستر تاريخي شخصيت په پالنه کې مهم نقش لري. دوهم دا چې نازو انا يوه شاعره وه او د شعر ديوان يې درلود. درېيم دا چې نازو انا يوه مېرمن وه او دا د ټولو فرهنګيانو انساني وظيفه ده چې د ښځو له حقوقو څخه په کلکه ملاتړ وکړي. که چېرې د يوې ټولنې نيمايي نفوس په ټولنيز فعاليت کې له ونډې اخيستلو څخه



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

محروم شي، نو دا به یوه لویه فاجعه وي. د ښځو ښوونه او روزنه سربېره پر دې، چې یوه انساني او عاطفي مساله ده، د ټولنیز پرمختګ یوه نه بېلېدونکې موضوع هم ده. تجربې ښودلې ده چې تعلیمیافته مېرمنې د ماشومانو په روزنه کې اساسي نقش لري. همدارنګه په کومه ټولنه کې، چې د تعلیمیافته ښځو شمېر زیات وي هلته د نفوسو د ډېروالي پرابلم هم تر زیاتې اندازې کنټرول کېدی شي.

خوشال فرهنګي ټولنه، د خوشال بابا تعلیماتو ته په وفادارۍ سره، د نجونو تعلیم او تربیې ته خاص اهمیت ورکوي. خوشال بابا په خپل اثر (دستارنامه) کې د نجونو ښوونې او روزنې ته خاصه پاملرنه کوي او وايي، لکه څنګه چې د زامنو تربیت لازم دی، لونې لا حقدارې دي. خوشال بابا د نجونو لپاره جلا تعلیمي نصاب ټاکلی دی، چې په هغه کې دیني علوم، د منزل تدبیر او اجتماعي سلوک ته ځای ورکړ شوی دی.

که چېرې پښتني کلتور په ژوره توګه مطالعه شي، هلته به د ښځو مقام او ونډه د یوه ښکاره حقیقت په توګه ځان ښکاره کړي. د پښتنو په هنري فرهنګ کې د ښځو ونډه ډېره زیاته ده. ویل کېږي چې د پښتو د فولکوري ادب زیاتې برخې د ښځو ایجاد دی، په لیکني ادب کې هم د یو شمېر ښځو نومونه ثبت



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوي دي، چې شعرونه يې ويلي دي او داستانونه يې ليکلي دي. نازو انا هم د هغو مېرمنو له جملې څخه ده، چې په ادبي تاريخ کې يې نوم راغلی دی. که څه هم د مېرمن نازو د شعر ديوان لاس ته نه دی راغلی، خو د دې د شعرونو له دوو بيتونو څخه چې په پټه خزانه کې راغلي دي، داسې ښکاري چې نازو انا د لوړې ادبي قريحې خاونده وه.

هغه دوه بيتونه دا دي:

سحر که وه د نرگس ليمه لانده
څاڅکي څاڅکي يې تر سترگو څڅېده
ما وې څه دي ښکليه گله ولې ژاړې؟
دې ويل ژوند مې دی يوه خوله خنديده.

دغه شعر د تصوير، تمثيل، لفظي صنايعو او د مضمون د نوښت له پلوه د پښتو ژبې کلاسيک اثر بلل کېږي. له دې شعر څخه دا هم څرگندېږي، چې د دوه په لوديزه برخه کې يو ځانگړی سبک د پوخوالي درجې ته رسېدلی و او د شاه حسين هوتکي په دربار کې هم دغه سبک پالل کېده.

که چېرې د روښانيانو عرفاني اشعار، د خوشال ختک او رحمان بابا شعرونه د هغه عصر روح وبولو، نو د مېرمن نازو



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

شعر هم د هغه عصر په چوکاټ کې لوبږي او کومه نادره ادبي پدیده نه ګڼله کېږي.

درنو پوهانو او فرهنګیانو ! د خوشال فرهنګي ټولنې په علمي غونډو کې تراوسه پورې ډېرې تحقیقي مقالې لوستل شوي دي. زموږ غونډې یوازې تجلیلي او تشریفاتي بڼه نه لري، سره له دې که ددغې فرهنګي ټولنې ځینې غړي د راتلونکو سیمینارونو او سمپوزیمونو د ماهیت په برخه کې کوم وړاندیز لري او یا غواړي چې د کار په سبک کې بدلون راشي، خپلې نظریې دې په لیکلې توګه لاربښودې شورا ته راولېږي.

په پای کې درنو پوهانو ته بلنه ورکوم، چې خپلې علمي تحقیقي مقالې واوروي. د فرهنګ په چارو کې ستاسو د بریالیتوب په هیله.

په درناوي
کاندید اکاډمیسین محمد صدیق روهي
د خوشال فرهنګي ټولنې رئیس



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د نازو انا د زوکړې د درې سوه پنځوسمې کالیزې د نمانځنې په مناسبت، د ښوونې او روزنې د وزیرې مېرمن معصومې عصمتي ((وردګ)) وینا

درنو پوهانو، محترمو حاضرینو او ښاغلو راغلو !

خوشاله یم، چې د افغانستان د روښانفکرو ښځو او میندو په نیابت د یوې داسې توریالۍ او فرهنګیالۍ افغانې مېرمنې د زېږېدو د درې سوه پنځوسمې کالیزې په دې درنه غونډه کې برخه اخلم، چې نوم به یې د افغانستان ملي او فرهنګي تاریخ تل په ځلاندو تورو خوندي وساتي، دا مېرمن نازو انا ده.

مېرمن نازو انا نه یوازې له دې جهته د درناوي وړ ده، چې دا یوه فرهنګي ښځه وه او په پښتو یې شعر وایه، بلکې له دې امله هم د درناوي وړ ده، چې د میرویس نیکه غوندې یو لوی شخصیت یې په ملي او وطني روحیه وروزه. میرویس هغه څوک و، چې د دولسمې هجري پېړۍ د دوهمې لسیزې په وروستیو کلونو کې یې د خپل ټاټوبي د ازادۍ او د خلکو د نجات لپاره ملي او ولسي هلې ځلې پیل کړې، څو په پای کې



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپل مقدس مرام ته ورسېد او په کندهار کې یې د یوه ملي حکومت بنسټ کېښوده. تر ده وروسته یې په کورنۍ کې هم دغسې مشرۍ د دولسمې هجري پېړۍ تر دویمې نیمايي پورې دوام وموند.

سره له دې چې د نازو د کورنۍ د تسلط او حکمرانۍ دوره لنډه وه، مګر په سیاسي، اجتماعي او فرهنګي ساحو کې یې مثمریت ډېر څرګند و او د افغانانو په سیاسي او اجتماعي ژوند کې یې د یوه داسې تحرک زړی راززغون کړ، چې د دوی د پاچهاهۍ تر ختمېدو لږ وروسته په سیمه کې د افغانانو د اقبال ستوری په ځلېدو شو او لوی احمد شاه بابا د افغانستان د لویې امپراتورۍ د بنسټ ډبره کېښوده او د یو پیاوړي افغانستان د جوړېدو په لاره کې یې متین ګامونه پورته کړل. د نازو انا کورنۍ سربېره پر خپل ملي او سیاسي هویت یوه فرهنګي کورنۍ هم وه. خپله نازو انا او ددې زوی میرویس نیکه، لمسی شاه حسین هوتک او لمسۍ مېرمن زینبه د پښتو ژبې شاعران وو. دوی د شاعرۍ ترڅنګ شعردوستان او فرهنګ پالونکي هم وو. په خاص ډول د شاه حسین هوتک پاچاهۍ دوره د افغاني فرهنګ د ودې په پروسه کې د عطف ټکی دی.



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دوی په شاهي قصر کې د ادبي دربار موجودیت او په دې دربار کې د شاعرانو، ادیبانو او عالمانو راټولېدل د دې کورنۍ د علمدوستۍ او فرهنګ دوستۍ ښکاره ثبوت دی. سره له دې چې د دې کورنۍ د حکومت تر سقوط وروسته د دربار ډېر زیات اثار له منځه ولاړل، خو څه چې را پاته دي، هغه هم خورا غنیمت اثار دي او اوس د همدغو محدودو راپاتو اثارو پر استناد مونږ د خپل فرهنګي او ادبي تاریخ اساسات بنا کوو. د کندهار د هوتکو پاچاهانو دغو فرهنګي او ملي هڅو ته د احترام سرونه ټیټوو.

دغسې چې د میرویس خان هوتک تر مشرۍ لاندې د کندهار د ولسونو ملي غورځنګ د افغانانو د ملي تاریخ یو ښکلی فصل دی. دغه ډول د ده د زوی شاه حسین هوتک په دربار کې رامنځته شوی ادبي غورځنګ زمونږ د ادبیاتو په تاریخ کې خپل لوړ مقام لري. د نازو انا د شخصیت یو بل بعد دادی، چې مورخینو دا مېرمن ډېره زړوره، بهادره او د سخاوت او شجاعت خاونده مېرمن توصیف کړې ده. مونږ نازو انا د افغانستان د ښځو نهضت په تاریخ کې د څو بعدي شخصیت خاونده مېرمن ګڼو.

د دې مېرمنې شجاعت او مېړانه دومره وه، چې په خپل وخت کې یې له خپل پلرني ټاټوبي څخه بریالۍ دفاع کوله او په



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

سخاوت کې هم زيات شهرت لري. تر دې چې فکري او هنري استعداد يې تر دې حده و ، چې په پښتو ژبه يې د شعر دفتر له ځانه په ياد ګار پرېښود.

درنو پوهانو او ګرانو حاضرينو !

زه د نازو انا ملي، اجتماعي او فرهنګي کارنامو ته د احترام د وړاندې کولو ترڅنګ د خوشال له فرهنګي ټولنې څخه د زړه له کومي مننه کوم، چې د دغې فرهنګيالۍ او توريالۍ افغانې مېرمنې د نامه د راژوندي کولو او د دې هڅو ته د درناوي په منظور يې دغه درنه غونډه جوړه کړې ده.

د نازو انا کارنامې دې تل د افغاني ميندو سر مشق وي
ستاسو له توجه تشکر.



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پیام شورای سراسری زنان به مناسبت سه صد و پنجامین سال تولد نازو انا

(۳۵۰مین) سالروزو تولد مادر گرامی وطن مہرمن نازو را از نام هر مادر و خواهر هموطن گرامی میداریم.
کاملاً بجاست که پس از گذشت (۳۵۰) سال باز هم خاطره پرشکوه مادر نامدار کشور بالوسیله مردم قدر شناس ما بصورت شایسته تجلیل میگردد ، زیرا نقش اجتماعی و خانواده گی این خانم رسالتمند در ان سطح پر عظمت قرار دارد که هموطنان مادر برابر همت والا ، سخاوت، شجاعت و طبع والای ادیبانه اش سر تعظیم فرود میاورند. هم او بود که در دامان پر محبت و پاک مادرانه اش فرزندان راد مردی را که در راه وحدت و همبستگی مردم ما همت گماشتند و مردم را از شر ظالمین نجات دادند پرورش داده نام پر اوازه میرویس نیکه راحتی هر طفل از ین سرزمین باعزت و احترام بزبان میاورد و نقش میرویس نیکه در تامین وحدت ملی و نجات مردم افتخار بزرگی است برای همه ملت پښتون و بخصوص برای مادرش که همه ارزویش از اوان تولد پسرش همین بود که او کارهای بزرگ و مثمری را برای مردمش انجام دهد و مہرمن نازو همه نیروی مادرانه اش را در تربیت چنین فرزندی



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بکار بست و مادر چنین فرزندی نیز شد و برای یک مادر افتخار بزرگتر ازین نمیتواند و جود داشته باشد ، مېرمن نازو انا در همه امور خانواده گی زنه با فهم، باتقوی و شجاعی بود که مدبرانه امور خانواده گی اشرا تنظیم میکرد.

دوستان محترم !

خوبست که زن افغان را در نمونه زنان ناموری چون مېرمن نازو مطالعه کرد. او اگر از یک سو مادر خوب و نمونه بود از جهت دیگر نقش پر بار اجتماعی اشرا نیز صمیمانه درک میکرد او هم در میدان نبرد و هم در ساحه قلم مطمین و استوار قدم برمیداشت، و در عین زمان قلب روف و مهربان یک زن را نیز در کمال صداقت باخود داشت. سخاوت و مهربانی او در ان حدودی بود که منزل او مهمانخانه کلیه مسافرین بود که از محل زندگی اش عبور میکردند و پیوسته از فقر او نیازمندان دلجویی مینمود و برایشان نان و لباس تهیه مینمود اینها همه خصایل خوب انسانی این زن دلاور است. طبع ولای ادیبانه او در کلام شرین او تجلی خوبی دارد و افکار عالی، فلسفی او را منعکس میسازد ، دیوان مناجاتی او در بر گیرنده دو هزار بیت است و این بیانگر طبع شعری بزرگ اوست.



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

همه گفته ها و مطالبی که در وصف میرمن نازو گفته شد کافی است که او را در سطح یک انسان ارزشمند و با تمکین مورد احترام همه بسازد و این مسله خیلی قابل اهمیت است زیرا از یکطرف او به حیث یک شخصیت مستقل از همه خصائیل علی انسانی بر خوردار و مورد احترام است و از جانب دیگر او نمونه خوبی از یک زن افغان بمثابه مادر و پرورش دهنده نسل اینده بشمار میرود.

دوستان گرامی !

ما در حالیکه اقدام بجا انجمن فرهنگی خوشال که پس از قرنهای متولی به منظور تجلیل از یک زن قهرمان همت گماشته است با حسن توجه استقبال مینمایم.

ارزو مند یم که این اقدام بزرگ اغاز کار باشد تا همه انجمن های فرهنگی رسالت بزرگ خویش را در قبال زنان و مادران وطن درک نمایند و با معرفی چنین زنان از یکطرف مردم با چنین شخصیت ها اشنا میگردند و از جانب دیگر این امر ثابت میگردد که در کنار هر شخصیت بزرگ یک مادر رسالتمند قرار دارد و تاکید این امر باعث میگردد تاروان جامعه در برابر کمک به تقویت جنبش زنان اماده گردد.

یکبار دیگر از کار بس نیکوی انجمن فرهنگی خوشال اظهار سپاس مینمایم و درعین زمان با در نظر داشت



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

محدودیت بود جوی شورای زنان مبلغ نا چیزی را که حاوی (۵۰۰۰۰) افغانی است جهت نشر کتاب مپرمن نازو به این انجمن اهدا مینمایم، و انتظار چنین برگزاریهای را در اینده نیز داریم.



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوهنمل عبدالخالق رشید

# د نازو انا ژوند ، سخاوت، شجاعت او شاعري

((زما مور ماته د لویو کارو د انجام وصیت کړی دی زه باید زیار وباسم چې د مور وصیت پر ځای کړم او له خدای(ج) څخه توفیق غواړم)) ((میرویس نیکه))

زموږ د خلکو د تاریخ په پاڼو کې که له یوې خوا د نارینه اتلانو نومونه تلپاتې شوي، مګر له بلې خوا دا نښې نښانې هم شته، چې د همدغو نارینه وو ترڅنګ د اتلو ښځینه وو نومونه هم تلپاتې دي او درناوی یې په هم هغه اندازه دی، لکه د نومیالیو نارینه وو. وایي چې په عباسي واکمنانو کې تر هارون الرشید وروسته مامون الرشید د خپل عصر زبده روزګار واکمن شو ، دده دغې لویۍ او پوهې یو سبب دا و ، چې دی د یوې نومیالۍ خراسانۍ مېرمنې مرجیلې زوی و ، هغې دی په پوره تقوا او سپېڅلتیا سره وروزه، ځکه نو په



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپل عصر کې يو نه ماتېدونکی او پر ځان ډاډمن واکمن شو، د مامون په روزنه او پالنه کې د هغه د مور مرجيلې خراسانۍ ونډه څرګنده وه.

د هند د مغولي لړۍ د بنسټوال ظهرالدين محمد بابر د پاچاهۍ د لويۍ اوده ته د لويو وياړونو د ښلو په ترڅ کې دده د پښتني مېرمنې بي بي مبارکې نوم او هلې ځلې په تاريخي لحاظ د يادونې وړي دي، همدغه پښتنه مېرمن وه، چې د يوه ځانګړي تاريخي نزاکت له مخې يې د بابر غوندې لوی واکمن مړی سره له دې چې په هند کې ښخ شو له هغه ځايه د شېرشاه په عصر کې راويوست او دلته يې په کابل کې په او سني بابر بڼ کې چې په ((هغه وخت کې د حضرت رسول(ص) په قدم ګاه باندې مشهور و)) (۱) خاورو ته وسپارل شو. د بابر ښخول په کابل کې د هغې سياسي او تاريخي ځيرکۍ نتيجه وه، چې زمونږ د دغې نوميالۍ پښتنې په هغو تاريخي شرايطو کې ورپام شو، چې په هغو شرايطو کې يې په سيمه ييز او ملي لحاظ ستر اهميت درلود.

په همدې شان زمونږ د هېواد په تاريخ کې دربيمه تلپاتې ښځينه څېره، چې زمونږ د ليکنې اصلي موضوع هم د هغې ژوند، تقوا او سپېڅلتيا ده هغه زمونږ د ملي مشر او ملي لارښود ميرويس خان مور (نازو انا) ده. نازو انا د توخيو د



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځانګې د نومیالي مشر سلطان ملخي توخي لور وه، سلطان ملخی هغه نومیالی مشر و، چې د هند د مغولي واکمن محی الدین اورنګ زېب په عصر کې یې له غزني تر جلدکه په بشپړه خپلواکۍ سره حکومت کاوه او د اورنګزېب د عصر په نامتو کسانو کې یادېده (۲).

نازو انا د همدغه ملي مشر او واکمن په کاله کې پر ۱۰۲۱هـ کال وزېږېده، په همدغه واکمن کاله کې یې د هغه وخت له شرایطو سره سمې دینې زده کړې لکه چې دود وې، سرته ورسولې، نازو په خپل عصر کې په رښتیا هم د یوه پښتون مشر د کاله روزنه په بشپړه توګه واخیسته او ځان یې په تمامه مانا په ښځینه جامه کې داسې عیار کړ، چې هم د رزم شوه او هم د بزم، داسې چې:

## نازو انا د یوې سپېڅلې پښتنې مېرمنې په توګه:

نازو د لوی حکمران سلطان ملخي توخي لور وه، کرم خان نوموړي پښتنه پېغله د خپل زوی ښالم خان لپاره وغوښته او هغه یې وکړه او د ښالم خان د کاله مېرمن شوه، هغې له خپل ناوي توبه بیا تر زړه بوډۍ توبه د خپل کاله چارې لکه د یوې رښتینې پښتنې په شان سمبال کړې، هغې په لومړي ګام کې د خپلو اولادونو په روزنه کې ډېره ښه ونډه واخیسته، دا ځکه چې دا کار په کورني چاپېریال کې د یوې مېرمنې له اساسي او



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

مهمو دندو ځخه ګڼل کېږي، نازو انا چې د دوارو خاني کورنيو د پاينبت پوښتنه ورسره وه دغه کار ته په دوه لحاظه په جدي توګه متوجه شوه. يو په دې لحاظ چې هغه په داسې چاپېريال کې اوسېده، چې د هغو ناسته ولاړه، راشه درشه دا يو ادونو د واکمنانو په سطحه وه. هغه هم د داسې ايو ادونو له واکمنانو سره چې هغو د ايران او هند په پرتمينو دربارونو کې د شان او شوکت ډمامې په هغو شپو ورځو کې ګرمې کړې وې، چې د لويد يز له پرتمه ډکه درباريان هم د هغو دربارونو جاه جلال ته ګوته په غاښ وو. نازو انا له داسې حالاتو او داسې راشه درشه سره او د هغې خسر ګنۍ او پلارګنۍ د داسې ناستو پاستو واکمن پښتانه وو. ځکه نو هغه په شعوري توګه تر هر څه لومړۍ دې ټکي ته ځير شوې وه، چې دا بايد خپل اولادونه څه ډول او څه ډول شرايطو لپاره وروزي. دا هغه اصل و، چې نازو انا يې ناچاروله، چې د يوې دراکې پښتنې په توګه بايد هغه ته ځير وي او هغه ته بايد تياری ولري.

دويمه مهمه مسئله، چې هغه د نازو انا لپاره ددې سبب شوه، چې بايد د خپلو اولادو روزنې ته ملا وتړي، هغه د هغې هغه خوب ليدل وو، چې د هغه په ترخ کې د پښتنو درانه بزرګ او منلې څېرې ښېټ نيکه دې ته هغه وخت چې ملي مشر ميرويس خان وزېږېده وويل: ((دا زوی ښه تربيت که چې لوی



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

شي، لوی کارونه به وکا او په زیارت د بیت الله به ځان مشرف کا او له نسله به یې پیدا شي بادشاهان چې دین به روښانه کا)) (۳)

همدا وجه وه، چې نازو انا خپلو اولادونو ته په اوداسه شدې ورکولې او هڅه یې کوله چې هغوی باید پر مادي شته والي برسېره داسې انسانان شي، چې په معنوي ارزښتونو یې هم خلک او د هغو فکرونه پېړۍ پېړۍ روښانه او ویاړمن وهڅول شي. نازو انا خپل مشر زوی حاجي میرخان همداسې لکه چې عصر غوښته کوله او د ښېتې نیکه معنوي سپارښتنه وه، وروزه، میرخان یې د پوهې او زده کړې لپاره وګماره: ((څنګه چې یې مور په خپله عالمه او پوهه مېرمن وه، زوی یې په شپږ کلنۍ په روزنه او تعلیم پیل وکړ په یوه کال کې یې د دین ټول فرایض پرې زده کړل...)) (۴)

نازو انا میرویس نیکه په هغو ټولو خویونو او خصلتونو پوره وروزه، لکه چې لوی خوشال، مفکر خوشال په خپل نامتو اثر ((دستار نامه)) کې د دولسم هنر (۵) تر سر لیک لاندې بیان کړی دی، کله چې مورې د دستارنامې هنر لولو بیا په دې پوهېږو چې میرویس خان هغه پښتون دی چې د خوشال خټک ایډیال روزنیز ښوونځی په منځ کې روزل شوی او راپورته شوی دی. نازو انا د کلمې په رښتینې مانا هغه پښتنه مور ده،



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې په پوره سپېڅلي احساس يې په دغه برخه کې خپله ونډه په پښتني مينه سرته رسولې ده.

## نازو انا په ملي او سياسي ځېره کې:

په دې کې شک نه شته په هغو شپو ورځو کې چې نازو انا او ددې د پلار د واکمنۍ شپې ورځې وې، هغه مهال او هغه وخت داسې وخت و، چې د افغانانو ملي غورځنګ، هغه غورځنګ چې د خپل قام تېر تاريخ، تېر برم او عظمت يې بيا را ژوندي کول، هغه د بريالیتوب پولې ته ورنږدې کېده، هغه رنګينه لاره، چې د روښان او روښانيانو د قربانيو له کربلا څخه د اکوړي په هسکو او ټيټو کې تر خوشال پورې راورسېده، هغه لاره هغه د پت او خپلواکۍ لاره بايد د پښتونخوا تر لويديزې پورې رسېدلې وای، ځکه چې د بري سر منزل يې تقدير د پښتونخوا لويديزه څنډه کړې و، د خپلواکۍ د همدغې رنګينې ناوې د هرکلي په خاطر په لوی کندهار کې نه يوازې د پښتنو زلميو هنګامې وې، بلکې په دغو ځان تېرېدونو کې د پېغلو او ښځو د قربانيو د احساس شور او فرياد د هوتکو په نارو کې بل ډول انګازې کولې، داسې انګازې چې اوس نو زموږ لوی اتل جهان پهلوان کروړ هم ورته ځوانېده او د مخسوري په دغه بريمينه سوبه کې يې د پښتنو بيرغ او چت ساته. نازو انا د همدغه غورځنګ پر تولو اړخونو باندې



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوهېده او د هغه پر وړاندې يې د قربانۍ ډګر ته توره په لاس وردانګل، د پټې خزانې دروند ليکوال محمد هوتک په دې برخه کې د نازو انا په باب کاږي چې:

((...او مېړه مخې ارتينه وه، چې نارينه يې مېړانه او شجاعت او سخاوت ته حيران وو. روايت دی چې له سقه راويانو چې سلطان ملخی د سور غره ته نژدې په جنګ کې ومړ او حاجي عادل چې د نازو انا ورور و د پلار په انتقام جنګ ته ولاړ، کلا او کور يې نازو انا ته پرېښول، په هغه وخت نازو انا توره په ملا کړه او د جنګياليو ځوانانو سره يې کور او کلا له تړاک د دښمنانو وساتل...)) (۲)

بله د يادونې وړ مسئله، چې په پښتني ټولنه کې په ملي لحاظ ځانګړی ارزښت لري، هغه د قام په منځ کې د ډوډۍ ماری او سخاوت مسئله ده، دغې مسئلې د نازو انا په څېره کې څرګند او ددې له شخصيت سره تړلي ارزښتونه ځانته غوره کړي دي. معمولاً دې ځانګړتيا د پښتنو په منځ کې تر نازو انا دمخه د شېرشاه او خوشال خان په شخصيتونو او کردارونو کې ځای نيولی دی، د شېرشاه په باب ليکل شوي چې: ((... ځانګړی لوی پخلنځی يې درلود چې په هغې کې به په زرهاوو سورو او پلو عسکرو ته خواړه پخېدل او ورکول به، په دې برخه کې داسې حکم شوی و. که سپاهي دی، که حاکم



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی او که رعیت چې وږی وي او پخلنځي ته راشي باید دلته په خوړو باندې موړ شي. چې له دې ځایه بېرته وږی لاړ نه شي، شېرخان په خپل لښکر کې د فقیرانو او مسکینانو لپاره څو لنګرونه پرانیستي وو، چې خواړه خواړه به پکې پخېدل د دغو لنګرونو ورځنی لګښت پنځه سوه اشرفۍ وو.(۷)

د نازو انا په باب هم د هغې د سخاوت او ډوډۍ مارتوب خبره په پټه خزانه کې داسې کښل شوې ده: (( ما ته خپل پلار حکایت کا چې نازو انا په مېلمستیا او د غریبانو، مسافرانو په پالنه معروفه وه او هر وخت چې په ژمي به د مسافرانو قافلې راغلې، د نازو انا پر کلایي اړول، په سوو سوو مېلمانه به یې روزل او دوی ته یې ډوډۍ ورکوله، چا چې به کالي نه درلودل. لباس یې ورکاوه او د سخاوت نوم یې له خیبره تر کوسانه خپور شوی دی )) دا چې پښتانه تراوسه هغې ته د انا خطاب کوي دا د هغې د ملي خېرې او د قربانۍ د ارزښتونو په خاطر دی، په پښتنو کې هر څوک ((بابا )) کېدی نه شي او هر څوک ((د نازو انا )) په شان له مینې او عاطفې ډک نوم نه شي ترلاسه کولای، ځکه په پښتنو کې ((بابا )) کېدل او ((انا )) کېدل د ټولو افغانانو د فتوا خبره ده.

## نازو انا یوه پښتنه ادیبه:



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نازو انا نوم او شعر دومره سره نږدې دي، چې کله د نازوانا نوم اورو تر هر څه دمخه د هغې او چت شعري استعداد او ادیبه طبعه زموږ مخې ته درېږي. نازو انا په پښتنو ښځینه شاعرانو کې هغه شاعره ده، چې له شعر څخه یې د ښکلا، ښځینه عاطفې او پښتني صمیمیت تعبیر کېږي. په پښتو ژبه کې تراوسه خورا ډېرو ښځو د شعر او شاعرۍ په برخه کې طبعه ازمویلې، له ډېرو ښځو څخه ډېر شعرونه پاتې دي، مګر په ادبي نړۍ کې یې هنګامه دومره توده نه ده. د نازو انا د شاعرۍ په باب په پټه خزانه کې راغلي دي: ((زما پلار هسې ویل: چې نازو انا علاوه پر سخاوت او شجاعت او عبادت هسې ارتینه وه، چې د خدای تعالی څخه په مناجات یې ډېر اشعار ویل او یو دیوان یې درلود، چې دوه زره بیتونه په کې و او هلته یې ښه نکات ادا کړي وو او داسې یې ویلي وو چې نارینه یې هم نه شي ویلای)) (۹).

د نازو انا څخه د شعر په برخه کې یوه څلوریځه پاتې ده، ددې لپاره چې ددغې څلوریځې په هنري ارزښت پوه شوي وو نو ښه به دا وي چې دلته یې راواخلو:

سحر ګوه د نرګس لیمه لانده
څاڅکي څاڅکي یې له سترګو څڅېده
ما ویل څه دې ښکلې ګله ولې ژاړې؟



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ده ویـل ژونـد مـې دی یـوه خولـه خند بـده.

د هنر او هنري پديدې په باب یو شمېر پوهان دا سې عقیده لري، چې هنر باید ښکلی وي او پـه عـین حال کې هنر باید د اخلاقي روزنې دنده هم پـه ټولنـه کې ترسره کړي، د نـازو انـا ځلوریځه زمور پر وړاندې یوه بشپړه ټولنیزه تـابلو ، چې تـر هـر څه دمخـه د ټـولنې د اساسي تـوک (فـرد ) برخلیـک انځـوروي ږدي، دا چې د نازو انا نور شعرونه زمـوږ پـه واک کې نـه شـته، موږ به د هغې د شعر نور ټولنیز ارزښتونه بل وخت تـه پرېږدو ، خـو دا بایـد ووایـو ، چـې د نـازو انـا څلوریځـه زمـوږ د ختیـزې شاعرۍ د انسان په ار وايي سفر کې خپله لاره په پوره او بشپړه انسـاني وړتیـا سـره ایسـتلې شـي، زه دلتـه یـو مثـال د بنګـالي نامتو شاعر او لیکوال ټاګور له ګیتا نجلي څخه را اخلم، هغـه د همدغه ((ګل)) په باب چې د یوې خولې خندا تمـه لـري وایـي:
دا کوچنیوټی غوندې ګل وشکوه، وایـي خلـه، ځنډمـه کـوه، نـه چې دا ګل مړاوی او په خاورو ولړل شي.
کېدی شي چې ستا په امېل کې بـه ورتـه ځـای پـاتې وي، خـو تـه يې د خپل لاس د مښود په درد سر لوړی کړه او ويـې شـکوه، زه بېرېږم چې زما تر خبرېدو دمخه د نذر وخت تېـر نـه شـي زه دا منم چې رنګ يې ډېر تېز نه دی، خوشبو يې کمزورې ده خو تـه د



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپل خدمت کار ځیني واخله او ویې شکوه چې دغه یې وخت دی. (۱۰)

د ټاګور په هنري کلام کې هم ((ګل)) هم هغسې انځور شوی لکه دنازو انا په څلوریځه کې، دلته هم ((ګل)) د یوه نیمه خوا برخلیک انځور دی او هلته هم، مګر په دواړو انځورونو کې د هنر ورتیا او شاعرانه نزاکتونه په لوړه شاعرانه او انساني عاطفې سره خپله اغېزه ښندي. د محتوا په لحاظ موږ دنازو انا څلوریځې ته ورته خورا زیات شعرونه او هنري ارزښتونه موندلای شو، د ختیز له نامتو شاعر علامه اقبال څخه هم یو داسې شعر پاتې دی، چې څو بیتونه یې دادي:

شبی زار نالید ابر بهار
که این زنده گی گریه پیهم است
درخشید برق سبک سیر گفت
خطا کرده یی خنده یکدم است
ندانم به گلشن کی برد این خبر
سخن هامیان گل و شبنم است

دنازو انا د شاعرۍ او ددې د شاعرانه طبعې ډېره مهمه او څرګنده ځانګړتیا او ارزښتیا داده، چې ددې د شاعرۍ اغېزې یوازې پر دې باندې پای ته ونه رسېدې، ددغې سپېڅلې شاعرې انا د شعر برکت و، چې تر دې وروسته ددې اولادونو



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

په شعوري توګه د شعر له پراخې لمنې څخه ځانونه لرې ونه ساتل، د شجاعت، سخاوت او دولت تر څنګ یې د انسان د ژوند ددغې مهمې پدیدې اهمیت هم درک کړ او د نازو انا د شعر او شعري طبعې برکت و، چې زموږ له لوی ملي اتل میرویس خان څخه هم شعرونه پاتې دي، شاه محمود د خپل بري تر څنګ په ټولو سوبو کې نامتو شاعر ریدي خان مومند له ځان سره ملګری کړی و او تر اصفهان پورې یې له ځان سره بوت، هوتکي شاه حسین هم په خپله شعر وایه او هم یې دربار له شاعرانو او لیکوالو څخه ډک و دا ښکلی شعر ده دی چې وایي:

ښېلتانــه دې د غمــو پــه چپــاو چــور کــړم
پــه تیــارو کــې د هجــران یــې لــه تــادور کــړم
ښېلتانــه دې هســې اوښــکې راخپــرې کــړې
ســتا د فکــر پــه ګــرداب کــې تــل عبــور کــړم
د فــراق پــړی مــې کښېــوت و مــری، تــه
پــه جهــان کــې یــې رســوا لکــه منصــور کــړم
پـــه وصـــال دې هـــم ناښـــاد یمـــه دلبـــرې
د ښېلتــون فکــر پــه زړه کــې ان صــبور کــړم
د بــاڼو غشــی مــې وخــوړ پــه ځیګــر کــې
غمــازانو پــه غمــو غمــزو مهجبــور کــړم



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

خلــک یــاد زمــا د عشــق پــه لېونــو کــا
زه حســـین محبــت هســـې مشـــهور کـــړم.
(پټه خزانه ۲۱مخ)

د نازو انا لور بي بي زینبه د پښتو ژبې شاعره شوه، د هغې د شاعرۍ او شعر ویلو خبره هم په پټه خزانه کې محمد هوتک لیکلې ده، د شاهنشاه شاه محمود په مرګ د هغې د غم ویرنه هغه له سوز او ګدازه ډکه ویرنه ده، چې ساری یې په پښتو ادب کې خورا لږ لیدل کېږي، دغه ویرنه د ملي ماتم یوه ناره ده، چې د زینبې له خولې راوځي:

ږغ ســو چــې ورور تېــر لــه دنیــا ســونا
کنـــــدهار واړه پـــــه ژړا ســــــونا
زړه مــې پــه ویــر کــې مبــتلا ســو نــا
چې شاه محمود له ما جلا سونا...(۱۱)

دا چې نازو انا زموږ د پښتنو ښځینه وو په منځ کې د څو بعدي شخصیت لرونکې ښځه ده، د هغې نوم، د هغې شجاعت، د هغې سخاوت او بالاخره د هغې شاعرانه احساس او تپلپاتې عاطفي دنیا زموږ له ژوند او زموږ د ژوند له تاریخ سره نه شلېدونکې اړیکې لري، د نازو انا خپلواکي او پښتني پت هغې مجسمې ته ورته دي، چې د هغې ترځنګ به افغان



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بچـی بـې لــه درنـاوي تېـر نــه شــي. هوتکیـانو د افغانــانو د واکمنۍ، فرهنګي شته والي او لوړ افغاني کلتور د استازو په توګه زموږ خلکو او هېواد ته د سر لوړۍ نوم او ویاړ ګټلی دی او دا ټول د نازو انا د سالمې او سپېڅلې روزنې ثمره ده، ځکه چې میرویس خان به د خپلو ټولو بریالیتوبونو یو سبب خپله مور بلله او ویل به یې: ((زما مور ماته د لویو کارو د انجام وصیت کړی دی زه باید زیار وباسم چې د مور وصیت پرځای کړم او له خدای(ج) څخه توفیق غواړم)) (۱۲)

## اخځونه


۱- عبدالحی حبیبي، ظهرالدین محمد بابرشاه، کابل ۱۳۵۱ل کال

۲- شېرمحمد خان تواریخ خورشید جهان لاهور، ۱۳۱۱هـ ق کال

۳- محمد بن داود هوتک، پټه خزانه، کابل ښلورم چاپ ۱۳۵۲ل کال، (۱۰۲) مخ

۴- حاجي امان الله هوتک، د خپلواکۍ لمر ځرک، پېښور، ۱۳۶۸ل کال.

۵- خوشحال خان ختک، دستارنامه، کابل، ۱۳۴۵ل کال (۲۵) مخ.




Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۶- محمد هوتک، پټه خزانه (۱۰۱) مخ
۷- عباس سروانی، شېرشاهي تاريخ، کابل، ۱۳۵۴ل کال (۲۷۲مخ.
۸- پټه خزانه، ثلورم چاپ (۱۰۲)مخ.
۹- همدغه اثر (۱۰۳) مخ
۱۰- رابندرانات ټاګور، ګیتانجلی، د بېنوا ژباړه، کابل ۱۳۵۴ل کال (۲)مخ.
۱۱- پټه خزانه (۱۰۸) مخ
۱۲- حاجي امان الله هوتک، د خپلواکۍ لمر څرک، پېښور، ۱۳۶۸ل کال، (۲۲) مخ.



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

نصر الله (حافظ)

# مخمس

څــوک زمــا د زړه پــه خــوړ څــه پوهېــده
چــې جانــان زمــا لــه خــوا نــه بېلېــده
را پــــه برخــــه شــــول د عمــــر کړېــــده
پــه نصــیب مــې بېلتانــه کــړه ســوزېده
رود د اوښــکو مــې ګرېــوان کــې بهېــده.

✵ ✵ ✵

نـــه یـــې ومنـــل زمـــا زاري عذرونـــه
پـــه ژړا مـــې کـــړه کانـــه اشـــنا غوږونـــه
کـــه مـــې لاړل تـــر اســـمانه فریادونـــه
ســـتورو ووهـــل زمـــا پـــه غـــم مخونـــه
خـــو د یـــار غـــوږ تـــه مـــې غـــږ نـــه رســـېده.

✵ ✵ ✵

د ســـره اور لمبـــه زمـــا پـــه زړه شـــوه بلـــه
شـــنه ډډوزه مـــې د دود تلـــه لـــه ګوګلـــه
ســـوزېدم پـــه دغـــه اور لکـــه خځلـــه
د فـــراق چغـــه زمـــا لـــه خـــولې وتلـــه



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

چـــې پـــه ســـرو ســـترګو جانـــان رخصـــتېده.

❋ ❋ ❋

پـه زړه سـخت پـه هـېڅ رنـګ نـه شـو مهربانـه
پـــه دې خپلـــه جفـــا هـــېڅ نـــه شـــو ســـتومانه
هـــی توبـــه شـــه لـــه دې هســـې مســـلمانه
چـــې د غـــم پېښـــی وا نـــه خلـــي لـــه انســـانه
مـــــــا ژړل ورتـــــــه او دی روانېـــــــــده.

❋ ❋ ❋

کـور مـې وران مـال مـې تـالا ژونـد مـې تبـا شـو
چـــې د عمـــر وفـــادار مـــې بـــې وفـــا شـــو
د ګـــونګې ټپـــوس وزر راتـــه همـــا شـــو
هغـــه څـــه چـــې چـــا ویلـــي وو رښـــتیا شـــو
دا چـــې یـــم د غـــم پـــه نـــم لیمـــه لامـــده.

❋ ❋ ❋

نـــه پـــوهېږم چـــې مـــړ نـــه شـــوم څـــه بـــلا یـــم
چـــې ګـــل لاړه زه ژونـــدی پـــه دنیـــا پـــایم
د هغـــه ســـاعت لـــه خـــوږه بـــه څـــه وایـــم
پوښـــتې څـــه چـــې ولـــې هســـې نیمـــه خـــوا یـــم
د غـــــم غـــــر زمـــــا پـــــه ســـــرو نړېـــــده

❋ ❋ ❋

لاهـــو شـــوی د غمونـــو پـــه دریـــاب یـــم



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بـــې بنيـــاد او بـــې بقـــا لکـــه حبـــاب يـــم
د فـــراق د ســـرو لمبـــو پـــه ســـر کبـــاب يـــم
يـــم ژونـــدی کنـــه د مـــړو پـــه حســـاب يـــم
دي هېـــر کـــړي مـــې د عمـــر خند بـــده.

❋ ❋ ❋

پـاس اسـمان او لانـدې ځمکـه راتـه اور شـوه
رابيـــداره شـــاوخوا زمـــا پـــه شـــور شـــوه
چـې مـې چغـه د ببلتـون د زړه پـه کـور شـوه
د کـور شـپه مـې لـه ناکامـه نـن پـه ګـور شـوه
ځـــومره ســـخت دی لـــه ژوندونـــه تېربـــده.

❋ ❋ ❋

دواړه سـترګې مـې لمـدې ښـکارې پـه اوښـکو
ځـای پـر ځـای پـه کـې تغمـې ښـکارې د اوښـکو
پـه ګرېـوان مـې هـم ولـې ښـکارې د اوښـکو
پـه ژبـړ مـخ مـې سلسـلې ښـکارې د اوښـکو
کـــانې هـــم راســـره ســـم وژړېـــده.

❋ ❋ ❋

د هجـــران څپـــو اخيســـتی يـــم ډوبېـــږم
لاس وهـــم پښـــې وهـــم کلـــه خلاصـــېږم
وارو پـــار مـــې خطـــا شـــوي دي پـــوهېږم



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې له دې بلا مې نه شته خلاصېده.

❋ ❋ ❋

لېونی لکه مجنون ګرځم له غمه
یم لوېدلی مینې ستا له جوش و جمه
په اور و سوزې زما نصیبه کمه
چې یوه شېبه مې جوړه نه شوه دمه
په شپه ورځ مې شو په دښتو ګرځېده.

❋ ❋ ❋

چې رسوا یې راز زما د یارانې کړ
رادوځار یې نوی غم د زمانې کړ
رانه بېل یې ګران زما د پیمانې کړ
زما نوم یې سر د هرې افسانې کړ
رقیب خپله په دې کار و شرمېده.

❋ ❋ ❋

نا ارام چې د یارې په رنګ ته ښورم
د فراق دا اوږد مزل په مخکې ګورم
دین دنیا د یار د مخ په بها پلورم
بې له مینې هر چې وایې هغه اورم
په سکروټو مې ده ناسته پاڅېده.

❋ ❋ ❋



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

راته یاد چې هغه ناز هغه مکېز شي
په هغه دم مې برباد واړه پرهېز شي
که یې ورک رانه د عشق دست اویز شي
د غرور بب به مې مات او ریز مریز شي
چاته پېښ مه شه په عشق کې ماتېده.

❋ ❋ ❋

لاس مې څه نیسې طبیبه نه رغېږم
هر قدم د نیستۍ خواته نږدې کېږم
ستا دارو مې په کار نه دي نه جوړېږم
زه د خپل زړه په مرض باندې پوهېږم
چې له دې رنځه مې نه شته رغېده.

❋ ❋ ❋

خدایه ! کور د غماز وران کړې مخ یې تورکړې
د دوزخ له اوره ډک یې ورته ګور کړې
پرې نازله له اسمانه هسې اور کړې
لولپه یې په دې اور کې د زړه کور کړې
چې زما پر حال هېڅ ونه رحمېده.

❋ ❋ ❋

د ځوانۍ د بڼ ګلان مې شول خزلې
د پیري خزان پرې کېښودې منګولې



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

نــه بــورا ورتــه راځــي او نــه بلبلــې
نــه پــرې وايــي اوس خــوږې خــوږې بــدلې
نــه پــرې شــته دي د توتيــانو چغېــده.

✵ ✵ ✵

ای دنيــا دا مــې ژونــدون دا مــې انجــام دی
د ســاقي پــه لاس کــې تــش د ميــو جــام دی
دا لــه کــومې خــوا پــه مــا راځــي الهــام دی
دا چــې خــوږ دی د نــازو انــا کــلام دی
چــې د خيــال پــه غــوږ زمــا ولګېــده
ســحرګه و د نــرګس لېمــه لامــده
ځــاځکي ځــاځکي يــې لــه سترګو ځځېــده
مــا وې څــه دي ښــکلی ګلــه ولــې ژاړې
ده وې ژونــدې مــې دی يــوه خولــه خندېــده.

۷/۷/۱۳۷۰ راديو



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

اکاډمیسین پوهاند عبدالشکور رشاد

# د یونس د یوې معما حل

د دولسمې هجري سدۍ په لومړۍ نیمایي کې د پښتو ژبې یو شاعر و، محمد یونس نومېده، دېوان یې درلود، دده د دېوان یوه خورا نفیسه او طلا کاره خطي نسخه د افغانستان د پایتخت (کابل) د پاچاهۍ ارګ په کتابتون کې خوندي وه، دا نسخه د فیض طلب خان اشنغري[1] په پرمایښت پېښوري خطاط زین الدین[2] په ۱۱۷۶هـ ق کال کښلې وه.[3] د دغې

---

(۱) د اشنغر د سیمې لوی خان فیض طلب خان محمد زي (د تاریخ احمد شاهي محمود زي) د عبدالصمد خان (۱۱۷۴ هـ ق شهید) درانی احمد شاه (۴۱۹مخ) کې فیض تالاب خان چاپ سویدی، د سمون وړ املایي تېروتنه ده، فیض طلب خان د پلار تر مرګ (۱۱۷۴هـ ق) وروسته، د لوی احمد شاه بابا(رح) (۱۱۲۰- ۱۱۸۲هـ ق) له خوا د اشنغر د خان په توګه ومانه سو، د تیمورشاه سدوزي د پاچاهۍ (۱۱۸۲- ۱۲۰۷ هـ ق) تر وروستیو کلو پورې د اشنغر خاني دده وه، په پښتانه شعرا (۱- ۲۰۲ مخ کې فیض طلب خان توپچي باشي لیکل شوی سهي خبره نه ده، فیض طلب خان توپچي باشي (د پښتني شاعرۍ د دراني عایشې ځوانیمرګ زوی د یونس ددغه دیوان تر امتنساخ شپږ ویشت کاله وروسته (په ۱۲۰۲هـ ق) په کابل کې زېږېدلی دی.

(۲) د دولسمې هجري سدۍ په دوهمه نیمایي کې زین الدین د پېښور له نامتو خطاطانو څخه و، د پېښور د پښتو اکاډمۍ په کتابتون کې د سکندر خان خټک دېوان او د ټونک د پښتنو نوابانو په کتابخانه (اوس د ډهلي په موزیم) کې د ملا علم اپریدي دېوان دده په خط خوندي دی.

[۳] د یونس د دیوان دغه نفیسه خطي نسخه اوس د افغانستان په ملي ارشیف کې ساتله کېږي. (و ګ. فهرست نسخ خطي پشتو ارشیف ملی افغانستان ۱۱۱ګڼه ۷۵مخ)



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

نسخې له مخې څخه د یونس د دیوان په **۱۳۵۶**ل (۱۹۷۷ع) کال د پښتو ټولنې له خوا د کابل په دولتي چاپخانه کې چاپ شوی دی، خطاط یې نصیر هنر پښتون دی، سریزه او حاشیه ښاغلي څېړندوی (سرمحقق) عبدالله خدمتګار بختاني پرې لیکلې ده او دده په قول یې له خپله انده سره د متن ځینې تېروتنې هم سمې کړي او سهي کړې دي[۴] ښاغلی څېړندوی خدمتګار په سریزه کې دا هم لیکلي دي:

(( (په اصل کې) د علت د تورو هېڅ مراعات نه دی سوی ناسخ کله لیکلي دي کله نه، مونږ د لیک دغه برخه هم د چاپي نسخې لپاره سمه کړې ده. )) [۵]

د یونس د دغه چاپي دیوان په دولسم مخ کې د شپاړسمې غزلې مقطع داسې چاپ شوې ده:

(( چه سل شپږ پنځوس و دوه اویا دوه نام که
هغه یوه ګنه یونسه په ابجد ستا ))

دا بیت یوه معما ده او له معموله سره سم هېڅ ناسخ حق نه لري چې په معما کې لاس ووهي او د خپل وخت له لیک دود سره یې سمه کړي، خو ما باور نه درلود چې دغه معما به د یونس په چاپي دیوان کې له لاس وهلو خوندي پاته سوې وي،

[۴] و ګ. د یونس د دیوان سریزه دېرشم مخ.
[۵] و ګورئ د یونس د دیوان سریزه یودېرشم مخ.



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځکه مې نو د یونس د دېوان خطي نسخه وکتله، هلته چې دا بیت د شپاړسم مخ درېیم بیت دی، ما ولید، چې د چاپي نسخې ((دوه)) ((دوه)) کلمو پرځای په دغه خطي نسخه کې ((دو)) ((دو)) لیکلي دي، زما په خیال د بیت په لومړي نیم بیتي کې د دوهم ((دو)) تحریف د معما حل ته څه کړکېچ هم ورپېښ کړی دی.

د یونس په دېوان کې نورې معماوې هم شته، د دغو معماوو حل ته تر ټولو دمخه د څمکنو میامحمدي صاحبزاده رحمة الله علیه (۱۲۲۰ هـ ق مړ) ځیر سوی او د ځینو معماوو حل ته یې وخت موندلی دی، خو زموږ تر بحث لاندې معما په هغو معماوو کې ده، چې نوموړی میامحمدي صاحبزاده (رح) نه ده حل کړې او د یونس د چاپي دېوان حاشیه لیکونکی ښاغلی څېړندوی خدمتګار د دولسم مخ په پنځمه حاشیه کې د دغې معما د پرانیستلو په باب داسې کښلي دي:

((دا بیت هم د یونس په نامه معما ده[٢] او په دې توګه حلېږي: که یو سل و شپږ پنځوس له دو اویا سره یوځای کړو، نو دوه سوه اته ویشت ترې راوځي، که د ابجد کلمې توری (اب ج د) د ابجد په حساب وګڼو لس ترې جوړېږي، چې دا لس په

[٢] د یونس د نامه یوه بله معما تر دغې وړاندې (د چاپي دېوان په لسم مخ کې) تېره سوې ده.



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

پورتني عدد واچوو دوه سوه اته دېرش کېږي، د یونس د کلمې توری (ی و ن س) د ابجد په حساب یو سل و شپږ ویشت کېږي چې دوه ځلې یې وګڼو نو هماغه دوه سوه اته دېرش تری جوړېږي، یعنې:

۱۵۲+۷۲+۱۰= ۲۳۸ تقسیم (۲) = ۱۲۶= ((یونس))

زما خیال دادی، چې د ښاغلي څېړندوی خدمتګار د فکر نوکانو د یونس ددغې معما غوټه ښه نه ده سپړلې، دده په حل کې یوه کمزوري او یوه تېروتنه سته، کمزوري یې داده چې د تاریخي مادې د عددونو (۱۵۲+۷۲) پر مجموعه (۲۲۸) باندې چې یې د ابجد کلمې ابجدي ارزښت یعنې لس زیات کړی دی، د هغه لپاره هېڅ قرینه نه شته او نه ده ښوولې ده، تېروتنه یې داده چې د دوه سوه اتو دېرشو نیمایي یو سل و شپږ ویشت نه کېږي، بلکې یو سل و نولس کېږي یا په بل عبارت د یونس د نامه ابجدي ارزښت، چې یو سل و شپږ ویشت کېږي که دوه چنده کړو، دوه سوه دو پنځوس ځنې جوړېږي، مګر د تاریخي مادې لپاره د ښاغلي څېړندوی خدمتګار تکمیلي عدد دوه سوه اته دېرش دی[7] چې تر دوو سوو دوه پنځوسو څوارلس کمېږي او محتاج الیه عدنه پوره کوي. د یوه پېښوري لیکوال

[7] د معما د حل په عملیو کې یو عمل تکمیلي نومېږي، د تکمیلي عمل یو راز دادی چې تاریخي ماده د څو کلمو یا څو عددونو له یوځای کولو څخه لاسته راشي.



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښاغلي قلندرخان مومند هم دغې تېروتنې ته پام شوی او په یوه مقاله کې یې چې د یونس د دېوان شهادت یې عنوان دی ددغې معما د پورتني حل تېروتنه داسې په ګوته کړې ده:

((دا حساب په دې لحاظ ښخي غلط دی، چې د یونس د نامه[۸] عدد چې دوه ځلې وشمارلی شي نو دوه سوه دوو پنځوس ترې جوړېږي او چې د شعر دوه سوه اته د برش په دوو وویشلی شي نو یو سل و نولس کېږي.))[۹] ددې تېروتنې د ښوولو په څنګ کې ښاغلی قلندر خان مومند د معما هغه حل هم وړاندې کوي، چې ده را ایستلی او په خپل خیال یې سهي ګڼلی دی، په دغه باب د نوموړي لیکنه داسې ده:

((په دې شعر[۱۰] کې د یونس د اب (پلار) او جد (نیکه) د نومونو عدد ښیلی شوي دي[۱۱] که د ترتیب په رعایت سل شپږ پنځوس د هغه د پلار نوم دی نو دوه اویا یې د نیکه نوم دی او که د شعر وزن له کبله ترتیب ساقط شوی وي، نو بیا دو اویا یې د پلار او سل شپږ پنځوس یې د نیکه نوم دی...

---

[۸] په اصل کې: نوم

[۹] ددغه اقتباس په وروستۍ جمله کې چې د شعر کلمه راغلې ده، له هغه څخه د قلندرخان مراد د ښاغلي څېړندوی خدمتګار تکمیلي عدد دی.

[۱۰] له شعره څخه د قلندر خان مراد زموږ تر بحث لاندې بیت او معما ده.

[۱۱] ښاغلی قلندرخان د خپل فکر په چاره ابجد کلمه پر منځ دوه ځایه کړې ده له ((اب)) څخه یې د پلار او ((جد)) څخه یې د نیکه معنا اخیستې ده، اب او جد دواړې عربي کلمې دي چې د پلار ونیکه معناوې لري.



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

د شعر مضمون کې ((دوه نام)) هم په دې دلالت کوي، چې يو سل و شپږ پنځوس او دوه اويا دوه نومونه دي، (اوس نو څېړنه په کار ده چې) دا يو سل شپږ پنځوس او دوه اويا د چا نومونه دي؟ هسې خو ددې عددونو ځينې ډېرې نامې جوړېدی شي خو هر کله چې د ديوان په حاشيه د معمو حل د محمدي په دستخط شوی دی، نو په کار دي، چې ددې عدد اولني تعلق ((محمدي)) سره فرض کړی شي او په دې لحاظ چې موږ حساب وکړو، نو محمدي جان ټيک يو سل و شپږ پنځوس راووځي او دا هم حسن اتفاق دی، چې د احمد جيو اعداد دوه او يا دي له دې نومونو سره د جان او جيو لاحقې دا څرګندوي چې احمد جيو مشر او محمدي جان کشر دی، نو په دې حساب احمد جيو د يونس نيکه او محمدي جان د هغه د پلار نوم کېدی شي او که د دوه او يا نه مطلب يو سل و ځلوېښت واخيستی شي نو سل شپږ پنځوس نه يوسف او سل و ځلوېښت نه يسع راوتی شي[۱۲] چې د يونس په شان د هغو نبيانو نومونه دي چې قران کريم کې يې ذکر راغلی دی.))

زموږ تر بحث لاندې معما چې ښاغلي قلندرخان پر دوو برخو وېشلې او د يونس شاعر د پلار و نيکه نومونه يې ترې

[۱۲] د پښتو په نومونو کې ((يسع)) ما تراوسه پورې نه دی اورېدلی، ښايي د پېښور په سيمو کې داسې نوم وي. (؟)



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

زېږولـي دي، ماتــه د بيـا غــور وړ ښــكاري، زه ګومـان كـوم د ((نام)) په كلمه كې چې كومه توريه سته، هغې د ښاغلي قلندر خان فكر له لارې ايستلې او د ((نام)) غير مقصودي مګر نژدې معنا ته يې متوجه كړی دی، وړاندې تر هغه چې د دغې معما په باب زما حل، د مقالې ګرانو لوستونكو ته وړاندې كړم لازمه بولم د ((نام)) كلمې پر توريه او ايهام وغږېږم ځكه چې زما په حل كې د دغې تورې لويه برخه شته:

نام كلمه د عربي ((اسم)) پـه معنـا پـه خـورا جـزوي بـدلون پـه ډېرو اندو اروپايي ژبو كې باب ده، حتى په جاپاني ژبه كې هم name د نامه معنـا لـري، زمـا پـه خيـال پـه دغـه تـر بحث لاندې معما كې د نام كلمې دغه معنا غير مقصوده معنا ده.

((نام)) (د ميم په زور) په عربي ژبه كې د ((بيـده سو)) معنـا لري په عربو كې متل دی: نام عصام ساعة الرحيل. يعنې عصا د كوچ په وخت كې بيده شوه [۱۳] عربـان خوب تـه نـوم وايي، د نوم بله معنا بيده كېدل دي چې ((غشـی)) يې هم بولي، نائمه مرګ ته هم ويل كېږي[۱۴] عربان وايي نومت النـار يعنې اورمـړ شـو، نومـت الابـل: اوښ مـړ شـو، نومـت الـريح: بـاد ودرېـدی،

(۱۳) وګ. فوائد الاداب فی الامثال والاقوال السائرة عندالعرب او مجمع الامثال (د ابوالفضل ميداني تاليف.

(۱۴) په عربو كې متل دی: النوم اخ الموت (وګ. خزينة الامثال) پـه دغـه متـل كې نوم (خوب) مشبه او قوت (مرګ) مشبه دی.



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

(نومه) او (نوم) د گمنام او بې اعتباره سړي معنا لري، نام الثوب: جامه زړه شوه، نامت السوق: د پلاني شي بازار ولوېدی ارزانه شو، څوک يې نه رانيسي د نوم کلمې د غه وروستي معنا ګانې مجازي دي[۱۵].

زما په خيال په دغه تربحث لاندې معما کې د نام کلمې د عربي معنا مجازي اړخ مقصوده ده خو دا معنا يې دومره لرې پرته ده چې د ډېرو ادبي څېړونکو له سترګو يې ځان نهام کړی دی او بې له ډېره تتبعه چاته اسانه په لاس نه ورځي.

د يونس ددغې معما حل زما په خيال داسې دی: تاريخي ماده يوازې په لومړي نيم بيتي کې ده، دوهم نيم بيتی په تاريخي ماده هېڅ اړه نه لري.

د لومړي نيم بيتي سل شپږ پنځوس او دواو يا چې سره يوځای کړو دوه سوه اته ويشت لاسته راځي، (دمرګ، ګمنامی، بې اعتباری، نام قرينه ده، چې په عربي کې مجازا ارزاني، کوټه کېدلو (کساد) معناوې لري او دلته د نفی، ايسته کولو، له منځه وړلو او له اعتباره لوېدلو حکم کوي موږ به ددغه حکم (دونام که) په اغېزه د ((دو کلمې يونس

(۱۵) وګ مختر الصحاح، صرائح، منتهی الارب فی لغات العرب، المنجد، لاروس المعجم ۱۳۲مخ القاموس العصری ۷۴۴مخ او نور...



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ابجدي ارزښت چې لس دی، له دوو سوو اتوويشتو څخه وباسو دوه سوه اتلس به پاتې شي[۱۲] او د **محمد** ابجدي ارزښت چې لس دی، لاس ته راسي، د **معما** د **حل** صورت به په اعدادو داسې وي:

**۱۵۲**+**۷۲**= **۲۲۸**- (دو=۱۰) = (**۲۱۸**= **محمد** يونس). په پای کې د دغې **معما** د **حل** په باب، د پښتو ادب د ښاغلو څېړونکو نظرونو لار څارم، په درناوي.

(۱۲) دغې عمليې ته تخرجه ويله کېږي، د يونس د نامه په دوو نورو معماوو کې هم د تخرجې له عمليې څخه کار اخيستل شوی دی. (وگ. د يونس د چاپي ديوان ۱۰-۱۸۸مخونه.



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

کاندید اکاډمیسین محمد رحیم الهام

# محمد هوتک او محمد یو شاعر دی که بېل کسان دي؟

سرمحقق زلمی هېوادمل د لیننګراد د ختیځ پوهنې د انستیتیوت په خطي کتابونو کې د فوایدا شریعت د یوې خطي نسخې په پای کې د ((محمد)) په نامه د یوه شاعر یوه غزله موندلې ده.[1] ده دا غزله ((د پښتو ادبي تاریخ خطي منابع)) په رساله کې رانقل کړې او ویلې یې دي، چې ښایي دغه ((محمد)) د ((پټې خزانې)) مولف ((محمد هوتک)) وي چې دغه یوه غزله یې په دې نسخه کې نقل او خوندي شوې ده. هېواد مل دغه غزله له هغې غزلې سره پرتله کړې ده، چې محمد هوتک د پټې خزانې په پای کې د خپل شعر د نمونې په توګه راوړې ده او دې نتیجې ته رسېدلی دی، چې د فوایدا شریعت د قلمي نسخې غزله چې دده د کتاب ((د پنځمې برخې یوولسمه نمره غزله ده، له محمد هوتک څخه پرته د بل شاعر

(۱) زلمی هېوادمل، د پښتو ادبي تاریخ خطي منابع، د افغانستان د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبیاتو مرکز، پښتو ټولنه، ۱۳۶۲، ۱۴۹-۱۲۴مخونه.



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه شي کېدی.))[۲] خو سره له دې هم، ښاغلی هېوادمل چې يو دقيق او ځيرک سرمحقق دی، غواړي چې دغه مساله نوره هم وسپړله شي چې مبادا ده په خپل دغه قضاوت کې اشتباه کړې وي. نو له مانه يې هم وغوښتل چې خپله رايه په دې باب کې څرګنده کړم، چې که دی په خپل قضاوت کې تېروتلی وي خپله سهوه اصلاح کړي. ما د سرمحقق هېوادمل دا غوښتنه ومنله او دا دی هڅه کوم چې که وکولای شم د پرتليزې سبک پوهنې د اصولو په رڼا کې دغه مساله وڅېړم.

سوال:

ايا هغه غزله چې هېوادمل په لېننګراد کې د فوايدا شريعت په خطي نسخه کې موندلې ده د پټې خزانې د مولف محمد هوتک ده که د کوم بل محمد چې لاتراوسه پېژندلی شوی نه دی؟

دې سوال ته د يو تقريبي سم ځواب د موندلو لپاره لومړی د هغه ميتود چوکاټونه راوړم چې دلته يې تطبيقول غواړم.

د ځينو پوهانو په عقيده، د سبک پوهنې ساحه پر نهو برخو باندې په دې ډول وېشله کېږي:

۱- سيمه ييز واحد سبک

---

[۲] زلمی هېوادمل، د پښتو ادبي تاريخ خطي منابع، د افغانستان د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبياتو مرکز، پښتو ټولنه، ۱۳۶۲ل کال، ۱۴۹-۱۲۴مخونه.



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲- ملي سبک
۳- په يوه دوره کې د يو ملت د سبک شريکې ځانګړتياوې
۴- د يو دريځ، مکتب يا نهضت سبک
۵- د يو ليکوال فردي سبک
۶- د يو ليکوال فردي سبک د ليکوالۍ په يوه خاصه دوره کې.
۷- د يو اثر سبک
۸- د يو اثر د يوې برخې سبک
۹- د يو عصر سبک چې پر ټولو يادشوو هنري پوړيو باندې اغېزه کوي.

ددغه دوو غزلونو په برخه کې د دوو فرضيو د اقامې امکان شته:

لومړۍ فرضيه: دا دوې غزلې به د دوو تنو وي.
دويمه فرضيه: دا دوې غزلې به د يوه شاعر وي.

د دواړو فرضيو د ازمويلو لپاره له عين ميتود نه کار اخيستلای شو. زموږ لومړۍ هڅه به دا وي چې په پاسنيو نه ګونو ساحو کې هغه چوکاټ پيدا کړو، چې دغه دوې غزلې د قرينې، منطق او کميت له مخې په کې واچولای شو. پاتې دې نه وي، چې د يوې علمي فرضيې د سموالي او ناسموالي د ثابتولو لپاره د data کميت ډېر اهميت لري.



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

یعني هر څومره چې data زیات وي، همغومره د څېړنې نتیجه ډاډمنه وي. خو له بده مرغه data ډېر کم دی، یعني صرف له دوو لنډو غزلونو څخه د سبکي عناصرو او د دغو عناصرو د جوړښت د کلیت پشانتیا او بېلوالی په یقیني توګه نه شو معلومولای.

خو موږ به خپله هڅه ونه سپموو.

اوس خپله data را نقلوو: د محمد هوتک غزل:

ساقي، پاڅه، د سرو ملو ډک یو جام را
ستا له غمه نا ارامه یم، ارام را
بې له میوو د سهار ننداري څه کړم؟
پسرلی شو، د خوښۍ ښه پیغام را
دنیا پاته ده، ښادي مو یو ګړۍ ده
یو ګړۍ مې خوښ که، مې کړی انعام را
د بېلتون په تاریکو کې مې زړه شین شو
رڼا لمر د جام د میوو په ظلام را
ناکامیو د دنیا مې کام راتریخ کا
چې مې خوږ کا کام، ترخه و مانا کام را
نه نشاط شته، نه مستي سته، نه رندي سته
چې سم رند هغه او به علی الدوام را



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

پــه اوبــو مــې ســوړ زړګــی لــړ ځــه راتــود کــه
محمـــد تـــه د اوړ ډک یـــو هســـې جـــام را.

د محمد غزل:

نــه کــړې پــه هېچــا بانــدې صــرفه هجرانــه، تــه
یــار دې لــه مــا بېــل کــړ مــا پــه دوه ســترګو کاتــه
دا ترابــه مــا نــه ول چــې بــه یــار لــه مــا جــدا کــا
ځکــه مــې پــه ځیــر د یــار و مــخ وتــه کاتــه
مــه وایــه خنــدان ګــل دې بېــل کــړی لــه بوســتانه
ولاړه پــــه ارمــــان بلبــــل لــــه ګلــــو الواتــــه
تــور بانــه دې غشــي نــاوکي کــړه مــا پــه وژنــې
ولــې صــرفه نــه کــړې، تــر زړګــي مــې وخاتــه
نجونــه زلمــي واړه تــورو خــاورو لــره درومــي
تـــور اوبـــل و ځنـــې و لحـــد تـــه پرېواتـــه
ولاړه د ... کـــــــړه ولاړه نـــــــه ســـــــتنېږي
یـــار یـــې ځنـــې بېـــل کـــړئ محمـــد یـــې وناتـــه

اوس، راشئ وګورو چې خپله data پـه کومـو چوکاټونو کې ازمویلای شو:



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱- سیمه ییز واحد سبک: زموږ data په دې چوکاټ کې ځېرل کېدی شي.
۲- ملي سبک: په دې چوکاټ کې ځېرل کېدی نه شي.
۳- په یوه دوره کې د یو ملت د سبک شریک خصوصیتونه: په دې چوکاټ کې هم ځېرل کېدی نه شي.
۴- د یو دریځ، مکتب، یا نهضت سبک: په دې چوکاټ کې هم نه شي ځېرل کېدی.
۵- د یو لیکوال فردي سبک: په دې چوکاټ کې ځېرل کېدی شي.
۶- د یو لیکوال فردي سبک د لیکوالۍ په یوه خاصه دوره کې: په دې چوکاټ کې نه شي ځېرل کېدی.
۷- د یو اثر سبک: په دې چوکاټ کې هره غزله لومړی جلا ځېرل کېدلای او بیا دوارہ سره پرتله کېدی شي.
۸- د یو اثر د یوې برخې سبک: په دې چوکاټ کې نه شي ځېرل کېدی.
۹- د یو عصر سبک چې پر ټولو یاد شوو هنري مرحلو باندې اغېزه کوي. په دې چوکاټ کې هم ځېرل کېدی نه شي.

**لومړی:**

د سیمه ییز واحد سبک په چوکاټ کې.



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوا ړه غزلې د ژبنيز جوړښت له مخې په لهجوي لحاظ پـه دې لاندینیو پوړیو کې تحلیل او پرتله کوو:

۱- فونو لوژيک جوړښت.

۲- لګزيک جوړښت

۳- مورفولوژيک جوړښت

۴- سنيتا کتيک جوړښت

موږ پوهېږو ، چې د محمد هوتک لهجه د کندهار داده، چې په خپله د پټې خزانې د نثر متن يې ثابتوي.

## الف- فونولوژيکه پرتله:

د پښتو پـه ګرافيمي سيسـتم کې ددې ژبې ټولې فـونتيکي ځانګړتياوې نه شي منعکسېدی. په غزله کې ، سره لـه دې هم، د پټې خزانـې د قلمـي نسـخې د ليـک دود لـه مخې يـوازې يـوه کندهاري ځانګړنه موندلای شو:

((پسرل سو ، زړه شين سو ، نه نشاط سته، نه مستي سته، نـه رندی سته، چې سم رند.))

د کندهار په لهجـه کې د ((سـول)) د مـادي ټـول مشـتقات پـه (س) ويل کېږي او دغه فونيم په همدې کلمه کې د نـورو لهجـو له (ش) سره تقابل لري:

| کندهار | نورې لهجې |
| --- | --- |
| سوم | شوم |



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| سوو | شوو |
| سوی | شوی |
| سواست | شوئ |
| سو | شو |
| سول | شول |

خو د محمد په غزله کې د کندهار د لهجې د فونیمیک جوړښت بېلګې نه شته.

## ب- لګزیکه پرتله:

د محمد هوتک په غزله کې د کندهار د لهجې خاص لګزیکي عناصر نه لیدل کېږي. خو د محمد د غزلې د دویم بیت په لومړۍ مصرع کې د ((ترا)) کلمه او د ((مانه ول)) جمله چې د نورو لهجو له ((ما نه ویل)) سره تقابل لري، د کندهار د لهجې ځرګندې لګزیکې بېلګې دي. همدغسې د محمد د غزلې په مقطع کې چې وایي:

یار یې ځنې بېل کړئ محمد یې وناته

د کندهار د لهجې دوې نورې بېلګې شته دي: ((کړئ)) او ((ناته)).

په کندهار کې د ((کړئ- کی)) شکل (چې مورفولوژیک خصلت هم دی) د واحد غایب د صیغې لپاره د نورو لهجو له



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

((کړ- که)) سره تقابل لري او ((ناته)) د ((نتل)) له مادې څخه ما په خپله په نورو لهجو کې نه دی اوربدلی او زما له پوهې سره سم دغه شکل هم د کندهار د لهجې ممیزه ګڼل کېدی شي.

## ج- مورفولوژيکه پرتله:

د محمد هوتک په غزله کې د ((کا)) او ((را)) شکلونه د ((کړ)) او ((راکړه –راکه)) په ځای؛ ((پاته ده)) د ((پاتې ده))؛ ((دبېلتون په تاريکو کې)) د ((بېلتانه په تاريکيو کې)) په ځای ((کاته، الواته، وخاته، پربواته، وناته)) د ((کوت، الوت، وخوت، پربووت، وکوت (چې مانه دی اوربدلی) په ځای او ((وما ناکام را)) د ((ما ناکام ته راکه)) په ځای ټول د کندهار د لهجې مورفولوژيک ممیزات څرګندوي. په دې غزله کې ((کا)) او ((کړ)) دواړه راغلي دي. په همدې توګه ((نجونه زلمي واړه)) باید د نورو لهجو په شان ((نجونې زلمي واړه)) وي.

نو د مورفولوژيک جوړښت له مخې د محمد شعر د کندهار د لهجې خورا زيات ممیزات لري.

## د- سنتاکتیکه پرتله:

د محمد هوتک په غزله کې ((يو ګړی دی)) د ((يوه ګړۍ ده)) په ځای؛ او بله پلا ((يو ګړی)) د ((يوه ګړۍ)) په ځای؛ ((رڼا لمر)) د روڼ لمر)) په ځای، ((ناکاميو ددنيا)) د ((دنيا



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دناکامیو)) په ځای (چې په پټه خزانه کې ډېر زیات راغلي دي) کاروني د کندهار د لهجې او د محمد هوتک د سبک له ممیزاتو څخه دي.

د محمد په غزله کې ((په دوه سترګو)) د ((په دوو سترګو)) په ځای؛ ((د یار ومخ وته)) د ((د یار مخ ته) په ځای ((یار له ما جدا کا)) د ((یار له مانه (څخه شکه))) په ځای او ((ولحد ته)) د ((لحد ته)) په ځای کاروني د کندهار د لهجې د عباراتو د جوړوني ممیزې دي.

له دې پرتلې څخه دا نتیجه لاس ته راځي چې: د محمد په غزله کې د کندهار د لهجې فونولوژیک عنصر نه شته، مګر د لګزیک، مورفولوژیک او سنتاکتیک جوړښتونو او عناصرو له مخې د سیمه ییز واحد سبک دومره کافي ځانګړني لري چې په پوره یقین سره وواېو: محمد د محمد هوتک په شان کندهاري لهجه لرله او نو ځکه کندهاري دی.

## دویم: د فردي سبک په چوکاټ کې

**الف- شکلي جوړښت:** په متعارفه معنا دواړه ټوټې غزلې دي. د محمد هوتک غزله ((۷)) بیته او د محمد دا ((۶)) لري او وزن له مخې د عبدالحمید مومند د هغې غزلې غبرګون دی چې داسې شروع کېږي:

الهي د محبت سوز و ګذار را



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

پە دې اور کې د سهي سمندر ساز را

چې د فاعلاتن فاعلاتن فاعلاتن عروضي وزن لري. خو د محمد غزله بېل وزن او بېله قافیه لري او د مفتعن مفتعن مفتعن فع په عروضي وزن که ده.

د محمد هوتک د غزلې د مطلع لومړۍ مصرع او د مقطع وروستۍ مصرع د ((جام)) شایګانه قافیه او د محمد د غزلې مطلع او دویم بیت د ((کاته)) شایګانه قافیه لري. د محمد هوتک د غزلې د دویم بیت دویمه مصرع، یعنې ((پسرلی سو د خوښۍ ښه پیغام را)) د وزن سکته ګي لري او باید داسې ولوستله شي: پسرلی سو د خوښیه ښه پیغام را)). د محمد د غزلې د پنځم بیت دویمه مصرع، یعنې:

((تور اوربل و څښې و لحد ته پرېواته)) ګرامري نیمګړتیاوې لري: لومړی دا چې ((تور اوربل و څښې)) باید ((تور اوربل او څښې)) ولوستل شي او دویم دا ((پرېواته)) فعل دوه فاعله: ((تور اوربل او څښې)) لري، خو فعل مفرد دی او د عدد له نظره د جملې ددې دوو توکونو ترمنځ مطابقت نه شته. د ګرامري جوړښت په لحاظ باید دغه مصرع په دې ډول وي: ((تور اوربل او څښې و لحد ته پرېوتل)).



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو د شکلي جوړښت په لحاظ دواړه شعرونه نيمګړتياوې لري، په تېره بيا په دواړو غزلو کې د شايګانه څخه د ځان ژغورلو پروا نه ده ساتل شوې.

ب- **محتوايي جوړښت:** دواړه غزلې لريک خصلت لري؛ خو د دواړو اصلي تيمونه سره توپير لري. د محمد هوتک په شعر کې، شاعر ساقي ته خطاب کوي او شراب ترې غواړي او ډېر شراب غواړي او مدام يې غواړي او شراب ځکه غواړي چې شاعر د ساقي له غمه غمجن دی، نو په پسرلي کې هم له ښادۍ نه برخه نه لري. د بېلتانه په تاريکو کې يې زړه شين دی. په دنيا کې ناکامه دی، نشاط، مستي او رندي نه لري او دنيا هم بې بقا ده. په شعر کې د عرفاني روحيې سوز او صميميت منعکس شوی دی. د غم او ښادۍ د تضاد موضوع د شعر محتوا ته فلسفي رنګ او د دنيا بې بقاتوب ورته دينې، عرفاني پرداز ورکوي، دغه ټوټه که څه هم غزله ده او په غزلو کې عرفاً د موضوع وحدت، چې شراب غوښتل او ددغې غوښتنې دلايل دي، په ډېره ښه وجه ساتل شوي دي او شعر ته يې منطقي- عاطفي قوت ورکړی دی.

خو محمد په خپل شعر کې ((هجران)) ته خطاب کوي او سر ترپايه دغې موضوع ته انکشاف ورکوي. دغه ټوټه په حقيقت کې ((مرثيه)) ده، ځکه د شاعر محبوبا داسې تللې ده، چې بيا



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه راستنېږي: تور او ربل او څڼې يې په لحد کې پرېوتې دي. په دغه شعر کې ((هجران)) د ((مرګ)) سمبول دی. شاعر هم د خپلې محبوبې په مرګ کې غمجن دی او هم په خپله خپل ځان ته تسل ورکوي. په دې شعر کې هم عرفاني روحيه منعکسه ده او دا چې وايي نجونې او زلمي واړه تورو خاورو لره درومي د خپل ځان د تسل لپاره منطقي استدلال کوي او د محمد هوتک په شان خپل شعر ته منطقي - عاطفي قوت ورکوي. په دې شعر کې هم د موضوع وحدت او تماميت ساتل شوی دی. نو دواړه شعرونه په سبکي لحاظ عمومي پشانتياوې لري او دا فرضيه قوي کوي، چې دواړه شعرونه به د يوه سړي وي.

## دريېم هنري جوړښت:

په دې برخه کې بايد ددغو دواړو غزلو د خيال صورتونو (يعنې ايماژونو) چې تشبيهاتو، استعاراتو، کناياتو، اساطيرو سمبولونو او تشخيصاتو (يعنې د بېځايه شيانو ذيروح انګارلو) شرحه او پرتله وشي.

د محمد هوتک په شعر کې طباق، تجنيس او استعارې، مګر ډېر لږ راغلي دي، يعنې ايماژونه په کې کم دي، خو د شعر ژبه، وزن، د الفاظو انتخاب او رواني په دې حد کې دي، چې دغه ټوټه ماته سهل ممتنع غوندې برېښي او په نسبي صورت يو ښه مکمل شعر دی.



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو د محمد غزل ایماژونه ډېر لري. سمبول لري، تشخیص لري، د اشعات صفت په کې شته او په عمومي توګه د محمد هوتک تر شعر هنري بډاليتوب لري، مګر د محمد هوتک د شعر په شان رواني نه لري. زه د اختصار د رعایت په خاطر له تفصیل نه تېرېږم.

**نتیجه:**

۱- محمد هوتک او محمد د یوه سیمه ییز سبک پیروان، یعنې دواړه د خپلو شعرونو د فونولوژیک، مورفولوژیک، سنیتا کتیک او لګزیک جوړښتونو په لحاظ ښځې مشارکت لري. نو دواړه د یوې سمیې، یعنې د کندهار دي.

۲- دواړه د غزلو په ویلو کې پوره مهارت لري او دواړو د شعر په دې ډول کې د موضوع تمامیت او کلیت سالتی دی.

۳- دواړه په خپلو شعرونو کې په قافیو کې ((شایګان)) لري، یعنې په دې برخه کې بې پروا دي.

۴- د دواړو د غزلو په محتوا کې په فکري، عاطفي لحاظ یو ډول طرز لیدل کېږي.

دغه مشترک وجوهات دې فرضیې ته قوت ورکوي، چې ګوندې دغه دواړه غزلې د یوه شاعر وي. یعنې دواړه د محمد هوتک د قریحې محصولات دي.



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددې فرضيې قوت عجالتاً په سلو کې اتيا و ته رسېږي، شل په سلو کې نور هغه وخت اثباتېدی يا زموږ د غه فرضيه بالکل نفې کېدی شي، چې د محمد هوتک او د محمد نور منظوم يا منثور اثار هم پيدا شي او زموږ د کميت د څېړنې لپاره دومره کافي شي، چې د غوڅ قضاوت علمي امکان ميسر شي.

د مامورينو کارته

کابل



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سخنی چند پیرامون ماخذ شناسی پټه خزانه

پټه خزانه تذکرة الشعرای قدیم زبان پښتو است، که نمونه های کلام پنجاه ویک شاعر زبان پښتو با احوال مختصر انها درین تذکره یافت میشود.

تذکرة الشعرای پټه خزانه بین سالهای ۱۱۴۱-۱۱۴۲هـ ق به امر پادشاه فرهنگدوست و شاعر دودمان هوتکی شاه حسین هوتک در کندهار تالیف شده است.

مولف این گنجینه پر بهایی ادبیات پښتو محمد هوتک نام دارد، که منشی ادبی، دربار بود(۱) درباره محمد هوتک بایست یاد اور شد که وی پس از سقوط قصر نارنج از کندهار به مناطق هوتک نشین رو اورده، و در دامنه های کوه مشهور (سورغر) در منطقه سیوری از توابع کلات مسکن گزیده است. کاریزی و دیهی را اباد ساخته است، که ازین ده هنور هم بنام (مموکلی)) موجود بوده، و کاریز ده نیز بنام مموکاریز مورد استفاده باشنده گان ان دیار است.

مطالعه و ارزیابی دقیق و بیطرفانه پټه خزانه از نظر میتود های معاصر و پیشرفته، سبک شناسی ادبیاتشناسی نشان



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

میدهد که این اثر کتابیست طبیعی، و بنا بر ضرورت فرهنگی ان روز کار تالیف شده است. پته خزانه را بمعیار های امروزی سبک شناسی و ادبیات شناختی پوهاند داکتر محمد رحیم بر رسی نموده و نتایج بررسی های استاد الهام حاکی از اصالت متن پته خزانه از نظر سبک شناسی تواند بود ، پژوهش نموده استاد الهام مارا باورمند مسیازد ، که متن پته خزانه از لحاظ سبک شناسی به هر گونه پرسشهایی نقادان جواب داده میتواند در پهلوی میتودهای نوین سبک شناسی میتوان پته خزانه را به شیوه های عنعنوي پژوهشهای شرقی نیز مورد ارزشیابی قرار داد.

مطالعه عمیق و بغیر ضانه این اثر و زین اشکار میسازد ، که مولف دانشمند ان از عنعنه های تذکره نگاری مشرق زمین باخبر بود ، و ازین سنت ها سود وافر برده است. نشاندهی تعقیب همه عنعنه های شیوه های تذکره نگاری مشرق زمین در پته خزانه کاریست سود مند و قابل ارج، اما من درین مختصر تنها بر شیوه کار برد او استفاده از ماخذ درین کتاب سخن خواهم گفت. نشان دادن راویان و ماخذ یک روشن پسندیده در سبک تذکره نگاری است که شماری از دست اندر کاران این رشته کتاب نویسی از دیرینه زمانی به تعقیب ان پرداخته اند.



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

محمد هوتک صاحب پټه خزانه نیز ازین رسم پیروی کرده، مطالب تذکره اش را با باستناد ماخذ تحریری ضبط نموده و هم به پیروی از پیشینیان بخشی از مطالب را باستناد گفته های راویان شینده و درج کتاب کرده است.

در ماخذ تحریری پټه خزانه شماری از کتب یاد شده در کتاب اکنون موجود است. و بدسترس پژوهشگران قرار دارد.

امابرخی از این کتب تا هنور کشف نه شده و یا هم دور از امکان نیست که محوه گردیده باشند ، زمانی مغرضین چنین میگفتند که چرا بخشی از ماخذ پټه خزانه بدسترس نیست، در پاسخ باعتراض های چنین اشخاص استاد بزرگوار پوهاند عبدالحی با استناد کتب معتبر تذکره اشکار ساخت که تذکره پټه خزانه یگانه تذکره یی نیست که برخی از ماخذ ان بدسترس ما قرار ندارد ، بلکه ده ها کتاب تذکره رامیتوان سراغ کرد که شماری از ماخذ موجود نیست و یا اینکه تا هنوز کشف نه شده است. شا دروان استاد حبیبی در مقدمه طبع سوم پټه خزانه و نگارنده در اثر (د محمد هوتک ژوند او مزار) چنین کتب را نشان داده ایم. و در اینجا به تکرار ان ضرورتی حس نمیکنم. نکته دیگری راکه بایست در اینجا افزود اینست که در اثار مربوطه به فرهنگ پښتو زبانان نیز



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

میتوان اثاری را در یافت که اثار یاد شده در ان وهم شماری از ماخذ ان تاهنوز کشف نگردیده. بگو نه مثال:

علی محمد مخلص شینواری در حالنامه بایزید روشان از کتبی چون مقصود الطالبین خلفیه مودود، ترین، مراة المحققین ارزانی روښانی، مراه العارفین (نام کتاب درنسخه دستنویس و گستتنر شده حالنامه در جای دیگر سراج العارفین درج است) ابابکر قندهاری و دیوان خواجه محمد اقتباساتی نموده (۵) اما کتب یاد شده تا هنوز بدسترس نیست و دانشمند گرامی قلندر مومند نیز این کتب را از اثار مفقود قلمداد نمود اند (۲) نسخه دستنویس حالنامه نیز چون پټه خزانه واحد است. همه پژوهشگران به شمول دانشمند قلندر مومند ازوجود چنین کتب مفقود انکار نمیکنند و قول علی محمد مخلص را در زمینه معتبر میپندارد و بان اعتماد می نمایند درین اواخر کتابی را در یافت نمودم. که در سال ۱۹۸۸ع در پشاور اقبال چاپ یافته است. و من دوسال بعد از چاپ ان، کتاب را مطالعه کردم. مولف ان شخصی دانشمندی و از فرهنگیان نامور پشتونخوا ست. درین کتاب قطور ۳۷۳ صفحه یی پیرامون تذکرة الشعرای با ارزش و پربهای ادبیات پښتو پټه خزانه سخنها گفته شده، نا سزایی را به ادرس بعضی از رجل علم و فرهنگ ما حوالت نموده اند.



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

پس از خوانش این کتاب دریافتم که سخنی و گپی درین کتاب نیامده که انرا مستدل، علمی و موافق به موازین امروزی دانش ادبیات شناسی رد نتوان کرد. در برابر هر سوال نقاد دانشمند میتوان ده ها سند پیش کرد، و در جواب ان کتابها نوشت. اما درد و افسوس که مولف دانشمند همان کتاب و قتش را بی جا صرف بحث ب رمسایلی نموده است، که در پژوهشهای ادبیات شناسی نمیتوان بان ارزشی قایل شد. او یک پرابلمی دیگری را در ادبیات شناسی زبان پښتو ایجاد نمود، وچندان از پژوهشگران را مصروف حل رفع پرابلم ایجاد شده خود کرده است.

ای کاش استاد موصوف عوض این اثر کم ارزش به تالیف تاریخ جامع ادبیات پښتو مې پرداخت، که یکی از ضروریات مبرم فرهنگی ماست و پښتوزبانان در افغانستان، پښتونخوا، بلوچستان، پاکستان، هندوستان و همینگونه حلقات استشراق بان سخت نیاز دارند.

به هر صورت استاد موصوف کاری را انجام داده و نشر کرده، من نیز غرض رفع چنین اشتباهات خودرا مکلف میدانم که بپاسخ بپردازم و کتابیرا در جواب کتابش تالیف نمایم، این کار را من به استعانت ایزد متعال شروع کرده ایم. ولی در



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

این مقاله به ارتباط بحث بر ماخذ پته خزانه در کتاب یاد شده میپردازم و بحث کوتا و اجمالی ایرا به پیش میبرم.

در صفحات ۱۷۵-۲۱۴ کتاب بحثی بر ماخذ پته خزانه صورت گرفته و من فرو گذاشت های این بحث را حسب ذیل بر میشماریم:

۱- نوسینده دانشمند در اغاز این سخنهای این بحث دچار اشتباهات پرنسیپی گردیده است. زیرا ایشان اثر تالیف شده، در اخرین دهه نیمه اول قرن دوازدهم هجری را با معیار های امروزین تالیف یکسان ارزیابی نموده اند. و نقدی را که یک نقاد با بیست بر اثر یک پژوهشگر ادبی امروزی انجام دهد وی چنین معیارها و موازین را در یک اثر تالیف شده در قرن دوازده جستجو نموده است.

به گونه مثال ایشان گفته اند محمد هوتک در نقل فلان مطلب از فلان راوی در کتابش نشان نه داده است که سخنان راوی در کجا ختم شده است؟

بایست خدمت استاد بزرگوار عرض کرد که در گذشته ها چنین رسمی وجود نداشت و نشان دادن شروع و ختم نقل قول ها از شیوه های امروزی پژوهش است، اگر محمد هوتک خلاف رسم اسلاف چنین کار رامی نمود و به نشان دادن (تم کلامه) و یا علامات دیگر اغاز و انجام نقل قولهای راویان و



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

یا ماخذ تحریری را نشان میداد ، مهمترین اعتراض دانشمند محترم کتاب نویس شاید همین میبود ، که نشان دادن و تفکیک بیانات و مطالب در تحقیق روشن تازه و نو است و در قرن دوازده کجا مروج بود ؟

در باره بایست اضافه کرد که در تذکره های کهن پارسی تذکره نگاران به کثرت از قول راوی و یا ماخذ تحریری نقل قول کرده اند ، بدون اینکه بگوید قول فلان کتاب درینجا ختم شد به گونه مثال:

در کهنترین تذکره تا حال مکشوف ادبیات پارسی لباب الالباب محمد عوفی در شرح حال شرف الدین حسام در بخشی از بحث چنین امده: ((از بزرگی شنیدم که در ان وقت که به سفر قبله رفته بود ، چون به ری برسید ، چنین اتفاق افتاده بود که خاقانی در ری بود ، حسام الدین بزیارت او رغبت کرد ، و به نزدیک او شد و عمر نوقانی...)) (۷) این بحث چنین ادامه میباید و محمد عوفی هیچ جانشان نمیدهد که شنیده گی ام از بزرگی تا اینجا و انجا است.

با ارتباط همین نقل قول تذکره الشعرای لباب الاباب بابیست تذکر داد ، که نقل از راویان و شنیده گی تذکر نگاران در بسی مواردو درج کتب تذکره شده اند. و تذکره نگاران اکثر راویان خود را نیز نشان نداده اند ، محمد هوتک در پته



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

خزانه چنین رسمی را پیروی کرده است، شماری از روایان خود را نام گرفته است، در بعضی جاها برسم پیشنیان از ذکر نام راوی یا کسی که قولی شنیده است، صرف نظر نموده، وما نمیتوان محمد هوتک را گناهنکار ثابت ساخت که چرا در بعضی موارد اسم راوی را نیاورده است.

۲- کتاب نویس فاضل گفته است که محمد هوتک در نوشتن شرح حال برخی از شعراء ما خذش را نشان داده ولی نه گفته که شعر همان شاعر را از کدام منبع اخذ کرده، با خوانش چنین مطلب خنده اور بابیست سکوت اختیار کرد، ولی من خدمت استاد عرض میکنم که اگر شخصی با کتب قدیم وروش تحقیق در چنین کتابها اشنایی داشته باشد، هرگز چنین سوالی را مطرح نمیسازد.

زیرا پژوهشگران ابتدایی نیز می فهمند که تذکره نگاران قدیم اگر در یک مورد ماخذ رانشان داده باشد معنی ان اینست که گویا تمام مطالب در مورد همین شخص یا موضوع را از همان کتاب گرفته است. محمد هوتک تذکره نگار بصیری بود، وی اگر شرح حال یک شخص را از یک منبع و کلامش را از منبع دیگر گرفته در هر دو مواردو ماخذش را نشان داده، چون در بخش احوال سلطان بهلول لودهی(رح) احوال این مرد سیاست و فرهنگ را از مخزن افغانی نعمت الله



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

هروی و رباعی ناب ویرا از بیاض محمد رسول کلاتوال اخذ کرده (۸). اگر شخصی پته خزانه را بیطرفانه مورد ارزشیابی قرار دهد و دقیق انرا مطالعه فرماید چنین سوالی در ذهنش خطور نخواهد کرد.

۳- دانشمند گرامی در همین بحث کتاب خود نوشته است که سنوات تولد و وفات شماری از سخنواران درج تذکره نسیت. من بار دیگر به نهایت احترام خدمت ان بزرگوار عرض میکنم، اگر ما یان تذکره های قدیم مشرق زمین را ورق بزنیم سنوات تولد و وفات اکثر شعرا در ان یافت نمیشود. اکنون که من این مقاله رامینویسم. بیش از ده دوازده تذکره بدسترسم قرار دارد. از مطالعه همه ان بر می اید که درضبط سنوات تولد و مرگ شعراء تذکرنگاران بیشتر پابند نیستند و سنوات تولد و مرگ اکثر شعرا درج این تذکره ها نیست. برسبیل مثال در لباب الباب عوفی شرح حال شعراء چنین رسمی راتعقیب نه کرده، بلکه زمان زنده گی برخی از شعرا باساس زمانه های خسروان و امران محلی درج نموده است.

تذکره سرور تالیف نواب اعظم الدوله میرمحمد محمدخان سرور از ضخیمترین تذکرة الشعرای ریخته گویان است. تا جائیکه من برین تذکره مرور کردم ام سنوات تولد و مرگ بیشتر از اکثریت شعرای ذکر شده در تذکره درج نه شده است.



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بارتباط همین موضوع بایست افزود که نقادگرانقدر در برخی از انتقادات خود نبشته است که شماری از شاعران تذکره معاصرین شاعر و دوستان وی بودند ، مگر تاریخ تولد شانرا نه نوشته است؟ در برابر این سوال دانشمند گرامی عرض خواهم کرد ، که درج نه کردن سنه تولد دوستان تذکره نگار از اعتبار و اهمیت تذکره نمیکاهد ، بلکه ارزش پژوهشی انرا متضرر خواهد ساخت. من در تذکره های زبان پارسی، اردو و پشتو صدها مورد را نشان داده میتوانم که تذکره نگار سنوات تولد و مرگ دوستان خود را درج نه کرده است.

بطور مثال بهگونداس هندی در سفینه هندی احوال نواب محبت خان را در کرده، و بهگونداس بانواب محبت خان روابط دوستی داشت. اما سنه تولد نواب را در تذکره اش نه اورده در باره سخنان بهگونداس چنان است: (( ... چندروز مجلس مشاعره در خانه خود ترتیب میدادند ، بسیار خلیق، پسندیده مزاج عالی منش، شیرین گفتار اند. با مولف ربط دوستی دارند... )) (۹).

اگر تذکره های کهن را یکسو بگذاریم، و در دوره معاصر تذکره نگاری زبان پښتو را مورد ارزیابی و نقد قرار دهیم، خواهیم دید که با وجود انکشاف شیوه های پژوهشی نوین در



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

حلقـات فرهنگـی مـان تـذکره نگـاران سـال وفـات و پیـدایش شماری از شعراء را درج نه کرده اند. درین مورد نیـز میتـوان ده ها مثـال پـیش نمـود ، مگـر مـن دریـن بخـش نیـز دو سـه مثـال میاوریم:

د کسـی گـلان تـذکره مانـد گاریسـت از مرحـوم حـافظ خـان محمـد کـاکړ، در تـذکره دکسـی گـلان در پهلـوی شـعرا و سخنوران قدیم بیشترینه شاعران معرفی شده ان از معاصـران حـافظ اسـت، حـافظ سـنوات دقیـق تولـد اکثـر شـعراء را درج تذکره اش نه کرده، و در بعضی موارد حتـی هـیچ ذکـری از سـنه و تاریخ و سن شاعر دیده نمیشود (۱۰).

اخونزاده فرمان مسافر تذکره پربهایی را بنـام (د پښتو ادب ځلنـده سـتوري) نگاشـته انـد در فهرسـت مطالـب ایـن تـذکره همراه با سمای شریف فضل حق شـیدا ، محمـد اشـرف ځلمـی و ولی محمد خان طوفان کلمه مرحوم اضـافه شـده، ولـی در مـتن تاریخ مرگ یکی از انها به چشم نمیخورد(۱۱).

۴- ( کتـابنویس محتـرم در همـین بخش در قسـمتی از گفتـه هایی خود دچار سرا سیمگی و تضـاد در گفتارهـای پیشـین و نوین خود شده است. در بخشی ازین بحث گفته اند که غزلیات ضبط شده خوشال خان ختک در پټه خزانه با ضبط هـای دیگـر



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

همان غزلها دگر گونیهایی لفظی دارد ، و یک بیت غزل ان کمتر در کتاب ضبط شده است.

من درینمورد نیز باعرض پوزش یاد اور میشوم، اگر کسی اگاهی نهایت ابتدایی ازدانش متن شناسی داشته باشد ، در ضبط های متون را انگشت نخواهد گذاشت. زیرا اگر ماده ها نسخه یک متن واحد را از نظر بگذرانیم خواهیم دید که جز از موارد استثنایی همه یی از نسخه ها طابق النقل بالنقل یک دیگر نیستید ، بل تحریفات تصحیحات، فرو گذاشتها ، حذف و اضافه، سقطات و کمبوتات در نسخه های مختلف همان متن واحد دیده میشود ، و زمانیکه تذکره نگار ضمن اوردن شرح احوال یک شاعر نمونه کلام اورا درج تذکره اش میکند حتماً از یک نسخه استفاده میکند و ضبط های همین نسخه لا بد بانسخه های دیگر تفاوتهای دارد. اگر چنین تفاوتها در ضبط تذکره ها دیده شود ، باعث کاهش اعتبار تذکره نمیگردد ، و نباید دست اندر کاران نقد ادبی برین موضوع خورده گیری کنند. پژوهشگران متن شناس در تصحیح و تحقیق متون در اکثر موارد از ضبط های تذکره بحیث و اریانت استفاده می برند.

من به نقاد محترم عرض میکنم که اگر ایشان تنها منتخب چمن بی عدیل و گلشن بی تمثیل (دستنوس اکادیمی پشتوی



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

پشـاور ) را از نظـر بگذرانند ، منتخبـات درج شـده در ان مجموعـه را بـا دو اویـن همـان شعراء مقابله فرمایند ، خواهد دید که تا چه اندازه دگر گونیها در ضبط گلشـن و ضبط های دیگر همـان متـون دیـده میشـود ، موجودیـت چنـین تفاوتهـا و تغییـرات لفظی در ضـبطهای چمن بی عـدیل و متـون مشـابه دیگر از اعتبار این مجموعه کاسته نمیتواند.

برهمین بخش ایـن اثر گپهـایی زیـادی گفتـه شده میتواند ، مگر من درین مختصر همین یـاد کـرد هـای کوتـاه رابسنده می ببینیم، اگر یاری خداوند بزرگ همرا هم باشد ، در تالیف دیگـر خـود کـه در جـواب کتـاب استاد قلندر است حرف حرف ایـن بخش را مستند پاسخ ارایه خواهم کرد.

در اخیر باید یاد اور شد که پټه خزانه از نگـاه ماخذ شناسی کدام خلای علمی ندارد ، و برابر بـه سنت هـای تـذکره نگـاری خاور زمین از ماخذ تحریری و همینگونه روایات شفاهی سود برده که شیوه استفاده و کاربرد ازین ماخذ بـا نورمهـای تـذکره نگـاری همگـونی عـام و تـام دارد ، و مـا ایـن تـذکره را از نگـاه ماخذ شناسی در تناسب باتـذکره هـای دیگـر پیشـین و پسـین پټه خزانه در سطح عالی ازریابی کرده میتوانیم.



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ماخذ

۱- هوتک، محمد، پټه خزانه، به کوشش پوهاند عبدالحی حبیبی، وزارت تعلیم و تربیه، چاپ تهران **۱۳۳۹**هـ ق، ص ۱۰۸.

۲- الهام، پوهاند محمد رحیم، د پټې خزانې پر سبک باندې يو خوځنده نظر، د امیر کروړ یاد، د زلمي هېواد مل په زيار پښتو ټولنه، کابل، د ښوونې او روزنې مطبعه، **۱۳۴۲**هـ ش، **۳۵۴-۳۸۹** مخونه.

۳- حبیبي، پوهاند عبدالحی، پټه خزانه (مقدمه)، طبع سوم، د اطلاعاتو او کلتور وزارت، کابل، دولتي مطبعه، **۱۳۵۴**هـ ش.

۴- رفیع، حبیب الله د پښتو پخوانۍ تذکرې (مقدمه)، تاریخ ټولنه، کابل، دولتی مطبعه، **۱۳۵۰**هـ ش، ب مخ.

**۵**- هېوادمل، زلمی، د محمد هوتک ژوند او مزار، د بایزید روښان پوهنتون، د لوړو او مسلکي تحصیلاتو مطبعه، **۱۳۲۲**هـ ش، **۲۲- ۲۳** مخونه.

۶- مخلص، علي محمد، حالنامه بایزد روشان، به کوشش نورالله اولسپال، اکادیمی علوم افغانستان، **۱۳۲۴**هـ ش.



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۷- مومند، قلندر، د خیرالبیان تنقیدي مطالعه، چاپ ځی، پېښور، ۱۹۸۸ع، ص ۱۲۴.
۸- محمد عوفی، لباب الالباب، به کوشش سعید نفیسی، تهران، چاپ اتحاد، ۱۳۳۵ هـ ش، ص ۱۴۵.
۹- پټه خزانه، ۷۲ مخ.
۱۰- بهگونداس هندی، سفینه هندی، د عطا کاکوهی په زیار او پلټنه، بهار، لیتهو پریس، ۱۹۵۸ع.
۱۱- کاکړ، خان محمد، د کسي ګلان، بلوچستان بکډیپو، عدنان جهانګیر پریس، لاهور، ۱۹۸۹ع، ص ۱۵۰.
۱۲- اخنزاده فرمان مسافر، پښتو ادب ځلنده ستوري، پېښور، ۱۹۸۴ع، ۷۳، ۷۵، ۸۲، ۸۷، ۱۹۹-۲۰۱.



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

کاندید اکاډمیسین محمد ابراهیم عطایي

# د ګورګاني هند او صفوي ایران ترمنځ د افغانستان د موجودیت په ساتلو کې د دوه لویو افغاني قبیلوي اتحادیو نقش

توخي یا توخیان د پښتنو یوه لویه قبیله ده، چې د پنځلسمې، شپاړسمې، اولسمې او اتلسمې پېړۍ په دورانونو کې یې کله له نورو قبیلو سره د موتلفی قبیلې په توګه او کله مستقله خاني درلوده.

دا قبیله چې د غلجیو کانفدریسي (اتحادیې) ته منسوبه ده د سلیمان د غرونو له وادیګانو څخه تر مهاجرت وروسته د کندهار په حوزه کې چې په هغه وخت کې لا د ارغستان پر ورشوګانو اوسېدله د ابدالي قبایلو سره یوځای وه، خو کله چې دغه غلجي او ابدالي پوونده قبایل د ارغنداب په حوزه کې استوګن کېدل او د دوی ترمنځ به کله کله شخړې راوچتېدلې، ولې په جرګو او مرکو به یې خپل منځي متنازع فیها مسایل حلول.



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې د کندهار د دوو لویو امپراطوریو، لویدیځ ته د صفویانو او ختیځ ته د هندي ګورګانیانو د دولتونو ترمنځ د تجارتي او ستراتیژیکي اهمیت له پلوه حساس موقعیت ورپه برخه کېدی، نو ددغو قبایلو ترمنځ هم قبیلوي شخړو د سیاسي تمایلاتو په وجه ژوروالی مونده.

دغه منطقوي حساسیت په خاصه توګه د ظهیرالدین محمد بابر له هغه لومړني یرغل سره را اوچت شو، چې په ۱۵۰۷ کې د بابر او شیباني خان اوزبک ترمنځ پر کندهار شخړه وشوه او د یوه دوو کالو په دوران کې د سیمې یو و بل ته دا انتقال بالاخره د بابریانو د تسلط په دایره کې پاته شو.

هغه مهال چې بابر هند ته ولاړ او له هغه ځایه یې د افغانستان اداره په لاس کې ونیوله، نو د کندهار د ابدالیانو او غلجیانو خانانو په داخلي سطح کې ازادي درلوده، کله چې بابر مړ شو او همایون قدرت واخیست او هغه هم په لنډه موده کې د سوري شېرشاه له خوا وشړل شو او همایون هم ایران ته پنا یو وړه، نو د شېرشاه د کورنۍ په وخت کې کندهار د یوه مسلط سیاسي پلوه په یوه خلا کې واقع و ځکه سوریانو په هند کې درانه مصروفیتونه درلودل او دلته لا د قبایلو په کانفدریسیو کې دومره توان نه و موجود شوی، چې ځانته مستقل دولت تاسیس کړي، نو ځکه د باندې له خوا لومړی



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ایـران او بیـا چـې کلـه ببرتـه د ګورګـاني جـلال الـدین اکبـر د راپورته کېدو سره د هندي بابري دولت ستنې ټینګې شولې نو د ایران او ګورګاني هند ترمنځ پر کندهار کشمکش پیل شو.

یـوازې پـه ۱۲ او ۱۷ مـیلادي پېړیـو کـې (۱۳) ځلـه کنـدهار د صفوي ایران او ګورګاني هند ترمنځ کله د یوه لاس او کله د بـل لاس ته ولوېد او په دا هر ځل کې چې د لویـو نظامي سوقیاتو پـه تـرځ کـې یرغلونـه سرته رسـېدل د ځـان سره یـې بې شـمېره تبـاهي، تلفـات او د سـمیې خرابي منځتـه راوړلـه. ددغـو لویـو تاریخي انتقالاتو په ترځ کې چې ددې ځای قبایـل پـه مـادي او معنوي سطح کې تهدیدل، نو د مسلطو یرغلګرو سیاستونو له خوا ځیني تفتینونه هم د قبایلو ترمنځ عملي کېدل، څو دوی لـه یوه مستحکم اتحاد څخه لرې وساتي او بالاخره د اورنګ زېب پـه خولـه هغـه حقیقـت بیـان شـو چـې ویـل یـې مـوږ بایـد د دغـو قبایلو ترمنځ هډ له هډ سره پـه ټکـر راولـو څـو دواړه هډه مـات شي.

د همدغسې توطیو په جریـان کـې د غلجي او ابـدالي قبـایلو تـرمنځ د کنـدهار پـر سـیمه ییـز وېش جګـړې راپورتـه شـوې، د کندهار مرزباني (سرحد داري) ((چې دا هـم یـو محکـوم مابانـه لقب و چې دا ایران لـه خوا بـه پښـتنو خانـانو تـه ورکـول کېـده)) کله یوه ته کله بل ته حواله کېده بـالاخره د جریانـاتو پـه تـرځ کـې



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوی لویې قبیلوي کانفدریسي (اتحادیې) منځته راغلې چې د یوې مشري په ابدالیانو کې سدوزو ته ورپه برخه شوه چې د کندهار ښار صفایي مرکز و او مخ پر لویدیځ یې تر فراه پورې تسلط درلود او د بلې مشري په غلجو کې توخو ته وسپارل شوه چې د زابل څخه تر کابل پورې یې د حکمفرمایۍ ساحه وه.

په **۱۵۵۳** میلادي کې چې ګورګاني همایون کندهار ته راغی، نو د کندهار حکمراني یې بهادرخان سیستاني ته وسپارله، خو دا کار د هغه قبیلوي نورم څخه مخالف و چې په دغه سیمه کې د دوو لویو سرداري قبیلو سدوزو او توخو ترمنځ موجود و، نو ځکه کلاتي شا محمد خان توخي د همایون ترتګ وروسته پر کندهار حمله وکړه او بهادرخان سیستانی یې وشاړه او په خپله حکمران شو.

د همایون تر مرګ وروسته ایران کندهار ته پاملرنه وکړه او له دغه وخته نو د صفوي ایران او ګورګاني هند ترمنځ د کندهار پر سر شخړې پیل شوې او سم له دغه جریان سره د دغو دوو لویو قبیلو ترمنځ هم زړه بداوی پیدا شو. د دواړو خواوو خانان چې دراک شخصیتونه وو، د مسالې د حل لپاره یې کوښښ کاوه خو متجاوز بېګانه مسلط قدرتونه سخت فعال وو چې د دوی ترمنځ د اختلاف لمن پراخه کړي.



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بالاخره د صفوي ایران او ګورګاني هند ترمنځ د کومې مقاولې پر مخ نه، بلکې په یوه فرضي کرښه کې د سیاسي نفوذ ساحه د اسې وټاکل شوه چې د اوسني (مقر) له حد څخه مخ پر لویدیځ د صفوي ایران او تر مقر راپورته مخ پر شمال او ختیځ سیمې د ګورګاني دولت د نفوذ په ساحه کې شاملې شي. د ایران شاهانو چې هر څه زور ولګاوه په مستقله توګه یې ونه کولای شول، چې خپل حکمران یا نایب دغو سیمو ته راولېږي، نو په خپله د سیمو خانانو ته یې د (مرزبانانو) په نامه اداره سپارله او هغوی به یې د ایران په دولت کې شریک بلل. خو ددې سیمو خانانو او خلکو په کُلي توګه ځانونه د ایران تابع نه بلل، د ګورګاني دولت سره به یې هم روابط پالل، لکه چې په ۱۲۴۰ کې د سدوزو حکمرانانو ملک مغدود خان او کامران خان چې د ایران له خوا د کندهار د حکمرانانو په صفت پېژندل کېدل او د ایران او ګورګاني هند ترمنځ سخت اختلاف هم و، دغه دوه مشران د شاجهان دربار ته ورغلل او هلته یې ډېر عزت وشو همدارنګه د توخو مشر سلطان ملخی خو پرله پسې د ډهلي په دربار کې عزتمند موقف درلود او د سلطان لقب هم هغه دربار ورکړی و، هند ته تګ راتګ کاوه. په دې کې شک نه شته چې دغسې روابط به پر ایران ښه نه تمامېدل، خو



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

پښتنو سردارانو خپله ازادي ساتله او د وخت د قدرتونو د فشار پروا يې هم نه کوله.

که څه هم ابدالي او غلجي قبايل د پرديو قدرتونو يعنې صفوي ايران او ګورګاني هند د تسلط پر وړاندې په مقاومت کې د يوې متحدې جبهې غړي وو، خو کله کله سيمه ييزې شخړې دد غو قبيلو ترمنځ راپورته کېدې او ددغسې شخړو څخه به متجاوزو قوتونو ګټه اخيستله.

نو ددغسې معضلو د حل لپاره د ابداليانو او غلجيانو ترمنځ يوه ډېره لويه او دوستانه جرګه وشوه، چې د ابداليانو د طرف مشري ملک خضرخان مشرو زوی خدايداد سلطان مشهور په (خودکي) چې د شېرخان (د احمدشاه بابا د نيکه ګانو څخه و) وررور کوله او د غلجو د طرف مشري سلطان ملخي توخي ته سپارل شوې وه. په دې جرګه کې فيصله وشوه چې د جلدک د ګرماو په سيمه کې دې (پل سنګی) چې د کندهار د ښار د ختيځ په پنځوس ميلۍ کې واقع و داسې سرحد وساتل شي چې ددغې سيمې لويديځ ته ابداليان او ختيځ ته غلجيانو د نفوذ ساحه جوړه شي. همدارنګه په کندهار کې چې هم غلجيانو قومونو استوګنه درلوده، د ابداليانو سره دې د وروری په حساب ګډ ژوند وکړي.



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا ددې دو قبیلوي مشرانو درایت و، چې په یوه سخته حساسه مرحله کې یې د قبیلوي قتلونو د مخ نیوي په طرف کې قدم مخته واخیست ولې دا پر ایران سخته تمامه شوه او له دې وروسته د ایران په دیپلوماسۍ کې دا خبره شامله شوه چې په مستقیمه توګه د کندهار اداره خپلو درباري اداره چیانو ته وسپاري. دغه کار پر ابدالیانو سخت تمام شو او د غلجیانو سره په تفاهم کې د خدایداد سلطان شېرخان (د احمد شاه بابا نیکه) د صفوي حکمران سره وموښت او د کوړک په تنګي کې یې د صفویانو لښکر نیست او نابود کړ.

په دغه وخت کې په خپله د ابدالیانو د تربرو ترمنځ هم شخړې رواني وې، چې زیاتره یې ملتان یا هرات ته مهاجر شول او ایران د خپل نفوذ د قایمولو په خاطر چې کله ګرګین د کندهار حکمران کړ، نو هغه په ۱۷۰۳ میلادي کې د ابدالیانو مشر دولت خان او د هغه زوی نظرمحمد خان ووژل او د هغه کشر زوی زمان خان (د احمد شاه بابا پلار) یې یرغمل ایران ته بوت.

تر پل سنګي پورته غلجي اقوام او په کندهار کې اوسېدونکي غلجیان د خپلو ابدالي عزیزانو سره د صفوي ایران په دې جفا کارانه رویه سخت خواشیني وو.



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

د توخو مشر سلطان ملخي چې سیمهییز موقعیت یې د صفوي ایران او ګورګاني هند ترمنځ یو سخت برزخ تشکیل کړی و په قبیلوي سطح کې ده هم تکالیف درلودل.

په زابل کې د توخو په اړخ کې هوتک هم لویه قبیله وه او د توخو د سرداری سره یې رقابت کاوه، سلطان ملخی چې د وضع حساسیت ته متوجه و، نو د یو سیاسي مصلحت پر بنا یې د هوتکو و خان ښالم خان ته چې د میرویس خان (نیکه) پلار و خپله لور (نازو) ور واده کړه. دا سیاسي پیوند د ډېرو ښو نتیجو حامل و. سلطان ملخی چې د یوې خوا له ابدالي قبایلو سره د دوستانه تفاهم په وجه د دغو دوو لویو کانفدرسیو (اتحادیو) اتحاد منځته راوړی و، نو په خپله کانفدریسی (د غلجو) په اتحادیه کې یې هوتک هم د ځان ملګري کړل او نور غلجي قبایل لکه سلېمانخېل، اندړ، ناصر، ترکي او داسې نور یې هم یوه مرکز ته راټول کړل.

د ایران صفوي دولت چې د دغسې اتحاد څخه سخت تشویش درلود، نو د غلجو سره یې هم د جنګ بنا وکړه چې په یوه سخت جنګ کې چې د دواړو خوا و څخه تلفات زیات وو یو هم مشهور قهرمان جبار خان سلیمانخېل و، په شهادت ورسېد او مړی یې د کابل په جنوب ختیځ خوا کې په یو ځای کې خاورو ته وسپارل شو، چې نن د خاک جبار په نامه یاد ېږي



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

( او نن د کابل په اداري تشکيل کې په دغه نامه يوه علاقه داري ده ) سلطان ملخی ( دنازو پلار او د ميرويس خان مورنی نيکه ) د ۱۶۸۸ ميلادي کال په حدودو کې په يوه قبيلوي جگړه کې چې د دروازګۍ په سيمه کې پېښه شوې وه ووژل شو. دده تر مرګ وروسته يې زوی حاجي عادل مشر شو او دا هم په يوه قبيلوي جگړه کې مړ شو، تر ده وروسته يې زامن او لمسيان خانان وو، خو زيات نفوذ يې نه درلود او قدرت د هوتکو قبيلې ته انتقال شو.

ښالم خان هوتک د ميرويس خان پلار چې د نازو په نسبت د توخو زوم ګڼل کېده د توخو اعتماد يې هم ملګری و او يو دراک مشر و، پر ده هم قوم راټول شو او دده زوی ميرويس خان چې د توخو سرداره قبيله يې ماما خېل وه مخصوصاً دده د مور نازو په تدبير هغوی دده ملاتړ وو، دا رسالت پر غاړه واخيست چې د صفوي ايران نفوذ ته خاتمه ورکړي.

ميرويس د خاص تدبير په لحاظ په ښار صفا کې د يوه پوپلزي خان ( چې سدوزی يې يوه ښېنه ده ) لور وغوښته. ده دا کار ځکه وکړ چې د يوې خوا ښار صفا د ابداليانو ( چې پوپلزي او د هغوی ښېنه سدوزي ورته منسوب دي ) مرکز دی د خپل فعاليت مرکز وګرزوي، له بلې خوا په دغه خپلوۍ چې د ابداليانو ښځه يې غوښتې وه ځان د هغوی زوم کړی ځو په دوه قوته چې د يوې خوا



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

د توخو سرداران یې ماماګان وي او له بلې خوا ابدالیان یې خسر خېل شي، په دې توګه ځان ته دا زمینه برابره کړې چې د دوی په اعتماد یوه لوی ماموریت ته تیار شي. همدا سې وشوه، ځکه د ښار صفا ابدالیان چې د ګورګین له خوا مشر دولت خان او د هغه زوی نظرمحمد خان وژل شوي وو سخت عصبي و او دا سې یو ځوک یې غوښت چې د دوی انتقام واخلي او ددغه ستر کار لپاره نو میرویس خان ډېر مناسب شخصیت و.

میرویس خان چې په ډېرو مواردو کې یې د باتدبیره مور (نازو) مصلحت ورسره ملګری و د یوه منظم پروګرام له مخې په کار پیل وکړ، ځو دا و چې په کندهار کې د صفوي دولت تسلط ته سقوط ورکړ. ګرګین یې وواژه او هېواد یې مستقل کړ. میرویس خان د صفوي قدرت تر ختمېدو وروسته ځان باچا ونه باله او هغه لقب چې قبیلو د مشر په عنوان ورکړی و هغه یې وساته، ځکه دی پوهېده چې قبیلې لا تر دغه وخته د کانفدریسي په مرحله کې وې او په کانفدریسي کې د باچایي عنصر نه یوازې پیوند نه اخیست، بلکې د قبیلو د اتحاد شیرازه یې هم ور ړنګوله.

ده کوښښ وکړ چې دوه لویې کانفدریسي (غلجي او ابدالي) په یوه اتحاد کې راولي او نو د یو دراک شخصیت په توګه یې د مشرۍ موقف وساته.



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دده (میرویس خان) د مشرۍ عمر ډېر لنډ و، که څه هم ده په کندهار کې د دغو دوو لويو کانفدريسيو ترمنځ د اتحاد مزي قوي کړل خو د ابداليانو کانفدريسي چې په هرات کې وه د هغې سره د تفاهم په حال کې و چې له دې دنيا يې سترګې پټې کړې، ولې اخلاقو يې سره له دې چې په قبيلوي سطح کې يې ځينې اختلافات درلودل، خو د بېګانه قدرت پر وړاندې يې خپل اتحاد ته وفاداري ساتله، لکه چې کله نادر افشار پر هرات فشار راوړ، نو د کندهار څخه د غلجو او ابداليانو کومکونه هغوی ته ور ولېږل شول، څو د نادر افشار پر وړاندې مقاومت وکړي.

دغه پروسه تر هغه وخته جاري وه څو احمدشاه بابا د لوی افغانستان امپراطوري تاسيس کړه او هغه پخوانۍ وضع د يو نوي او لوی تدبير له مخې و يوه نوي مسير ته ورولوېده چې دا د جلا بحث موضوع ده.



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوهنمل بريالی باجوړی

# د کندهار ادبي دربار

تر کومه ځايه چې په پښتو کې د لومړني ادبي دربار خبره رامنځته کېږي، نو هغه د پښتون پاچا شاه حسين هوتک له نامه سره اړه لري، چې دغه پښتو پالونکی پاچا په منظم ډول د پښتو ژبې او ادب په برخه کې هلې ځلې کولې. پښتنانه شاعران او ليکوالان يې پيدا کول او هغوی به يې په خپلو ادبي کارونو باندې ډېر زيات نازول او تشويقول چې د دغه تشويق په نتيجه کې په دغه ادبي دربار کې ارزښتمن کارونه سرته ورسېدل او مهم اثار رامنځته شول.

شاه حسين هوتک ته دغه ادب پالنه په ميراث کې پاتې وه ځکه چې په خپله ملي قايد ميرويس خان د پښتو ژبې او ادب سره پوره مينه درلودله او په ډېرو مهمو وختونو کې به يې د رحمان بابا کلام ته پناه وړله او د دغه صوفي شاعر کلام به يې د خپلې لارې مشال باله.

همدارنګه د ميرويس نيکه مور په خپله د پښتو ژبې يوه زبردسته شاعره وه او له پښتو ادب سره يې د زړه له تله مينه درلوده. همدارنګه د ميرويس نيکه په وخت کې د پښتون سپه



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

سالار خان ناصر نوم هم د يادوني وړ دی، چې د خپلو پوځي کارونو ترڅنګه د پښتو ژبې ښه شاعر و. په همدې ډول ملا پير محمد مياجي چې د حاجي ميرويس خان نږدی ملګری و او د روم د علماوو له خوا ورته د پير افغان لقب ورکړ شوی و او دوه کتابونه ( افضل الطرايق ) او ( القرايض فی ردالروافض ) په پښتو نظم کړي وو، ددغه ښه شاعر اشعار په پټه خزانه کې راغلې دي. همدا رنګه بابه جان بايي چې د ميرويس نيکه ډېر ښه ملګری و او پر ۱۱۲۹ل کال يې د ((شها او ګلان)) کيسه په پښتو نظم کړه او نوم يې پرې ((قصص العاشقين)) کېښود.

داود هوتک د پټې خزانې د مولف پلار چې له ميرويس نيکه سره همېشه ملګری و د پښتو ژبې ډېر ښه شاعر و چې د کلام نمونه يې په پټه خزانه کې راغلې ده.

ملا نورمحمد غلجی د نافع المسلمين ليکونکی چې د ميرويس نيکه په کاله کې د کوچنيانو ښوونکی و او حاجي ميرويس خان يې ډېر احترام درلود.

له دغې لنډې يادونې نه زما مقصد دادی، چې په خپله ميرويس نيکه هم په خپل وخت کې له عالمانو، ليکوالانو او شاعرانو سره نږدې اړيکې او راشه درشه درلوده. په دغسې يو ماحول کې شاه حسين هوتک سترګې وغړولې او را لوی شو، نو ځکه ويلای شو، چې د هغه په طبيعت او خټه کې له پښتو



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژبې او ادب سره مينه اخښل شوې وه او له خپلې کورنۍ نه ورته دا مينه په ميراث کې پاتې وه.

شاه حسين هوتک د ۱۱۱۴هـ ق کال د لومړۍ خور په ۲۳مه د غلجيو د کلات د سيوري په سيمه کې د ميرويس نيکه کره دنيا ته راغلی. په ۱۱۳۵. ق کال د خپل ورور شامحمود هوتک له خوا د کندهار او شاوخوا سيمو پاچا وټاکل شو. په ۱۱۵۲هـ ق کال د نادر افشار سره تر اوږدې جګړې وروسته په مازندران کې د تبعيد په حالت کې وفات شو.[۱]

کله چې شاه حسين هوتک د خپل ورور شاه محمود له خوا پاچا وټاکل شو، نو له نورو کارونو سره يې د پښتو ژبې او ادب ته هم پوره توجه وکړه. پښتانه شاعران يې پر ځان راغونډ کړل او له هغو سره به يې په ټاکلو وختونو کې ادبي جرګې او مجلسونه کول.

شاعرانو او ليکوالو ته به يې وخت پر وخت جايزې ورکولې او هغوی به يې ادبي کارونو ته تشويقول. د همدغه تشويق په نتيجه کې ډېر شاعران او ليکوال رامنځته شول او ډېر مهم اثار يې ايجاد کړل.

[۱] ژبپالنه، خپرونکی د افغانستان د علومو اکاډمي د ژبو او ادبياتو مرکز، پښتو ټولنه، ګوندي مطبعه کل ۱۳۶۱، ۷۸مخ.



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پټې خزانې د روایت له مخې د غه ادبي غونډې، علمي بحثونه او مشاعرې د کندهار په سلطنتي کتابتون کې د شاه حسین هوتک تر مشرۍ لاندې جوړېدې چې د غې ټولنې ته به یې ادبي دربار وایه. د پټې خزانې مولف په دې باب لیکي (پادشاه عالم پناه په ارګ کې د قندهار هغه قصر چې نارنج باله شي، هلته په هفته یوه ورځ دربار کا په کتب خانه کې مجلس کې علما جمع کېږي او فضلا ټولوي ))[1]

هغو کسانو چې په دغه ادبي دربار کې یې ګډون کاوه او یا د دغه دربار غړي وو په لاندې ډول یې یادونه کوو.

شاه حسین هوتک چې د غونډو مشر و او په خپله به یې په علمي او ادبي بحثونو کې برخه اخیسته او د پښتو ژبې ښه شاعر و چې د کلام دغه نمونه یې په پټه خزانه کې خوندي وه او د محمد هوتک په قول د دېوان خاوند و چې ده به یې اشعار لیکل:

ببلتانه دې د غمو په چپاو چور کړم
په تیارو کې د هجران یې له تادور کړم
ببلتانه دې هسې اوښکې راخورې کړې
ستا د فکر په ګرداب کې تل عبور کړم

[1] محمد هوتک، پټه خزانه، د پوهاند عبدالحی حبیبي په تحشیه او تعلیق، د پښتو انکشاف او تقویې امریت، کال۱۳۵۴، ۵۵-۵۲مخونه.



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

د فراق پرې مې کښېوت و مرۍ ته
په جهان کې يې رسوا لکه منصور کړم
په وصال دې هم ناښاد يمه دلبرې
د بېلتون فکر په زړه کې ناصبور کړم
د بانو غشي مې وخوړ په ځيګر کې
غمازانو په غمزو مهجور کړم
خلق ياد زما د عشق په لېونو کا
زه حسين محبت هسې مشهور کړم.

ملا يارمحمد هوتک چې د خپل وخت لوی عالم او د شاه حسين هوتک استاذ و ده په فقهه کې ((مسايل ارکان خمسه)) په نامه کتاب کښلی دی او د پښتو ژبې ښه اديب و.

ملا محمد يونس توخي چې د کندهار د جامع امام و او په پښتو کې يې د ((جامع فرايض)) په نامه يو کتاب کښلی و او د پټې خزانې مولف يې د ادبي دربار په علماوو کې نوم يادوي.[1]

محمد هوتک چې ددغه پاچا له خوا دربار ته وغوښتل شو او د هغه په هدايت يې پټه خزانه وکښله او هم ددغه ادبي دربار

[1] عبدالروف بېنوا ، پښتو روزنه، د پښتو څېړنو بين المللي مرکز، **۱۳۵۷**ل کال، دولتي مطبعه، **۹۲**مخ.



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

منشـي و د محمـد هوتـک خپلـه وینـا ده چـې وایـي ((... دا ډېر وقتونه تېر شول چې ما غوښته چې زه د پښـتو شـاعرانو تـذکره وکاږم او د دوی احوال سره راټول کاندم مګر زمـانې ماتـه فـراغ نه راکا او دا هیله مې په زړه کې وچه شوه. ځکه چې پـر قنـدهار د ظلم او جفا تورتم پـروت و او هېچا ارام نه درلـود... اوس چې حق تعـالی مـوږ خلاص کـړو لـه هغـو ظلمـو څخـه او فـارغ شـوه زړونـه زمـوږ او ملـک حـاجي میرخـان علیـه الرحمـه دوی لـه قندهار ویاسته او پښتانه یې د دوی د جوره ازاد کـړل زمـا زړه فارغ البال شو له اندوهه او قلم مې راواخیست هغـه وخت چې زمـا لـه ارادې خبـر شـو زمـوږ د پښـتنخا د سـترګو تـور امـام المسلمین... شاه حسین ادام الله دولته الی یوم الدین... نو یې زه وغوښتم خپـل دربـار تـه او ماتـه یې تشـویق وکـا او الطـاف یـې ښـکاره کـا چې دا خپلـه اراده پـوره کانـدم او د پښـتو شـاعرانو حال سره راټول کاندم.))

پـه دې توګـه دغـه مهـم کتـاب د شـاه حسـین پـه هـدایت او تشویق وکښل شو چې د پښتو ژبې تر ټولو مهمه او درنه تذکره ده همدارنګه محمد هوتک ددغه ادبي دربـار دمنشـي دنـده پـه غـاړه درلـوده او د شـاه حسـین هوتـک اشـعار بـه یې لیکـل چې دغه مطلب هم دی په خپله په پټه خزانـه کې وایـي ((... زه محمـد هوتک کاتب د دې کتاب هم پـه دې مجلس کې یم او د بادشاه



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ظل الله اشعار او ادبیات په قلم کاږم او کتاب د دېوان یې
مرتب شوی دی کله په پښتو اشعار وایي او کله پارسي ژبې ته
هم میل کا او استاد العلما ملا یارمحمد ته یې قرائت کا چې
سهو و سقم ځنې زایل کا، او د بادشاه په اشعارو کې لږ سهو
لیده شي او علما یې په بلاغت او فصاحت قایل دی او سماع
ته مایل...)) [1]

محمد هوتک د خپل وخت مروجه علوم لوستی وو له شعر
او ادب سره اشنا و. په عروضو، قافیه، بیان معانی او د ادب
په نورو څانګو کې د مطالعې خاوند و، نو ځکه د شاه حسین د
توجه وړ وګرځېد او د پټې خزانې لیکلو ته یې وهڅاوه. د
محمد هوتک بل کتاب خلاصة الطب نومېږي. محمد هوتک د
خپل دغه کتاب په باب لیکي ((بل کتاب مې کښلی دی په بیان
د طبابت او علاج چې خلاصه الطب یې نوم دی په سنه ۱۱۳۹
هجري چې مې دغه کتاب پادشاه عالم پناه مدظله مخ ته پېش
کا سل طلاوې یې ماته صله کا او هر کله داسې مراحم د پادشاه
ددې فقیر غریب په حق ډېر دی او ارکان د دولت ابدت مدت هم
پردی فقیر غریب نظر کا خاص بیا بهادرخان عالي مکان چې

[1] پښتو روزنه، ۸۹مخ



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

نن ورځ په قندهار کې د غرباو پر سر ظل د رحمت دی خالق دې عمر ډېر کا ) ) [1]

د محمد هوتک ژوند او مزار د کتاب د لیکوال زلمی هېوادمل د وینا له مخې محمد هوتک درېیم سړی دی چې د زاړه طب اصول یې په پښتو ژبه د پښتنو لپاره کښلي دي، دده ترمخه د خوشال خان خټک طب نامه او ورپسې د عبدالحلیم اختیارات بدیعي یادولی شو.[2]

همدارنګه محمد هوتک د دېوان خاوند شاعرو، چې په خپله د خپل دېوان په باره کې لیکي: ((ما له یو دېوان د اشعارو هم شته چې په دې وخت مردف او مدون شوی دی او غزلونه او قصاید او رباعي لري کله چې طبع قاصر میل د شعر او وینا کا شعرونه کاږم او موزونان د روزګار یې خوښوي)) [1]

کومه نمونه چې محمد هوتک د خپلې شاعرۍ څخه په پټه خزانه کې ثبت کړې ده په دې ډول ده:

[1] زلمی هېوادمل، د محمد هوتک ژوند او مزار، خپرونکی د بایزید روښان پوهنتون، د ښوونې او روزنې پوهنځی، د لوړو او مسلکي تحصیلاتو مطبعه، کال ۱۳۷۲، ۱۴ مخ.
(۲) همدا اثر ۱۴مخ
(۱) زلمی هېوادمل، د محمد هوتک ژوند او مزار، خپرونکی د بایزید روښان پوهنتون، د ښوونې او روزنې پوهنځی، د لوړو او مسلکي تحصیلاتو مطبعه، کال ۱۳۷۲، ۱۴مخ.



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساقي پاڅه د سرو ملو ډک يو جام را
ستا له غمه نا ارامه يم ارام را
بې له ميو د بهار ننداري څه کړم
پسرلی شو د خوښۍ ښه پيغام را
دنيا پاته ده څو شپې مو يو ګړۍ ده
يو ګړۍ مې خوښ که مې کړی انعام را
د ښېلتون په تياريکو کې مې زړه شين شو
رڼا لمر د جام د ميو په ظلام را شين شو
ناکاميو د دنيا مې کام راتريخ کا
چې مې خوړ کا کام ترخه و مانا کام را
نه نشاط شته نه مستي شته نه رندي شته
چې سم رند هغه اوبه علی الدوام را
په اوبو مې سوړ زړګی لږ څه راتود که
محمد ته د اور ډک يو هسې جام را.

د محمد هوتک بل کتاب خلاصة الفصاحت نومېږي، چې د همدغه ادبي دربار په رڼا کې ليکل شوی دی او دده د وينا له مخې د فصاحت علوم يې د پښتنو طالبانو لپاره خلاصه کړي دي. ددغه ادبي دربار بل ښه عالم او شاعر ملا زعفران تره کی و چې د پټې خزانې مولف د پاچا د کينږلاس په نامه ياد کړی دی.



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي عالم په حکمت، رياضي او طب کې پوره لاس درلود او يو کتاب يې په طب او حکمت کې ليکلی و چې ((ګلدسته زعفراني)) نومېده او د پټې خزانې مولف ليدلی و [1]

ددغه ادبي دربار بل برخه وال پښتون سالار بهادرخان و چې د محمد هوتک په قول د پاچا بازو و او شاه حسين به په ((ورور)) ورته خطاب کاوه او د عوامو له خوا د ((امير الامرا)) په لقب يادېده. دا پښتون سالار علاوه پر مېړانه د سخاوت او ښه علم خاوند هم و، ښکلي او خوندور شعرونه به يې ويل او هر کله به چې له جګړې نه فاتح راغی نو شاعران به يې مېلمانه کړل او له هغوی سره به يې ادبي مجلسونه کول.

ددغه تورزن شاعر د يوې بدلې څو بيتونه په دې ډول دي:

بېلتون دې زور دی تر ليمو مې سهار نم څاڅي
لکه شبنم څاڅي
دا سره ياقوت مې په لمن کې ستا په غم څاڅي
په غم الم څاڅي
ګوره ليلی باران د وښو چم پر چم څاڅي
لکه شبنم څاڅي
راغله ليلی په شينکي خال نخا په ګلو کوي
په سرو منګلو کوي

(۱) پښتو روزنه، ۹۲مخ



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

سهار چې وځي سیل کا ، ږغ په بلبلو کوي
ګل په اوربلو کوي
ملالې سترګې یې کاته په ویرژلو کوي
زېب په کجلو کوي
د ژوبل زړه وینې په هر ګړی، هر دم څاڅي
لکه شبنم څاڅي
ښکلې نجلۍ د باغ په لور مه ځه نڅا مه کوه
عاشق رسوا مه کوه
وریت شوی زړه مې دی مین پورې خندا مه کوه
راشه جفا مه کوه
زه یم پتنګ ته یې ډیوه ما جلبلا مه کوه
نور ظلم بیا مه کوه
یم ستا له عشقه لېونی پر ما ماتم څاڅي
غم و الم څاڅي

ریدی خان مومند هم دغه ادبي دربار ته منسوب شاعر دی چې محمود نامه یې ولیکله او کله چې یې د پاچا په مخ کې ولوستله نو شاحسین زر طلا وي ورکړې. دا شاعر د شاه محمود هوتک سره په ۱۱۳۲هـ کال کې اصفهان ته تللی و او کله چې راغی نو بیا یې محمود نامه ولیکله چې د شاه حسین له



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوا ونازول شو دا کتاب چې د مثنوي په شکل کې دی یو باب یې محمد هوتک په پټه خزانه کې راخیستی دی.

بل پښتون شاعر چې دغه دربار ته منسوب دی نصرالدین خان اندړ نومېږي. ډېر زړور پښتون و په اصل کې د غزني و د پاچا حسین په وخت کې کندهار ته راغی او د خپلې مېړانې په اثر د پاچا د توجه وړ وګرځېد. دې پښتون شاعر د اشعارو دېوان درلود په شعر کې یې (نصر) تخلص کاوه د کلام نمونه یې په پټه خزانه کې شته.[1]

له دغو ځرګندونو څخه زموږ مقصد دادی، چې د کندهار ادبي دربار چې د پښتون پاچا شاه حسین هوتک له خوا جوړېده. په منظم ډول د پښتو ژبې او ادب د غوړېدنې لپاره عملي ګامونه اخیستل او دا ددغه پښتون پاچا هغه پښتو پالنه ده چې په تاریخ کې یې ساری لږ دی. په خپله شاه حسین پښتو پالونکی پاچا او د پښتو ژبې ښه شاعر و، نو همدارنګه یې پر ځان د هغه وخت ډېر ښه عالمان او شاعران راغونډ کړي وو، لکه محمد هوتک، ملا یارمحمد هوتک، محمد یونس توخی، ملا زعفران تره کی، بهادر خان، ریدی خان مومند، نصر الدین خان اندړ، چې د پښتنو له بېلابېلو قومونو څخه وو، دغه ادبي دربار به په سلطنتي کتابتون جوړېده، هغه قصر

(۱) پښتو روزنه، ۹۸ مخ



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې نارنج یې باله په اوونۍ کې به یو ځل د پاچا تر مشرۍ لاندې ټولېدل او ادبي بحثونه او مشاعرې به یې کولې. د پاچا له خوا به دوی تشویقېدل او جایزې به ورکول کېدلې.

د مثال په توګه د پټې خزانې مولف او د دغه ادبي دربار منشي لیکي ((... نو یې زه وغوښتم خپل دربار ته او ماته یې تشویق وکا او الطاف یې ښکاره کا...))

همدارنګه محمد هوتک چې کله خپل کتاب خلاصة الطب شاحسین هوتک ته ښکاره کړ نو سل طلاوې یې ورکړې. په همدې ډول ریدی خان مومند چې کله خپل کتاب محمود نامه پاچا ته وړاندې کړ، نو زر طلاوې یې ورکړې.

په همدې ارتباط محمد هوتک لیکي: ((چې یوه ورځ د پاچا په قصر کې مجلس و، فضلا او علما سره راټول شوي وو، ناڅاپه احوال وشو چې قاصد راغلی دی او پیغام یې له لرې ځایه راوړی دی. ملا زعفران چې ددې دربار ښه شاعر د باندې ووت یو ګړی پس بېرته راغی او د یوې فتحې زېری وکا چې هغه د شال او ږوب د فتح زېرې و دغه بیتونه یې وویل:

د حسین پادشاه د بخت ننداره ګورئ
چې یې فتح په لښکرو ږوب و شال کا

ددغو بیتونو په اورولو سره پاچا ژېړ زعفراني شال ورکړ او بیا یې د مجلس ټولو حاضرینو ته شالونه وبخښل.))



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا وو د شاه حسین هوتک هغه تشویق چې د پښتنو شاعرانو سره یې کاوه او پر هغو باندې یې تل مهرباني کوله او دغه تشویق په حقیقت کې د شاه حسین هوتک د خپلې ژبې او ادب سره د زړه له تل نه د رښتینې مینې یو څرګند ثبوت دی.

همدغه وجه وه. چې په دغه ادبي دربار کې د علم او ادب په مختلفو ساحو کې مهم اثار رامنځته شول د همدغه پاچا په امر د رحمان بابا د دېوان زیاتې نسخې کاتبانو ولیکلې او په خلکو کې خورې شوې چې د پټې خزانې د مولف په قول د دغه کار لپاره یې کاتبان پېښور ته استولي وو. چې دا هم د دغه پاچا بې سارې مینه له پښتو سره څرګندوي. د ژبپالنې لیکوال د دغه ادبي دربار په باب کښلې دي ((... که څه هم د دې ادبي دربار کومه لیکله شوې کړنلاره موږ ته نه ده راپاتې خو هغه علمي او ادبي کارونه چې د دې دربار په سیوري کې ترسره شوي دي څرګندوي چې یو لوی هدف یې د پښتو کتبي ذخیره زیاتول او پښتو ته په هره برخه کې د اثارو منځته راوړل وو لکه د طب په برخه کې ((خلاصة الطب)) د حکمت په برخه کې ((ګلدسته زعفراني)) د تاریخ په برخه کې ((محمودنامه)) د ادبي څېړنو په برخه کې ((پټه خزانه)) د دین په برخه کې ((مسایل ارکان خمسه)) او ((جامع فرایض)) او نور کتابونه یې چې تالیف کړي او یا یې چاته لوړې جایزې پرې ورکړې دي. باور دی چې د شاه حسین هوتک د وخت دې ادبي



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دربار به د پښتو په لاره کې ډېرو نور خدمتونه هم کړي وي، خو ځرنګه چې د دې خدمتونو په برخه کې پټه خزانه زموږ يوازنی اخځ دی او بل ځای يې يادونه نه شته او هم ځرنګه چې پټه خزانې تر ۱۱۴۲هـ ق کال پورې په کندهار کې دوام کړی نو د دې دربار د لسو پاتې کلو له کارونو هم بې خبره پاتې يو ))[1]

په پای کې بايد ووايو چې د دغه پښتون واکمن په وخت کې پښتو ژبې او ادب ته بنسټيز کارونه شوي دي او د ادب په بېلابېلو څانګو کې ارزښتمن اثار رامنځته شوي دي. د دغه ادبي دربار له خوا د پښتو ژبې پالنه په ښه ډول سره کېدله، د اثارو په خپرولو کې يې لاس درلود او د ليکوالو او شاعرانو په تولولو، روزلو او پاللو کې يې هم خپله دنده په ښه توګه سرته رسوله، چې يادونې يې په پورته کرښو کې وشوې.

(۱) ژبپالنه، ۸۲مخ



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوهنیار اکبر کرګر

## د شیخ متي یو شعر:

# د پښتو ادب ځلانده عرفاني نمونه

زموږ په لرغوني فرهنګ کې تصوفي- عرفاني فکري جریانونه په دوو پړاوونو کې د څېړنې او مطالعې وړ دي. یو تصوفي، عرفاني فکري جریان په عامه او کُلي مانا چې تر اسلام څخه دمخه فرهنګونو د اغېزو او تاثیراتو مثالونه لري او بل د اسلامي فرهنګ تر خپرېدو وروسته تصوفي، عرفاني جریانونه چې تر زیاته حده د اسلامي او عربي فرهنګ او قراني ایاتونو او احکامو پر بنسټ تفسیر او توجیه شوي دي.

## لومړی پړاو:

په تاریخي لحاظ زموږ فرهنګ او فرهنګي شتمني زموږ د ولسونو په مغز او روان کې د پېړیو پېړیو له خوا مدینتونو، فرهنګونو، مذهبونو، کیسونو، نړۍ لیدونو، اسطورو او افسانو د اسې ترسب دی، چې د پلټنو په ترخ کې د هغو په منشاء او سرچینو پوهېدی شو. تصوفي عرفاني فکري



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

جریانونه د شرقي فلسفي نړۍ لید سره په ترکیب کې راڅرګند شوي. هېڅکله یې خالص او ناب شکل نه دی غوره کړی، بلکې یو په بل کې او په ګډه سره د یوه فکري سیستم په توګه منځته راغلي، دوام یې کړی او د تر منځه تللو وروسته یې اوس هم نښې نښانې او اغېزې لیدلی شو. په دغه پړاو کې زردشت د چوپاني دورو د افکارو له تکوین څخه راهیسې د زروان (Zar vana) یا ناپایه زمان راهیسې چې نور او ظلمت، رڼا او تورتم د هغه مولود بولي او په فکري لحاظ د اهورا او اهریمن یا اهورا مزدا (یوائینی یوه خدای) او اهریمن د هغه تخلیق بولي، یو ډول مونیزم یا یووالي جوتوي، د څلورو پړاوونو ((یعنې د نېکو افکارو مقام، د ښو خبرو مقام، د ښو کارونو مقام، د ابدي عظمت لومړنی پیغام دی، چې ددې سیمې په فرهنګ کې ډېر لوړ او عالي مقام لري او انسان ښو چارو ته رابولي، انسان په دغو مراحلو کې اهورا ته نژدې کوي.

د زردشت د افکارو د ټوکېدو خاوره د بودایي مدنیت لپاره ښه کرونده شوه. بودا هم د نېکو چارو وعظ وکړ او د هغه زده کړې او تعلیمات له هندوکش څخه اخوا تېر شول، کلونه کلونه یې دوام وکړ. بودا ویل:



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

((ای زاهدانو هغه څوک چې ټول وخت سهار، غرمه او شپه یوازې یوه شېبه خپل زړه له نېکۍ ډک کړی، هغه ثواب چې ترلاسه کوي یې د هغه چا تر ثواب نه ډېر زیات دی چې سهار، غرمه او شپه هره شېبه د خوړو سل لوښي خیرن کړي. د دغې نېکۍ لپاره مینه او غماض لازم دی.)) (۳، ۲۰) د بودا دغه اخلاقي زده کړې د یوه صوفي او عارف لپاره چې خپل زړه یوازې د خدای کور بولي ډېر ښه درس دی.

زموږ په فرهنګ کې له اسلامي مدنیت څخه دمخه د یوناني فلسفي افکارو افلاطوني او نوی افلاطوني افکارو له اغېزو هم سترګې نه شو پټولی. لنډه دا چې شرقي افکارو له هند، چین، ایران، یونان او نورو فرهنګونو او مدنیتو څخه زموږ په فرهنګ او تاریخ کې هم ترسب کړی او خپله اغېزه یې پرې ایښې ده.

## دویم پړاو:

زموږ له فرهنګ سره د اسلامي مدنیت او فرهنګ یوځای کېدنه او په دې سیمه کې د اسلام خپرېدل او نفوذ زموږ د سیمې په فکري جریانونو کې یو بل پړاو پیل کړ. دا پړاو د اسلامي فرهنګ پیل دی.



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دویمه او دریمه هجري پېړۍ کې په بغداد یعنې د خلافت په مرکز او نورو مراکزو کې تصوفي او عرفاني افکار منځته راغلل.

په اسلامي نړۍ کې مشهورو عارفانو او صوفیانو د قراني احکامو پر بنسټ د خپلې لارې او طرقیت لپاره د ستاویزونه و پلټل د مثال په ډول: په قران کې د میثاق په باب ایت دی، چې صوفي ورته د ((مینې پیمان)) وایي چې د انسان او خدای ترمنځ موجود دی. همدارنګه په قران کې ((امانت)) ته اشاره ده چې نړیوالو ته وړاندې شو (انسان). ځمکې او اسمانونو دغه امانت نه شو ساتلی، بلکې انسان ومانه. په قران کې مومن ته د دیدار وعده ده، چې د قیامت په ورځ خدای له انسان سره ګوري، له دې پرته خدای په دې نړۍ کې هر چېرته وي، په مشرق کې په مغرب کې او هرځای ته چې انسان مخه کړي خدای شته او دا هغه ټکی دی چې انسان هر چېرته مخه کړي، کولای شي دغه مفکوره په انسان کې وګوري او انسان ته د شاه رګ څخه هم نږدې دی.

خو کله چې په پښتو ادب کې دا مساله مطالعه کوو، پښتني فرهنګ هم په دغه پراخه سیمه ییز فرهنګي چوکاټ کې مطالعه کېدی شي او په دغه فرهنګ کې فکري جریانونه هم ګوښي نه شي مطالعه کېدی.



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

شیخ متي یو له دغه ډول مبتکرو عارفانو او د شور او وجد خاوند معلومېږي چې کېدی شي د هغه په یوه شعر کې د وخت د لاسبرۍ فکري جریان اندازه ولګول شي.

لوی استاد مرحوم عبدالحی حبیبي د پټې خزانې په حواله لیکي: ((شیخ متي د عباس زوی و چې عباس د عمر او عمر د خلیل زوی و. خلیل د غوریا او غوریا د کند ابن خرښبون زوی و. دا مشهوره کورنۍ د خرښبون تر مرګ وروسته په ارغستان، پښین او پېښور کې خپره شوه او شیخ متي دوه ورونه نور هم درلودل چې حسن او امران نومېدل د امران مزار تراوسه د کوږک پر غره دی چې هغه غر دده په نامه ((خواجه امران غر)) هم بلل کېږي او یوه خور یې ((بي بي خالده نومېده چې قبر یې تراوسه هم په پښین کې مشهور دی او په کلات کې د ترنک پر غاړه د ((خالاکلي)) هم ددې په نامه تراوسه باله شي چې دا په ژوند هلته اوسېده.

شیخ متي پر (۲۲۳هـ) زېږېدلی او د (۶۵) کالو په عمر د ترنګ پر غاړه پر ۲۸۸هـ کال وفات شوی دی، دده مزار تراوسه هم د کندهار شمال شرقي خواته تقریباً (۵۰) میله لرې پر یوې غونډۍ واقع دی چې کلات یې بولي او دی په کلات بابا مشهور دی، ده خپل ژوند هم د ترنګ پر غاړو او د غونډان په غره او د کلات په حدودو کې تېر کړی دی.)) (۴، ۱۲).



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه راز استاد حبيبي د نعمت الله هروي د مخزن افغاني په قول چې يو بل مشهور كلاسيک اثر دی را نقلوي چې: ((ان طالب حقايق و كاشف معاني زبده ابراو خلاصه اصرار شيخ متي خليل صاحب عبادت و رياضت بود. ايشانرا سر حلقه دوازده سړبن ميگويند و افغانان بسيار ارادت می اوردند و مريد ميشدند چنانچه غلغله كرامت ايشان در تمام منتشر شد.)) (۴، ۱۲۴) دغه راز استاد د شيخ متي عارف د عرفاني شخصيت او مقام د اثبات په ترخ کې په پټه خزانه کې له ((افضل الطرايق)) څخه يو حكايت په دې عبارت رانقلوي: ((يوه ورځ شيخ متي پر لار تېرېده، چې هلته د بېرې د بېرې پرتې وې او لار يې بنده كړې وه. چې دغه ځای يې وليد، نو څو شپې متواتر راغی او له هغې لارې څخه يې د بېرې او كاڼي ايسته كړل. يوه دهقان د شپې خپله ځمكه اوبوله ده ته يې وويل: ته د خدای دوست يې او ټول خلق ستا احترام كوي. نو دونې زحمت ولې پر ځان تېروې او دغه لار پاكوې شيخ متي هسې ځواب وركړ، چې يوه ګړۍ د خلقو خدمت تر هرڅه ښه دی.)) (۴، ۱۲۵)

د پټې خزانې مولف زياتوي، چې شيخ متي يو اثر هم كښلی و چې نوم يې و ((د خدای مينه)) دغه كتاب په كلات کې د شيخ متي په زيارت پروت و او زيارت كوونكو به لوستلو، په



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغـه اثـر کـې مناجاتونـه او دعائيـه شـعرونه و ، خـو دغـه اثـر تر او سه تر لاسه شوی نه دی.

اوس د دې لپاره چې د عارف شيخ په يو ائينې لاسته راغلي شعر څه وو ايـو او د هغـه د عارفانـه او صـوفيانه افکـارو جـاج واخلو نوموړی شعر رانقلوو:

پـــر لويـــو غـــرو هـــم پـــه دښـــتو کـــې
پـــه لـــوی ســـهار پـــه نيمـــو شـــپو کـــې
پـــه غـــاړو رېغ او پـــه شـــپېلکو کـــې
يـــاد ويرژليـــو پـــه شـــپېلو کـــې
ټـــول ســـتا د يـــاد نـــارې ســـورې دي
دا ســـــتا د مينـــــې ننـــــدارې دي

جنـــډې زرغـــون کـــه پـــه بيـــديا دی
د بـــربڼ خواتـــه پـــه خنـــدا دی
ترنـــګ چـــې خـــړ دی پـــه ژړا دی
دا ټـــول اغېـــز د مينـــې ســـتا دی
ټولـــه ښـــکلا دې ســـتا لـــه لاســـه



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ای د پاسوالو پاسه پاسه

که لمر روښانه مخ یې سپین دی
یاد سپوږمیه تندی وریندی
که غردی ښکلی پرتمین دی
لکه هنداره مخ د سین دی
ستا د ښکلا دا پلوشه ده
دا یې یو سپکه ننداره ده

دلته لوی غرونه زرغونېږي
د ژوند ورمې په کې چلېږي
بوراوې شاوخوا کړېږي
سترګې لیدو نه یې هیښېږي
تل د نړۍ په ښکلیده یې !
لویه خاونده ! ټوله ته یې !

خاونده ښکلی ستا جمال دی
ښکاره یې لور په لور کمال دی
که ورځ که شپه که پېړۍ کال دی
ستا دقدرت کمکی مثال دی



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا د لورونو یوه رڼا ده
دلته چې جوړه تماشا ده

زړه مې دا ستا د مینې کور دی
سوی د عشق په سوځند اور دی
رپې و تاته ستا پر لور دی
بې له دې هېڅ دی ورک یې پلور دی
ستا د جمال په لیدو ښاد دی
که نه وي دغه نور برباد دی

په غرو کې ستا د عشق شپېلکی دی
ددې نړۍ په عشق سهی دی
که غټ که وړ که پڼد نری دی
ستا د جمال ځری هر شی دی
چې پر دنیا مې سترګې پرې سوې
ستا د جمال په ننداري سوې

نه هسک نه مځکه وه تورتم
تیاره خپره وه ټول عدم و
نه دا ابلیس نه یې ادم و



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا د جمال سوچه پرتم و
چې سوښکاره ښکلې دنیا سوه
د پنځ پر لوري یې رڼا سوه

زه چې څرګند پر دې دنیا سوم
د ښکلي مخ په تماشا سوم
ستا پر جمال باندې شیدا سوم
له خپلې ستې را جلا سوم

په ژړا ژاړم چې بېلتون دی
یمه پردېسي بل مې تون دی

وګړي والي (متي) ژاړي
سوري یې دوري غاړې غاړې
څه غواړې څه وایې څه باړي
خپل تون او کور و کلی غواړي
چونې چې بېل سي نیمه خوا سي
تل یې د بڼ په لور ژړا سي



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ د شيخ متي د شعر پوخوالی او شعريت.
ـ د شعر تصوفي او عرفاني اړخ
ـ د شعر فلسفي- عرفاني اړخ

## د شعر پوخوالی:

د شعر دا اړخ موږ ته راجوتوي چې په پښتو شعر او شعري کلام کې فکري غنا ان له پخوا موجوده وه. په دې شعر کې موږ داسې پوخوالی او فکري غنا ليدلی شو، چې د يوې پياوړې فرهنګي غنا نمايندګي کوي. دا خبره هم راجوتوي، چې پښتانه شاعران له تصوف او عرفان سره اشنا و. په دې برخه کې يې زياتې شتمني درلودې، خو دا چې لاتراوسه نه دي ترلاسه شوي، يو عمده دليل دا کېدی شي، چې د پښتنو سيمه تل د لويديځ او ختيځ او منځنۍ اسيا له خوا د يرغلونو او تاړاکونو د تېرېدو لاره ده او د اوسني جنګ په څېر، په تېرو جنګونو کې هم زرګونه فرهنګي اثار د اسونو او کاروانونو په پښو کې لتاړ شوي او له منځه تللي دي. پر دې اساس ده چې موږ د فکري جريانونو د تحليل له پلوه لږ مواد او اثار لرو.

## د شعر تصوفي او عرفاني اړخ:



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

د شیخ متي په پورتني شعر کې یو ډول نه، بلکې په پوره ډول شرقي تصوفي فکري جریان لیدل کېږي. شعر د مولانا د مثنوي په تقلید په ((غاړه ږغ)) یا ((نی)) د فراق په سندره پیل کېږي او ټول موجودات د واحد او یو اځیني ذات د موجودیت شهادت ته رابولي.

استاد حبیبي هم ددې خبرې یادونه کوي چې:

((شیخ متي له هغو لومړیو حلقو څخه دی، چې پښتو شعر ته یې یو فلسفي ښکلی رنګ ورکړی او د جمالیت ټکی یې ښه روښ کړی دی مګر دده فکر تل له مادي خوا څخه معنوي او الهي افکارو ته میل لري. له مادي اشعارو څخه تل معنوي او مافوق الطبیعه نتایج اخلي او یوازې د مادې په ستاینه کې ځان نه ډوبوي.)) (۴، ۱۲۸) سره له دې چې د شیخ متي ټول اثر نه شته، خو موږ کله چې د حد اقل تحلیل په لټه کې یو. په همدې مطلوب شعر کې چې له طبیعت او د طبیعي ښکلا له ستاینې پیل کوي، په جزئیاتو غرونه، شپه او ورځ (زمان) غاړه (نی) د غمجنو اوازونه، شنه شوي، بڼونه، ترنګ سیند او هر څه چې ښکلا او جمال لري، په واقعیت کې یو تمثیل کوي.

دغه راز د لمر مخ، د سپوږمۍ ورین تندی، پرتمین غرونه، د سیند د هنداري په څېر مخ، زرغون غرونه، د ژوند وږمه،



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بوراګان او د هغو سندرې ټول او ټول د لوی ذات د یو واحد وجود په هستۍ شهادت ورکوي. شاعر له دغه توصیف او تمثیل څخه د لوی ذات خاوند تعالی جمال، ښکلا، زمان او مکان د خدای له قدر ته بولي. کوم چې ځای یې زړه کې دی، زړه چې د سیر او ((قلب)) د خاوندانو په فکر د خدای د مینې کور دی. خو د شاعر ټوله اند ښنه او غمنامه په دې کې ده چې له بېلتونه ژاړي.

بشنو از نی چون حکایت میکند
از جدایی ها شکایت میکند

په ژړا ژاړم چې بېلتون دی
یمه پرد بسي بل مې تون دی

نوموړی هم په فراق کې د چونې (بلبل) په څېر په دې خاطر په ژړا او ماتم کې دی، چې جلا دی او دغه فراق او جلاوالی د هغه د رواني رنځ او نارامۍ منبع ده چې یوازې په وصال سره رفع کېدی شي.

## د شعر فلسفي- عرفاني اړخ:

پورتنی شعر په شرقي دود فلسفي رنګ هم لري. لکه څرنګه چې د ډاکټر عبدالحکیم په قول مولانا هېڅ کله د لرغونو



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوناني فلاسفه وو لکه ارستو، اپلاتون نوم نه یادوي او نه هم له قران پرته په بل څه استناد کوي. د شیخ متي په شعر کې هم په ظاهر کې هېڅ نه شته خو بیا هم لولو:

نـــه هســـک نـــه ځمکـــه وه تـــورتم و
تیـــاره خپـــره وه تـــول عـــدم و
نـــه دا ابلـــیس نـــه یـــې ادم و
ســـتا د جمـــال ســـوچه پـــرتم و
چـــې ســـو ښـــکاره ښـــکلې دنیـــا ســـوه
د پـــنځ پـــر لـــوري یـــې رڼـــا ســـوه.

(( په اریایي افکارو کې چې روح او فکر یې د واحد خدای اهورا مزدا په باب و، په ستاینه یې پیل وکړ واحد خدای یې د (اهورا) او پوه (مزدا) وباله چې ځمکه او اسمان یې هست کړه. د هخامنشیانو په کتیبو کې لولو چې اهورا مزدا ځمکه دلته... اسمان هلته... انسان... او د انسان لپاره خوښي هست کړه، زردشت د سینا په ۴، ۴۴ بند کې هغه د اوبو، ګیاوو، باد، اسمان، رڼا او تورتم او په لنډه توګه د ټولو موجوداتو هستوونکی بولي. )) (۵، ۱۰۵) افلاطونیان هم نړۍ او موجودات مثل بولي. نور فلاسفه هم دغه ډول عقاید وړاندې کوي. یوناني فلسفه په شرقي تصوف کې بې اغېزې نه ده ان په



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

اسلامي فرهنگ کې یې ژورې ریښې درلودې، په دویمه او دریمه هجري پېړۍ کې زیات شمېر یوناني فلسفي اثار په بغداد او اسکندریه کې په عربي وژباړل شول، زیاتره فلاسفه وو په ارسطو او فلسفي افکارو د توضیح او تشریح کار وکړ، ستر اسلامي پوهان له ابن سینا، فارابي امکندي، مهر وروی او نور د یوناني- اسلامي فلسفې افکارو ښه متشرحین وو، خو تصوفي او عرفاني افکارو په اسلامي نړۍ کې د ازادۍ غزونې وس درلود. شعر او ادب دغه ډلې یعنې عارف او صوفي د خپل پیغام بستر کړ. شعر فلسفه، عرفان او تصوف وروزه، چې د شیخ متي شعر یو له دغو دی. اوس چې خپلې خبرې راټولې کړو ویلی شو چې:

پښتني فرهنګ په فکري او معنوي لحاظ د ډېرو ژورو فلسفي، عرفاني او تصوفي افکارو جوګه دی، چې کتبي اثار یې په دې سیمه کې د کوچېدلو، لېږدېدنو او جنګونو او خونړیو پېښو په ترځ کې له منځه تللي، هر کله چې د راوروسته فرهنګ د بیا زرغونېدو لپاره بیا او بیا ماضي ته اړه پیدا شوې ده. فرهنګي جریان له انقطاع سره مخامخ شوی او تر کلونو وروسته راټوکېدلی دی.

پښتو شعر د لسیزو او پېړیو په جریان کې د فکري جریانونو حاصل و او دی. دې شتمنۍ په خپله څولۍ کې درې سیمې او



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

د فرهنګي حوزې افکار له ځانه سره ساتلي، روزلي او وروسته نسلونو ته يې انتقال کړي دي. په دې ترڅ کې د شيخ متي مناجات دا سې کوچنۍ نمونه ده، چې هم عرفاني او تصوفي رنګ لري او هم فلسفي مفاهيم او فکري فلسفي جريان راڅرګندوي. موږ په نهايت کې دې ته رابولي، چې په پښتو کتبي کلاسيکو متونو کې د فکري جريانونو څېړنه، د معنوي خوندي ارزښتونو په نوي مطالعې موږ لاسبري کوي. نويو نتايجو ته مو رسوي هغه څه چې تراوسه پورې ورته لږه پاملرنه شوې ده.

## يادښتونه


۱- داکتر محمد اقبال، سير فلسفه در ايران. ((ترجمه امين حسين اريانپور)) تهران ۲۴مخ.

۲- هنر و مردم شماره سي ويکم ، تهران

۳- عبدالحسين زرين کوب، ارزش ميراث صوفيه، (تهران)

۴- عبدالحی حبيبي، د پښتو ادبياتو تاريخ ۲ ټوک (کابل: پښتو ټولنه، (۱۳۸۲)ل کال.

۵- ديانت زردشتی، ترجمه فريدون وصحن – مقاله دوم، تهران، بنياد فرهنګ، ۱۳۴۸.




Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوهنمل شاه محمود ((محمود ))

# روابط میرویس هوتکی با شاهان گورگانی هند

**مقدمه:**

طوفان مغول و تاتار از جمله وقایعی بود که مثل اکثر بلاد مشرق بر پیکر افغانستان صدمات بزرگی وارد کرد و ملت شجیع افغان برای مدمت تقریباً پنج قرن با حکام مربوطه انها پنجه نرم کرد و پیوسته در کوشش بود تا حکومات ملی خود را مجدداً تاسیس نماید.

حکام مغول و تیموری در طول قرنها با مردم افغانستان در مجادله بسر برده و صدمات بزرگی را متحمل شدند و بعضاً با امتیازاتی که به افغانها دادند تا حدی توانستند خود را از صدماتی نجات دهند ، در قرن دهم هجری، صفوی های فارس و اوزبک های ماوراء النهر به تهاجمات خود به افغانستان شروع نموده در تجزیه ولایات افغانستان به اقداماتی متوسل شدند. بابر که در کابل پای خود را محکم کرد پسانتر با اشغال هند از خانواده افغان (لودی ها ) پایتخت را به انجا انتقال داد



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

و در نتیجه شکست اوزبکها از صفویان قسمت های غربی افغانستان بدست صفوي ها افتاد. و به اینصورت در طول دوصد سال دیگر ولایات شرقی و کابل، بدخشان و مضافات ان در دست گورگانی های هند و ولایت هرات و سیستان در قبشه صفوی ها بود، ولایت قندهار منطقه متنازع فیه هر دو دولت بو که زمانی بدست یکی و مدتی بدست دیگری بود.

در سال **۹۵۲** هجري همایون پسر بابر در بدل معاونتی که از طهماسب صفوی برای بدست اوردن اقتدار از دست رفته حاصل داشت قندهار را به فارس گذاشت ولی پس از چندی دوباره این ولایت به دولت گورگانی هند مربوط گردید در دوران جلال الدین اکبر قندهار در دست گورگانی ها بود ولی در سال **۱۲۲۲**م در عهد جانگیر، شاه عباس پادشاه فارس (**۹۵۸** - **۱۰۳۸** هجري) اراده اشغال قندهار نمود و با اردوی بزرگی عازم قندهار شد پس از محاصره چهل روز این شهر را بدست اورد و در عهد جهانگیر گورگان ها کدام اقدام دیگر برای اشغال مجدد قندهار بعمل نیاوردند و تا هنگام قیام میرویس خان هوتکی تسلط صفوی ها بر قندهار بود.

## قیام میرویس خان و تشکیل دولت هوتکی:



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

میرویس پسر شاه عالم متولد در سال ۱۶۷۳م است مادرش نازو دختر یکی از خان های عشیره توخی بود ، میرویس در محیط شهری قندهار رشد کرد. این شهر از نظر صنعت و تجارت و پیشه وری و فرهنگ رونق داشت و نسبت به فقر و عسرت زندگی مردمان کوهستان شرق، مردم جنوب نسبتاً مرفه تر بودند و قندهار که در سر راه تجارتی بین هند و ایران قرار داشت برای تشکیل یک دولت ملی مساعد تر بود.

میرویس از نزدیک شاهد استبداد و ظلم و تبعیض حکومت خارجی نسبت به هموطنانش گردید (۱) میرویس بخاطر رهایی مردم و کشور خویش از دست صفویان چهار بار به دربار شاه حسین صفوي داد خواهی نمود و ضمناً اوضاع دربار را مطالعه کرد. چون میرویس از فریاد رسی و داد شنوی دربار اصفهان مایوس گشت از انجا عزم بیت الله نمود و از علمای عرب فتوا قتل گرگین و جواز جنگ را بدست اورد. و بدربار اصفهان نیز انقدر نفوذ کرد که درباریان را نسبت به گرگین ظنین تر ساخت بعد ازین میرویس خان به قندهار برگشت و جرگه ملی بزرگ را در کوکران، مانجه جمع و سوگند نمودند تا تسلط اجنبی را از کشور خویش بر اندازند.



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بعد از ان میرویس خان به مدد تمام اقوام قندهار گرگین خان بیگلر بیگی صفویان را با تمام لشکر او قتل کرده و شهر قندهار را بدست اوردند.(۲)

## روابط میرویس با دربار گورگان هند:

قندهار از حیث جغرافیای در بین دو سلطنت ایران و هند اهمیتی به سزا داشت و وقتیکه مبارزین ملی به قیادت میرویس خان پرچم استقلال را بر ان دیار افراشتند از یکطرف دربار گورگانی هند از استماع این خبر به تزلزل افتاد و استقلال افغانها را برای خود خطری بزرگ دانست زیرا که حکمداران گورگانی هند از تجدید عظمت و امپراطوری غوریان، خلیجان و لودیان ترسیدند.

پوهاند عبدالحی حبیبي به نقل از صمصام الدوله و خافی خان می نویسد.

وقتیکه خبر اعلان استقلال افغانها را تا جای به رسمیت شناختند ولی با دربار اصفهان مفاهمه کردند تابدفع این واقعه که برای ملک و ملت طرفین خلاف رای صایب است به زودی بکوشند(۳) اما حاجی میرویس خان که موقعیت خطرناک خود را در بین دو سلطنت قوی بخوبی درک کرده بود بزرگان ملت را در جرگه سومین فراهم اورد و بعد از انکه



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

موقف سیاسی ملت افغان را در بین دو دولت شرقی و غربی با قوای ایشان نشان داد گفت: (( اگر با من متفق باشید و یاوری کنید. همواره پرچم حریت را بلند خواهیم داشت و نخواهیم گذاشت که باز (ربقه) غلامی اجانب بگردن ما افتد. کسانیکه غلامی اجانب رامی پذیرند، ما را با ایشان ربطی و مودتی نیست و در دیار ما سکونت نکنند )) (۴)

جرگه ملی بعد از شنیدن خطابه زعیم ملی با وی موافقت کرده و مواعید موکدی دادند که تا دم واپسین از ازادی و استقلال ملی خویش دفاع کنند. (۵)

اخبار وقایع قندهار بزودی بدربار صفوی رسانیده شد و میرویس خان هم نامه ای را به پادشاه صفوی ارسال داشت. مرحوم حبیبی به نقل از اثر جنگ افغان و فارس می نگارد: میرویس در نامه خویش یاد اور شده بود: پادشاه از تدبیر کار بگیرد و قشونی را به قندهار نفرستد. زیرا تمام افغانان به کشتار ایشان دست بر قبضه شمشیر ایستاده اند و اگر مجبور شوند شاید قندهار را به پادشاه دهلي بسپارند، بنا بر ان پادشاه صفوی باید موقع سیاسی این کشور را ملحوظ دارد. (۲)

تلاش صفوی ها بخاطر اشغال دوباره قندهار به ثمر نرسید و میرویس خان درین هنگام از یک طرف جنگ را باصفوی ها



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ادامه داد و از جانبی روابط سیاسی خود را بادربار گورگانی هند بهتر ساخت. و برای تشیید روابط دوستانه سیاسی حاجی امکو برادر خود را بحیث سفیر بدربار دهلی نزد فرخ شیرگورگانی فرستاد و هدایای دوستانه را بذریعه وی ارسال داشت. (۷)

فرستادن سفیر به هند ، فهم سیاسی و مهارت نظامی میرویس را نشان میدهد بخاطر انکه ترس این بود که دولت صفوی نیز با هند همدست شود و خاک افغانی را بین خود تقسیم نماید. از این رو میرویس نیکه با اینکه از نیت دربار گورگانی هند نسبت به افغانها بی اطلاع نبود وی باز هم برای اینکه وضعیت را خوبتر بخود روشن کند و هم بنابر تقاضا و وجیبه همسایگی خواست نیات دوستانه افغانان را به شاهان متذکره روشن بسازد و وهمیکه از استقلال افغانها برای دربار هند تولید شده بود رفع نماید و حتی یکقدم فراتر گذاشته از دربار هند در وقت ضرورت استعانت کند.

به اساس همین مفکوره سفیر افغانی مکتوبی را مبنی بر خواهشات دوستانه افغانان و اطلاع تصمیم ازادی خواهان نسبت به استقلال خاک خود در سال (۱۷۰۹م) به عنوان شهزاده دربار هند نوشت.



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

(( ما افغانان نسبت به تمام همجواران به همسایگی شاه هندوستان افتخار داریم، زیرا همکیش و هم مذهب هستیم. و به همین نسبت اعتماد قوی داریم که در موقع ضرورت با ما معاونت خواهد کرد.

ما علیه شاه فارس تصمیم گرفته ایم زیرا او برای تجاوز و برای محاربه بر ضد مذهب ما قشون می فرستند ازین جهت ما از مقتدر ترین شهزاده خواهش میکنیم تا حقیقت حال ما را در پیشگاه معظم ترین پادشاه هند تقدیم و روشن نمایند )).

چون فعلاً در ان ولا (هند ) امنیت به کلی حکمفرماست هر گاه در وقت ضرورت یکدسته قشون برای معاونت و پشتیبانی ما فرستاده شود به یمن و رحمت خداوند بر ضد دشمنان مذهب خود غالب و مظفر خواهیم شد.

افغانها شجیع هستند و شاید بعض مقتضیات ما را مساعد نماید که در هنگام یکجا شدن دو قشون (افغان و هند ) بعض از توابع فارس را تحریک نمایم (۸) و پادشاه هند انها را مددنمایند و اگر به هیچ حال طاقت مقاومت نیارند جمع تجدریف افغان کوچیده ورو به هندوستان اورند.(۹ )

وقتیکه این مکتوب به شاه هند رسید تو هم خطریکه از استقلال افغانها نزدشان تولید شده بود رفع گردید ، نامه



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوران را مـورد نـوازش قـرار دادنـد بـاجواب اطمینـان بخـش مرخص نمودند.

دربـار دهلـی حکمـران قندهار بـه رسـمیت شـناخت و خطـاب (حاجي امیر خانی) را با تحف شمشـیر و فیـل بدربار میـرویس گسـیل داشت. (۱۰) امـا عمـر ایـن زمامـدار بـزرگ افغـان انقـدر طـول نکشـید کـه مقاصد بزرگ خـود را در راه توحیـد ولایـات افغانستان عملي کند وی در طول هشت سال حکومت قندهار و ولایات نزدیک انرا متحد ساخت تـا اینکـه در نـومبر **۱۷۱۵**م وفات یافت.

روح ازادی خـواهی و جذبـه ملـی را کـه او در ملـت خـود احیـا نمود از بیـن نرفت قیـام ملی را کـه او بعمـل اورد و احسـاسـاتی را کـه در ملت قهرمان افغان احیا نمـود موجب تشـکیل مجدد سلطنت بزرگ افغانها گردید.

## ماخذ


۱- غبـار، میـرغلام محمـد، افغانسـتان در مسـیر تـاریخ، کابل، **۱۳۴۲**) ص **۳۱۷**

۲- حبیبی، عبدالحی، تاریخ مختصر افغانستان جلد دوم، کابل **۱۳۴۹**، ص **۷۳-۷۴**

۳- حبیبي، عبدالحی، ایضاً، ص




Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴- بېنوا، عبدالروف، هوتکی ها، کابل، ۱۳۳۵، ص۵۲-۵۲
۵- افغانی سید جمال الدین، تتمة البیان فی التاریخ الافغان، ترجمه محمد امین خوگیانی، کابل، ۱۳۱۷، ص ۷۹
۶- حبیبی، اثر قبل الذکر، ص۲۴
۷- ایضاً، ص ۷۵
۸- بېنوا، اثر قبل الذکر، ص۲۴
۹- کروینسکی، تاریخ سیاح مسیحی، کابل، ۱۳۲۳، ص۲۲
۱۰- حبیبی، اثر قبل الذکر، ص ۷۸



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوهنمل اصف بهاند

# د پښتو په لرغونو ښځمنو شاعرانو کې د نازو انا دریځ

کلونه پخوا علامه عبدالحی حبیبي په ټولنیز ژوند کې د پښتني مېرمنې د رول په باب لیکلي وو: (( پښتنه مېرمن د پښتنو د ټولنې او اجتماعي سازمان شمری وه. ))[(١)] خو د پښتنو د ژوند په تاریخ کې داسې وختونه هم راغلي دي، چې پښتنه مېرمن کله کله د نورو قومونو تر ښځو زیاته نازوله شوې او کله یې بیا حقوق تر پښو لاندې شوي دي.

سره له دې چې د ټولنیز ژوندانه پېښو پښتانه له ادب او هنر څخه لرې ساتلي وو، خو بیا هم دوی لیک او لوست نه دی هېر کړی، د هنر او علم په ډګر کې یې د قدر وړ تجربې کړې دي. که د پښتو ادب په تاریخ کې په ځیر سره وکتل شي د مېرمنو برخه په کې ځلنده ده. په دې مقاله کې به په لنډ ډول د پښتو ژبې او ادب د سترې وثیقې یعنې پټې خزانې په استناد د پښتنو د

(١) پوهاند عبدالحی حبیبي، د زېري کالنۍ ، په پښتو ادب کې د مېرمنې برخه، پښتو ټولنه، ۱۳۵۷کال، ۱مخ



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

لرغونو ښځمنو شاعرانو په ډله کې د نازو انا پر دريځ خبرې وشي.

د پټې خزانې د روايت له مخې د پښتو ادبياتو په لرغونې دوره کې دغه مېرمنې شاعرانې تېرې شوې دي:

۱- زرغونه کاکړ
۲- رابعه
۳- نيکبخته
۴- نازو انا
۵- حليمه حافظ
۶- بي بي زينب

خو پرته له دغو ښځمنو شاعرانو د پښتو ادبياتو په لرغونو شاعرانو کې نورې ښځمنې شاعرانې هم تېرې شوې دي، چې ښايي تر اوسه پورې يې حال موږ ته معلوم نه وي او يا د نورو ماخذونو په ارتباط هغه و پېژنو لکه شهزاد ګله چې د حالنامې له مخې يې پېژنو.

د پښتنو په لرغونو ښځمنو شاعرانو کې تر ټولو قديمه شاعره زرغونه کاکړ ده، چې د کندهار په پنجوايي کې اوسېده.[1] د دغې سترې شاعرې د ژوندانه موده تر ۸۵ هجري څخه وروسته اټکل شوې ده. زرغونې کاکړې د نورو ادبي

(۱) عبدالحی حبيبي، د پښتو ادبياتو تاريخ، دويم ټوک، پښتو ټولنه، ۱۸۷مخ.



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

کارونو ترځنګ په ۹۰۳هـ کال د شیخ سعدي بوستان په پښتو نظم واړاوه.[۱] د پښتو ادب د لرغونو دورې ددې شاعرې نور څه نه دي راپاتې، یوازې محمد هوتک یې له ژباړل شوي بوستان څخه یو حکایت رانقل کړی دی، چې د زرغونې د ادبي قدرت څرنګوالی ورنه ښه ترا څرګند بدلای شي.

بله پښتنه شاعره چې د پښتو ادب لرغونې دوره کې اوسېده رابعه نومېده. د پټې خزانې د روایت له مخې دغه شاعره د بابر په زمانه کې په کندهار کې اوسېده[۲] له بده مرغه چې پرته له یوې رباعي څخه یې بله څه نه دی راپاتې.

ددې دورې بله شاعره او پوه ښځه نېکبخته وه چې په اشنغر کې اوسېدلې ده. د ژوندانه زمانه یې د ۹۲۰ هجري په شاوخوا کې اټکل شوې ده. علامه حبیبي لیکي چې ددې مدبرې او پوه مېرمنې احوال شیخ امام الدین په خپل کتاب اولیای افغان کې لیکلي دي.[۳] نېک بختې د خپل ادبي ژوند په موده کې یو شمېر موعظې او پندونه نظم کړل چې له هغه څخه یو کتاب جوړ شو او نوم یې ارشاد الفقرا ورباندې کېښود. د پټې خزانې

(۱) محمد هوتک، پټه خزانه، څلورم چاپ، د کابل پوهنتون خپرونې، ۱۳۵۲کال، ۱۱۱مخ.
(۲) همدا اثر، ۱۱۳مخ.
(۳) د زېري کالنۍ، ۱۳۵۷کال، ۱۴مخ.



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

د روایت له مخې دغه کتاب د محمد هوتک په لاس کې و او له هغه ځخه یې په خپله تذکره کې یو څو ټوټې خوندي کړې دي.[1]

د پښتو ادبیاتو په لرغونو ښځمنو شاعرانو کې بله شاعره بي بي زینبه ده چې د میرویس خان لور او یوه هوښیاره او عالمه ښځه وه. دغې اغلې مېرمنې د نورو پښتنو مېرمنو په تدریس کې لویه برخه درلوده. له بي بي زینبې ځخه یوه مرثیه راپاتې ده، چې پټې خزانې خوندي کړې ده. له دغې مرثیې ځخه د زینبې ادبي ځواک ښه ځرګند بدلای شي.

شهزاد ګله ددې دورې بله باتدبیره او پوهه ښځه وه چې شعرونه یې هم ویل د ((فرهنګ ادبیات پښتو)) لیکوال لیکي چې پلار یې د روښن داد نومېده او د تیراه له اوسېدونکو ځخه و، چې د جلال الدین اکبر په زمانې کې یې ژوند کاوه.[2]

ددې باتقوا او پرهېزګارې ښځې د کلام نمونه استاد هېوادمل په فرهنګ ادبیات پښتو کې خوندي کړې ده.

ددغو ښځمنو شاعرانو په څنګ کې د پښتو ادب او پښتنو لویه شاعره او مدبره ښځه نازو انا نومېده. نازو انا د پښتو ادبیاتو د لرغونو ښځمنو شاعرانو په ډله کې ډېره مشهوره،

---

(۱) پټه خزانه، ۱۰۲ مخ.
(۲) زلمی هېوادمل، فرهنګ ادبیات پښتو، د چاپ او خپرونې د دولتي کومېټې خپرونه، ۱۳۶۵ کال، ۲۲۷ مخ.



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

مدبره او پوهه ښځه وه. پلار يې د پښتنو مشر و. دی هم په خپله سپېڅلې غېږه کې لکه ميرويس نيکه ستر لارښود وروزه. نازو د علم ادب او توري خاونده وه او د خپل پلار د رياست په قلمرو کې په شجاعت او سخاوت مشهوره وه، لوست يې په خپل محيط کې له لويو علماوو څخه کړی وی.[1]

د نازو انا د مېړانې، سخاوت او خلاص لاس توب ذکر نور اثارو او ليکوالو هم ثبت کړی[2] نازو انا که له يوې خوا د قيادت، پوهې او وطن دوستۍ ښه سمبول وه، نو له بلې خوا د لوړ او نفيس ادبي ذوق خاونده هم وه. د پټې خزانې ليکوال د نازو انا د ادبي دريځ په برخه کې داسې ويلي دي: ((زما پلار هسې ويل چې نازو انا علاوه پر سخاوت او شجاعت او عبادت هسې ارتينه وه چې د خدای تعالی څخه په مناجات يې ډېر اشعار ويل او يو ديوان يې درلود چې دوه زره بيتونه په کې وو او هلته يې ښه نکات ادا کړي وو او داسې يې ويلي و چې نارينه يې هم نه شي ويلای.))[1]

د نازو انا د راپاتې رباعي په برخه کې که چېرې د نورو ليکوالو او ځينو اثارو له توصيفي خبرو تېر شو او د نازو انا د

(۱) د زېري کالنۍ، ۱۳۵۷کا، ۱۴-۱۵ مخونه.
(۲) کبرا مظهري ملو رو، پښتني ليکوالې او شاعرانې، لومړی ټولک د علومو اکاډمي خپرونه، ۱۳۶۲ کال، ۲۰مخ.
(۱) پټه خزانه، څلورم چاپ، ۱۰۳مخ.



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ادبي توان د معلومولو لپاره په خپله رباعي تر څېړنې لاندې ونيسو ښه به وي:

سحر ګـه وه د نـرګس ليمـه لانـده
څاڅکي څاڅکي يې لـه سترګو څڅېـده
ما ويـل څـه دي ښـکلي ګلـه ولـې ژاړې
دې ويـل ژوند مې دی يـو ه خولـه خندېده.

په دې رباعي کې نازو انا د ژوند يو عمومي انځور په هنرمندانه ډول وړاندې کوي. د نرګس د ګل غوړېدل او تر غوړېدو نه يو څو لنډې شېبې وروسته يې د ژوند پای ته رسېدل، د دې سبب شول چې نرګس د خپل ژوند پر لږه موده باندې وژاړي. که چېرې د نازو انا په دې شعر کې د شعر د جوليز جوړښت له مخې شعري انځورونه ولټول شي داسې به وي:

په دې شعر کې ګل له انسان سره تشبيه شوی دی. ګل مشبه انسان مشبه به، ښکلا لطافت نازکي او لنډه موده ژوند يې وجه شبه ده، چې يو عالي شعري انځور يې بللای شو.

دغه راز په دې شعر کې ژوند له يوې خولې خندا سره تشبيه شوی دی. ژوند مشبه، يوه خوله خندا مشبه به، لنډوالی او لږوالی يې وجه شبه کېدلای شي. څنګه چې دغه انځور د تشبيه



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

له اداتو پرته راوړل شوي دي، ځکه لوړ او عالي يې ارزيابي کولای شو.

د نازو انا په دغه شعر کې هم معنی او مفهوم شته، هم د شعري انځورونو له پلوه غني دي او د تخيل رنګيني او بداعت په کې ښه ښکاري، ځکه نو د نازو انا ادبي دريځ د نورو ښځمنو شاعرانو په ډله کې لوړ ارزيابي کوو. که چېرې نازو انا د هغه وخت له نورو ښځمنو شاعرانو سره په جلا جلا ډول پرتله شي هلته هم د نازو انا دريځ څرګند او ښکاره دی. نازو انا له نورو ښځمنو شاعرانو څخه ځکه لوړه او ښه ارزيابي کېږي، چې دا له يوې خوا په يوه ستره ادبي او سياسي کورنۍ کې زېږېدلې او لويه شوې ده، ځکه يې ښوونه او روزنه ضروري او ډېره ښه وه، چې د لوړې پوهې او ښې مطالعې درلودونکې وه، له بلې خوا دې ته ډېر ښه علمي ادبي او سياسي چاپېريال مساعد و او دغه چاپېريال ددې سبب شو، چې نازو انا د لوړې او ښې قريحې او ښه شعري ذوق خاونده شي، په دې صورت کې نو ښکاره خبره ده، چې دغسې يوې پوه او با مطالعې او د ښې قريحې خاوندې تخليق به هم ښه او لوړ وي. نازو انا که له يوې خوا دلوړ ادبي ذوق خاونده وه، له بلې خوا د خپل قام او خلکو په روحيه پوه او په درد يې متالمه وه او ددغه حالت انعکاس ددې په تخليقاتو کې څرګند و، چې ددې په راپاتې



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

رباعي کې يې ښه ليدلای شو ، ځکه نو د پښتنو په لرغونو ښځمنو شاعرانو کې د نازو انا دريځ ډېر لوړ او ښه ارزيابي کوو.



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

افضل ټکور

# د نازو انا په کورنۍ کې د پښتو شاعرۍ عنعنه

نازو انا د پښتنو د ملي قايد او مشر ميرويس خان نيکه عالمه او فاضله مور ده. دا د خپل وخت د پښتو مېرمنو يوه مېړنۍ او باتوره ښځه وه او د ژوند تر پايه پورې يې د پښتنو د يووالي او برياليتوب مينې په زړه کې ټوپونه وهل. زه د دغې تلپاتې پښتنې مېرمنې د ژوند او کارنامو په باب د دې لپاره نه غږېږم، چې يو خو زما د بحث موضوع نه ده او بله دا چې دا کار ډېر زيات لټون ته اړتيا لري، زه يوازې د دغې فاضلې مېرمنې په شمول د دې د کورنۍ د پښتنو شاعرانو په باب څو لنډې يادونې کوم.

د نازو انا په کورنۍ کې که د پښتو شاعرۍ د مطالعې او څېړنې تکل وکړو، نو پيلامه يې په خپله له همدې فاضلې او عالمې مېرمنې نه را شروع کېږي. نازو انا په خپله يوه خوږژبې او نازکخياله شاعره وه. په پټه خزانه کې د دغې مېرمنې په هکله لولو:



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

(( هسې نقل کا: چې نازو د سلطان ملخی توخي لور وه چې تولد يې په ۱۰۶۱ هجري کې هغه ځای ته نږدې و ، چې تازی نومېږي. سلطان ملخی په هغه وخت د غزني تر جلد که د اقوامو مشر و او په استقلال يې حکومت کا. معارض او ساری يې نه درلود او نازو په کوچنيوالي له مېرمنو پښتنو او سپين ږيرو علماوو څخه لوست وکا او مېړ مخی ارتينه وه چې نارينه يې مېړانې او شجاعت ته حيران و.(۱)

نازو انا په دغسې يوه عالمه او فاضله کورنۍ کې زېږېدلې وه او د خپل وخت مروج علوم يې لوستلي وو. د پټې خزانې په حواله نازو انا په پښتو ژبه شاعري هم کوله او ددې يوه مشهوره رباعي يې د بېلګې په توګه هم ثبت کړې ده. دا ډول د پټې خزانې مولف د خپل پلار په حواله د نازو انا د شاعرۍ په هکله ليکي:

(( چې نازو انا علاوه پر سخاوت او شجاعت او عبادت هسې ارتينه ده. چې د خدای تعالی څخه په مناجات يې ډېر اشعار ويل او يو دېوان يې درلود چې دوه زره بيتونه په کې وو او هلته يې ښه نکات ادا کړي وو او داسې يې ويلي وو چې نارينه يې هم نسي ويلی او دغه رباعي چې د نازو انا ده ما له خپله پلاره اورېدلې وه الحق چې ښه رباعي ده. )) (۲)



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نازو انا د شاعرۍ د دوه زره بیتو څخه مونږ ته یوازې یوه رباعي راپاتې ده او هغه هم په پټه خزانه کې خوندي ده، خو د هغې د دیوان پته تراوسه نه ده لګېدلې د هغې دغه رباعې د شعري تلازماتو له مخې دومره قوي او زړه وړونکې ده، چې که هغې نوره شاعري هم نه وي کړي مونږ یې د پښتو ژبې د ښو شاعرانو په کتار کې درولی شو.

سـحر ګـه وه د نـرګس لیمـه لانـده
څـاڅکي څـاڅکي یـې لـه سـترګو څڅېـده
مـا ویـل څـه دې ښـکلي ګلـه ولـې ژاړې؟
ده ویـل ژونـد مـې دی یـوه خولـه خندېـده.(۳)

ددغې رباعي د شعري قوت له مخې ویلی شو، چې نازو انا به د خپل عمر په اوږدو کې ښه او په زړه پورې شاعري کړې وي، لوی استاد اروابناد علامه حبیبي ددغې پښتنې مېرمنې د شاعرۍ په هکله په خپله یوه لیکنه کې داسې لیکي: ((دنازو ادبي مقام او هنري لیاقت هم د کتلو وړ دی. محمد هوتک په پټه خزانه کې د نازو انا فقط یوه رباعي د خپل پلار له خولې رانقل کړې ده، خو دغه یوه رباعي هم د نازو د ادب او هنر ارزښت ښکاره کوي او هم د معنا او مفهوم له پلوه ښه شعر دی



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم د صفت په ښکلا مزین دی، د تخیل رنګیني او بداعت په کې ښکاري، سلاست یې په لوړه پوړه کې دی.)) (۴)

د نازو انا په کورنۍ کې که د پښتو شاعرۍ د عنعنې جاج اخلو نو د دغې کورنۍ دویم پښتون شاعر د دغې عالمې او فاضلې نومیالۍ زوی میرویس خان نیکه دی. تر ډېره وخته پورې میرویس نیکه یوازې د یوه پښتون ملي قاید او نومیالي په توګه د پښتنو تاریخ لیکونکو له خوا د تاریخ په پاڼو کې ثبت و او هغه د خپلو پښتني خصوصیاتو او کارنامو له مخې زموږ د تاریخ پاڼې ښکلې کړې وې، خو له نېکه مرغه د محترم استاد زلمي هېوادمل د لټون او زیار له مخې دا ثابته شوه چې دغه باتور پښتون د خپلو سیاسي او ملي مبارزو په څنګ کې ځینې منظوم اثار هم لیکلي او شعرونه یې هم ویلي دي. د دغه نومیالي پښتون مشر د شاعرۍ په هکله استاد هېوادمل د ژوندون مجلې د ۱۳۶۸ ل کال په دویمه او دریمه ګڼه کې یوه ګټوره او ارزښتناکه مقاله کښلې ده، چې موږ د همدغې مقالې په حواله میرویس نیکه د خپل وخت ډېر ښه شاعر بللی شو.

محترم استاد زلمی هېوادمل په خپله مقاله کې یو ځای کاږي: ((... لنډه دا چې د میرویس نیکه اسلاف او اخلاف ټول له شرقي او اسلامي فرهنګ سره اشنا وو او په یوه فرهنګي



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماحول کې رالوی شوي او دوی ددې فرهنګ په وده کې برخه درلوده، خپله يې هم له فرهنګي مشاغلو سره مينه ښوو له او نور يې هم دې خواته هڅول، د شاعرۍ او فرهنګيالي نازو انا زوی ميرويس چې پر سياسي او ملي کارنامو يې نه يوازې زموږ د هېواد، بلکې د سيمې دهېوادو تاريخونه ډک دي تر سياسي او ملي مسايلو سربېره يې له فرهنګي مسايلو سره هم مينه درلوده او اوس ځينې داسې څرکونه له موږ سره شته چې دا ترې ښکاري چې زموږ دغه ملي مشر په خپله ملي ژبه ځينې منظومې هم ويلې وې چې يوه نيمه بېلګه لا د ځينو خطي اثارو په زړونو کې خوندي ده.(۵)

محترم استاد زلمي هېوادمل په خپله دغه مقاله کې د ميرويس نيکه يو بيت هم راوړی، چې زه يې دلته دده د شاعرۍ د نمونې په توګه رانقلوم بيت دادی:

عرض مې نه لګي پر ناتمام پاچا
څو به کومه پر يادونه(۲)

دا ډول ليکوال په خپلې ليکنې کې د ميرويس نيکه د شاعرۍ په هکله ځينې ګټورې خبرې هم کړې دي ددې ليکنې په يوه برخه کې يې داسې لولو:

اما دا يو بيت هم موږ ته ډېر غنيمت دی او دا ځکه چې د پښتو تاريخ د يو لوی قهرمان د سخنورۍ څرک ځينې ايستل



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

کېږي او دا موږ ته ښکاروي چې زموږ مرحوم ملي قايد حاجي میرویس نیکه د شعر طبع درلوده او په پښتو يې نظمونه هم ويل، موږ د میرویس نیکه د همدې يوه ترلاسه شوي بيت په استناد دده د شاعرۍ په باب خبرې وکړې....(۷)

ددغو ويناوو په حواله ويلی شو، چې د نازو انا د کورنۍ دويم شاعر ددې نوميالی او فرهنگيالی زوی میرویس نیکه دی او دده دغه يو بيت او د ده مينه د فرهنگيانو او شاعرانو سره دا ثابتوي، چې دغه لوی او تلپاتې پښتون به د خپل ژوند په اوږدو کې زيات شعرونه ليکلي وي، چې له بده مرغه د زماني ناخوالو لاتراوسه له موږ نه لرې ساتلی او که پلټنه وشي، نو هغه د محترم هېوادمل خبره چې دده زياته منظومه وينا به ومونډل شي او دده شعري عظمت به هم پښتنو ته څرگند او روښانه شي.

د نازو انا په کورنۍ کې بله ادبي او فرهنگي څېره چې هم يې ژوند او هم يې شعر د ډېرې ستاينې او يادونې وړ دی هغه شاه حسين هوتک دی. دی د نازو انا لمسی او د حاجي میرویس خان نیکه زوی دی. دی د خپل وخت يو عالم، عادل او فاضل پاچا و په خپل دربار کې د علم او ادب د ودې او پرمختگ لپاره يو فرهنگي مرکز هم جوړ کړی و او شاعران او ليکوال به يې په کې روزل. محمد هوتک چې پټه خزانه کښلې نو دغه لوی



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

پښتون پاچا دعمر له پلوه ځوان و د پټې خزانه مولف د شاه حسين هوتک په هکله ليکي: ((پادشاه جمجاه ضل الله شاه حسين ښالم خېل هوتک او د مغفور جنت مکان حاجي ميرخان زوی دی چې اوس په ځوانۍ کې پادشاهي کا او پښتانه يې په سيوري ارام دي، پادشاه عالم پناه په ۲۳ د ربيع الاول په ۱۱۱۴ سنه هجري په سيوري کې د کلات پيدا شو، هغه وخت چې ميرخان د بيت الله او اصفهان سفر وکا، پادشاه ضل الله کوچنی و او له اعلم علما ملا يارمحمد هوتک څخه يې درس ولوست. او تر دولسو کالو پورې د عمر يې د فقه او تفسير او منطق او د بلاغت کتب ولوستل او په کندهار کې له پلاره يې مصالح د امور زده کړل... )) (۸)

دا ډول د پټې خزانې مولف زياتوي: ((د پادشاه عالم پناه په دربار کې ټل علما او صالحان لارلري افضل العلما ملا يارمحمد هوتک چې د پادشاه استاد دی لوی عالم دی، په فقه کې يې کتاب مسايل ارکان خمسه کښلی دی... پادشاه عالم پناه په ارګ کې د قندهار هغه قصر چې نارنج باله شي هلته په هفته کې يوه ورځ دربار کا په کتب خانه کې او شعرا او فضلاء ټولوي، زه محمد هوتک کاتب ددې کتاب هم په دې مجلس کې يم او د پادشاه ضل الله اشعار او ادبيات په قلم کاږم او کتاب د ديوان يې مرتب شوی دی. کله په پښتو اشعار وايي او



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله فارسي ژبې ته هم ميل کا او استاد العلما ملا يارمحمد ته يې قرائت کا چې سهو وسقم ځنې زايل کا او د پادشاه په اشعارو کې لږ سهوه ليده سي او علما يې ټول په بلاغت او فصاحت قايل دي او سماع ته مايل.)) (۹)

دا ډول لوی استاد علامه عبدالحی حبيبي په پښتانه شعرا لومړی ټوک کې هم ددغه لوی شاعر د ژوند او اثارو په باب خبرې کړي او دده يوه سندره يې هلته ثبت کړې. په پښتانه شعرا کې لوی استاد حبيبي د شاه حسين د شاعرۍ په هکله ليکي: (دا زموږ مړنی او ننګيالی پاچا د ملي ژبې يو ښه شاعر هم دی، چې په ملي لهجه يې بدلې ويلې دي. دده اشعار عشقي دي او سپېڅلتوب او خوږوالی په کې ليدل کېږي.)) (۱۰)

د پټې خزانې مولف د وينا له مخې شاه حسين هوتک د شعرونو يو مکمل ديوان درلود او هغه يې ترتيب کړی هم و چې له بده مرغه تراوسه ورک دی. دده يوه شعري بېلګه يې په پټه خزانه کې خوندي کړې چې دلته يې راوړل ضروري بولم.

بېلتانه دې د غمو په چپاو چور کړم
په تيارو کې د هجران يې له تا دور کړم
بېلتانه دې هسې اوښکې راخپرې کړې
ستا د فکر په ګرداب کې تل عبور کړم
د فراق پرې مې کښېوت و مرۍ ته



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

پــه جهــان کــې يــې رســوا لکــه منصــور کــړم
پـــه وصـــال دې هـــم ناښـــاد يمـــه دلبـــرې
د ښېلتـــون فکـــر پـــه زړه کـــې ناصـــبور کـــړم
د بـــانو عشـــی مـــې وخـــوړ پـــه ځيګـــر کـــې
غمـــازانو پـــه غمـــزو غمـــزو مهجـــور کـــړم
خلـــق يـــاد زمـــا د عشـــق پـــه لېونـــو کـــا
زه حســـين محبـــت هســـې مشـــهور کـــړم(١١)

د میرویس نیکه نوم او دده کورنۍ د پښتنو د تاریخ یو رنګین او سمسور څپرکی دی د دوی مبارزې او سرښندنې د پښتون ولس په زړونو کې خاص ځای لري. دغې عالمې او فاضلې کورنۍ د خپلو سیاسي جدو جهد او هلو ځلو په څنګ کې د پښتو ادب لپاره نه هېرېدونکې کارنامې موږ ته په میراث پرې ایښې دي. ددغې کورنۍ بله عالمه او فاضله مېرمن زینبه هوتکه ده، لوی استاد علامه حبیبي په خپله یوه لیکنه کې کاږي: (( د هوتکو په دغه درنې کورنۍ کې موږ دوی د علم او ادب خاوندې مېرمنې هم پېژنو، چې یوه مېرمن نازو د حاجي میرویس خان مور وه... بله عالمه او ادیبه مېرمن بي بي زینبه د حاجي میرویس خان لور ده، چې د ملا نورمحمد غلجي ښځه یې لوست کړی و او د محمد هوتک په قول یوه هوښیاره او



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

عالمه ښځه وه... دې مېرمن د خپل عصر مروج علوم او ادبي او ديني کتب ټول لوستي وو د شعراو پر دېوانو او اشعارو يې پوره عبور لاره او د موذونانو او شاعرانو قدردانه وه.)) (۱۲)
دا ډول محمد هوتک په پټه خزانه کې ددغې خوږ ژبې شاعر د ژوند او شاعرۍ په هکله ګټورې خبرې کړې دي. ددغو خبرو په يوه برخه کې لولو: (( هسې روايت کا: چې بي بي زينب ډېره هوښياره او په مهماتو د امورو عالمه ښځه وه او د پادشاه جمجاه شاه حسين په امورو کې تدبير کا او هر کله په راى صايب مشکلات د امورو حل کا او پادشاه د زمان يې په خبرو عمل کا او نصايح يې اوري دا درشهوار د صدف عظمت ښه ښه شعرونه هم وايي او د موزنانو او شاعراو قدر کا دو او يې د شعرا هم کله لولي او له مضامين شيرين بى کام شيرين کا...(۱۳)
ددغې پښتنې مېرمنې په هکله که پلټنه وشي، دا سې ښکاري چې دې به هم د خپل عمر په اوږدو کې ډېر شعرونه ويلي وي د پښتو شعر په تاريخ کې ددې مقام ځکه زيات روښانه او ځلېدونکى دى، چې دې د خپل ورور په مړينه دا سې ويرنه کښلې چې د پښتو ويرنو په تاريخ کې هم زيات ارزښت لري.
موږ به دلته ددغې پښتنې مېرمنې د شعر د بېلګې د راوړلو په خاطر ددغې مرثيې څو بيتونه راوړو:



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

رېغ سـو چـې ورور تېـر لـه دنيـا سـونا
قنـــدهار واړه پــه ژړا ســـونا
زړه مـې پـه ويـر كـې مبـتلا سـونا
چـې شـاه محمـود لـه مـا جـلا سـونا
دا رونې جهـان راتـه تـورتم دی نـا
زړه د ببلتـون پـه تيـغ كـړم دی نـا
هوتـك غمجـن پـه دې مـاتم دی نـا
د پـاچهی تـاج مـو بـرهم دی نـا
چـې شـاه محمـود تېـر لـه دنيـا سـونا
قنـــدهار واړه پــه ژړا ســـونا...(۱۳)

په لنډيز سره ويلی شو، چې د نازو انا په كورنۍ كې ددې په شمول څلور تنه پښتانه شاعران نازو انا، ميرويس نيكه، شاه حسين هوتك او زينبه هوتكه تېر شوي، چې موږ په دې بره مختصره توګه ددغو څلور تنو خوږ ژبو شاعرانو يادونه وكړه.

## اخځونه

۱- هوتك، محمد، پټه خزانه لومړی چاپ، ۱۳۵۲ل كال، د ادبياتو او بشري علومو پوهنځی، ۱۰۱مخ.



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

٢- همدغه اثر ١٠٢مخ
٣- همدغه اثر ١٠٣ مخ
٤- د زېري کالنۍ، د افغانستان د علومو اکاډمي ١٣٥٧ل کال چاپ، په پښتو ادب کې د مېرمنې برخه د لوی استاد علامه حبيبي مقاله، ٥١مخ
٥- زلمی، هېوادمل، ژوندون مجله د افغانستان د ليکوالو انجمن خپرنی ارګان، ١٣٢٨ل کال دويمه او دريمه ګڼه ٢٨مخ.
٦- همدغه اثر همدا مخ
٧- همدغه اثر ٢٩ مخ
٨- پټه خزانه، ياد شوی اثر، شاه حسين هوتک ٥٧ مخ.
٩- همدغه اثر ٥٨ مخ
١٠- حبيبي، عبدالحی، پښتانه شعرا لومړی ټوک، ١٣٢٠ل پښتو ټولنه ١٢٨مخ.
١١- پټه خزانه، ياد شوی اثر ٥٨مخ
١٢- د زېري کالنۍ ياد شوی اثر ياد شوی مخ.
١٣- پټه خزانه ١٠٧ مخ.



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

اسمعیل یون

# د هوتکیانو په باب چاپ شوي پښتو کتابونه

(۱۱۱۹-۱۱۵۱هـ ق) کلونه د هوتکیانو د واکمنۍ عصر دی. له نوموړې نېټې څخه بیا تر ننه پورې د هوتکیانو د عصر د سیاسي، فرهنګي او ټولنیزو پېښو په باب بېلابېل اثار لیکل شوي دي. په دې کې د کورنیو لیکوالو اثار هم شته او د بهرنیو هغو هم. پر پښتو او دري ژبو سربېره په انګلیسي، جرمني، فرانسوي او روسي ژبو هم په دې برخه کې اثار لیکل شوي دي. زما د مقالې نوم دی، د هوتکیانو په باب چاپ شوي پښتو کتابونه. څرنګه چې پر ۱۳۵۷ل کال د ((هوتکیان کتابشناسی توصیفی)) په نوم یو کتابښود ترتیب شوی او په هغه کې یې ټول هغه اثار چې د هوتکیانو په باب په پښتو، دري او هم په بهرنیو ژبو لیکل شوي، معرفي شوي، نو زه د هغو کتابونو بیا معرفي څخه ډډه کوم، یوازې هغه اثر چې ((د خپلواکۍ لمر څرک)) نومېږي او د هوتکیانو په باب نسبتاً جامع اثر دی او نوی چاپ شوی، معرفي کوم. لومړی به په خپله د (هوتکیان



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

کتابشناسی توصیفی)) اثر معرفي کړم او بيا به ((د خپلواکۍ لمر څرک)).

## هوتکيان کتابشناسی توصيفی:

دا د هغه اثر نوم دی، چې د محمد ابراهيم ستوده او احمدضيا مدرسې له خوا تاليف شوی دی. دا کتاب پر **۱۳۵۷**ل کال د کابل پوهنتون له خوا د پوهنتون په چاپخونه کې چاپ شوی دی. د کتاب د ټوکونو شمېر څرګند نه دی، خو د مخونو ټول شمېر يې **۱۵۲** مخونو ته رسېږي. په دې اثر کې هغه اثار، سرچينې او ماخذونه ښودل شوي، چې د هوتکو د سياسي او ادبي کارنامو په باب په کې څه راغلي دي. د اثر په پيل کې د ((مقدمه)) په نوم په دوو مخونو کې د پوهندوی دوکتور عبدالرشيد جليلي يوه ليکنه راغلې ده. ورپسې ((دهوتکيانو توصيفي کتابښود)) په نوم په دوو مخونو کې د لوی استاد پوهاند علامه عبدالحی حبيبي ليکنه راغلې، چې د کتاب پر څرنګوالي، لنډې خو جامع خبرې کوي. بيا د کتاب د څرنګوالي په باب د ((پيشگفتار)) په نوم په لسو مخونو کې په خپله د محمد ابراهيم ستوده او احمدضيا مدرسې خبرې راغلې دي.

دغه کتابښود په څلورو برخو کې سره اوډل شوی دی:

لومړۍ برخه: کتابونه او کتابګوټي (رسالې).



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دویمه برخه: مجلې، جریدې او ورځپاڼې.
دریېمه برخه ضمیمې:
۱- د ملا خیرالله هوتک کتابښود، چې سرخېړونکی محترم زلمی هېوادمل ترتیب کړی دی.
۲- د مولوي صالح محمد کتابښود، چې محترم عبدالکریم پتنګ ترتیب کړی دی.
۳- د شېرمحمد کتابښود، چې محترم حبیب الله رفیع ترتیب کړی دی.
څلورمه برخه: ځینې انګرېزي، جرمني، روسي، فرانسوي او نورې خپرونې دي.
په لومړۍ برخه (د کتابونو) په برخه کې (۱۰۱) ټوکه بېلابېل کتابونه، چې د هوتکیانو په باب یادونې په کې راغلي، معرفي شوي دي.
په دویمه برخه (جریدو، مجلو او ورځپاڼو) کې ټولو (**۵۷**) ماخذونو ته ګوته نیول شوې ده.
د اثر دریېمه برخه (ضمیمې):
۱- لومړۍ برخه د ملا خیرالله کتابښود دی، چې سرخېړونکی محترم زلمي هېوادمل د ملا خیرالله پر ژوند لیک سربېره، د هغه د دېوان لومړی، دویم او درېیم ټوک، د دېوان قلمي نسخه



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

او همدارنګه د ملا خیرالله ازبکی پښتو فرهنګ هم معرفي کړي دي.

۲- د شیرمحمد هوتک کتابښود، چې محترم رفیع صیب ترتیب کړی، د شیرمحمد هوتک پر ژوند لیک سربېره يې د هغه دا لاندې اثار معرفي کړي دي:

۱- اسرار لسالکین یا (اسرار العارفین).

۲- تجوید الافغانی، ۳- رساله میت، ۴- د مستخلص د ادبیاتو شرح، ۵- د بردی د قصیدې ژباړه، ۶- معجزات.

۳- د مولوي صالح محمد هوتک کتاب پېژندنه.

محترم عبدالکریم پتنګ لومړی د مولوي ژوند لیک لیکلی او بیا يې د هغه دا لاندې اثار راپېژندلي دي:

الف- منظوم اثار:

۱- پښتو مثنوي.

۲- پاشلې ویناوې.

۳- پښتو عسکري لنډۍ.

ب- منثور اثار:

۱- لومړی کتاب د پښتو

۲- دویم کتاب د پښتو

۳- دریم کتاب د پښتو

۴- پښتو اطاعت اولی الامر

۵- پښتو ژبه لومړی ټوک

۶- پښتو ژبه دویم ټوک

۷- حصه اول رهنما یا خود اموز پښتو.



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۸- حصه دوم رهنما یا خود اموز پښتو.

د کتاب په وروستۍ برخه کې د هغو (۴۲) اثارو معرفي راغلې، چې په انګلیسي، جرمني، فرانسوي او روسي ژبو لیکل شوي دي.
یو بل ټکی چې ددې اثر په باب یې یادول ضروري دي، هغه دادی، چې هغو کتابونو او لیکنو ته یې د انتقاد ګوته نیولې، چې د بهرنیو لیکوالو خصوصاً د ایراني لیکوالو له کینې، تعصب، جعل او غلبیل څخه منځته راغلی او د هوتکو د دورې پېښو ته یې بل ډول رنګ ورکړی دی.

## د خپلواکۍ لمر څرک:

لمر څرک د هوتکیانو په باب ډېر نوی او جامع اثر دی، چې د محترم الحاج امان الله هوتک له خوا لیکل شوی، ددې اثر د بشپړېدو نېټه د ۱۳۲۸ل کال د وري د میاشتې ۸مه نېټه ښودل شوې او پر همدې کال په افسیت ډول په کوزه پښتونخوا کې چاپ شوی دی.
د کتاب د چاپ معین ځای (چاپخونه) او د ټوکونو شمېر معلوم نه دی. د مخونو شمېر یې ۳۳۳ دی، په معیاري لیکدود او د لیکوال په خپل سیمه ییز ګړدود لیکل شوی. دا



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

اثر د هېواد تاریخ د (۱۱۱۹-۱۱۵۱هـ. ق) یانې د هوتکو د افغاني دولت عروج او نزول تر څېړنې لاندې نیسي. دا اثر د خپلواکۍ د لارې مبارز ((د غازي سپه سالار سید ال خان ناصر په نوم چې د افغاني عزمت په لاره کې یې توره او قلم په مېړانه او ایمانداری چلولي دي) اهدا شوی دی. په دې تاریخي اثر کې لیکوال د کورنیو او بهرنیو اخځونو له نویو سرچینو او هغو روایاتو څخه چې د هوتکو له وخته بیا تر ننه پورې سینه په سینه رارسېدلي، ګټه اخیستې ده. د لیکوال له لیکنې څخه ښکاري، چې په زیاته کچه د بېطرفې او بې غرضې تاریخ لیکنې اصل ته وفادار پاتې شوی او پېښې، چې څنګه پېښې شوي، ده په همغه ډول ثبت کړې دي.

حاجي صیب امان الله د هغو بهرنیو لیکوالو په ځانګړي ډول د ایراني لیکوالو له غرض او کینې نه ډکې لیکنې، چې د افغانانو د اتلولیو او ویاړونو د نه زغملو له کبله منځته راغلي، تر انتقاد لاندې نیولې او د قناعت ښوونکو دلایلو په راوړلو یې، هغه رد کړې دي.

ددې اثر په پیل کې په دولسو مخونو کې د هېواد د نوښتګر لیکوال او څېړونکي حبیب الله رفیع یوه ګټوره سریزه راغلې، وایي: ((پخوانی او غیر عادي حالات که له یوې خوا ملتونو ته زیانونه اړوي او ورانې ویجاړې ورپېښوي له بلې خوا



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدا سې حالات د ملي قهرمانانو او اتلانو د تبارز او ودې لپاره لاره هواروي او د ملي بهير د مخکښې په لاره کې ملي مشران او نوابغ رامنځته کوي...

د ميرويس نيکه مبارزې د افغانستان د اسمان له افق نه د دونيمو پېړيو په اوږدو کې غايب شوی د ازادۍ لمر يو ځل بيا ددې هېواد په يوه برخه کې وځلاوه او ملي، د عدل او د ولس د خپلې خوښې حکومت پيل شو، د صفوي بې کفايته او حريصو واکمنو غچ اخيستونکې وسله والې هڅې يې هم وار په وار شنډې کړې او د ملي او جمهوري حکومت د ودې او پرمختګ په لور يې ګامونه اخيستل.

زموږ د تاريخ دا روښانه دوره ډېره تاريکه پاتې وه، لکه د هر ناکام شوي نهضت خاصه چې ده، د هغه ډېرې کارنامې پټې شوې دي، په دې باب افغاني اسناد ډېر لږ وو او هغه هم زياته برخه يې ورک وو، چې ورو ورو رابرسېره شول او لا د رابرسېره کېدو په حال کې دي، ايرانيانو چې په دې باب څه ليکلي وو مغرضانه او دښمنانه او حتی کله کله لوچکانه او بې ادبانه وو، دخارجيانو اثار زموږ په لاس کې نه وو او اوس که په لاس کې شته هم د ايرانيانو تر غلبېل راتېر شوي يعنې د هغو له خوا له ناروا تصرف سره ژباړل شوي او خپاره شوي دي. چې پر دې کتاب کې پرې خبرې کېږي. ))



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا اثـر چـې د هوتکـو پـه بـاب نسـبتاً جـامع معلومـات پـه لاس راکوي، په دې لاندې موضوعګانو بحث کوي:

## لومړی څپرکی:

د میـرویس نیکـه پـاڅون، افغانسـتان پـه لویـدیځ کـې د ازادۍ هلې ځلې، شجرة النسب، میرویس نیکه، میـرویس څـوک و او څه یې وکړل، د نازو انا خوب لیـدل، د میـرویس نیکـه ازدواج، د میـرویس نیکـه کسـب و کـار، د میـرویس نیکـه شخصـي صفتونه، دمیرویس نیکه مقام د پښتنو په نزد، ګرګین څوک و او څنګـه کنـدهار تـه راغـی، حـج تـه د میـرویس نیکـه تـګ، د میـرویس نیکـه خـوب لیـدل، د حـاجي میـرویس نیکـه بېرتـه راګرځېـدل لـه حـج څخـه، لـه موقـع څخـه د میـرویس نیکـه استفاده، د ملـي قایـد راتـګ قنـدهار تـه، د حـاجي میـرویس نیکه رسېدل قندهار تـه، دوهمه ملي جرګـه، پـه کـار پیـل، پـه اصفهان ددې اقدام تاثیر، د ملـي قایـد مـراوده د هند لـه دربـار سره، د پارس ۳۱ زره عسکر د خسروخان تر قوماندې لاندې، د خسرو خان نفاق اچول، د میرویس نیکه اماده ګي، د پارسیانو د بـل لښـکر مـاتې، د ملـي قایـد وفـات، د ملـي قایـد وروسـتۍ خبرې، د حاجي میرخان نیکه ورور عبدالعزیز.

## دوهم څپرکی، د شاه محمود هوتک سوبې:



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اصفهان محاصره، د محاصرې شدت، د شاهي سرای سنګ باران، د شاهي اشپزخانې چور کول، په اصفهان قحطي، خارجي سفیران، د اصفهان د مړو شمېره، د محاصرې په دوران کې جګړه، د شاه حسین ګوښه کېدل، د قحطۍ اثارو له منځه وړل، د افغانانو له خوا د اصفهان شاوخوا سیمو نیول، د شاه محمود سلطنت، د شاه محمود د حکومت لومړۍ شپې، د شیراز فتح، د ګل یګان فتح، د کاشان فتح، د امان الله خان مرور بېدل، د پادشاه د خپلوانو وژل، په ایران کې روسي مداخله، د ترکانو او روسانو ترمنځ د تشنج زیاتېدل، د خطرناک جنګ سیوری، د ایران په شمال کې د روسانو نور اقدامات، د اعلیحضرت شاه اشرف د سلطنت دوره، اعلیحضرت شاه اشرف هوتک، له صفوي شاه حسین سره د شاه شرف وضع، طهماسپ ته د شاه اشرف خط لیکل، بېرته افغانستان ته د امان الله خان تګ، د شاه اشرف او طهماسپ جنګ، له ترکانو او روسانو سره د شاه اشرف جنګونه، د شاه اشرف او روسانو ترمیان جنګ، طهماسپ ځان روسانو ته سپاري، د نادر او طهماسپ اختلاف، د ابدالیانو تعهد او د صفوي حکومت تجرید، له نادر او طهماسپ سره د مقابلې ترتیبات.

**دریيم څپرکی:**



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نادر یرغل، اشرف خان توخی، د ولس خلک له خپلو کورو را
ایستل. د هوتکي دورې مشاهیر.
**ضمیمه:**
له جمیل بیګ سره د میرویس نیکه ملاقات.



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

احمد تکل

# د چا بدل

انا تږې دې خیرې
انا د کور له دالانو نه دې لمبې جګېږي
انا منګې کې د ملالې کوم چا زهر ګډ کړل
او دا خبره نه ده
ګوره ډوډۍ کې دې کوم لاس دی چې رانجه ګډوي
چې ستا اواز د خونړۍ پېړۍ د غبرګو دېوالونو له شا
ماته را ونه رسي
انا دا څه پېښ شوي...
چې پښتانه لمسیان دې
له یخدانو کلیمه دارې مشهدې پټوي
او د مغولو په بازار کې یې په نیمه، نیمه بیه پلوري
انا دا څه پېښ شوي



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې د جرګو کړۍ کې
د ښو درنو خبرو پر ځای
سپکې کنځلې کېږي
انا دا څه پېښ شوي
چا درته ښېرې کړې دي؟
الله د چا بدل له تا نه اخلي؟



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د محمد اسمعیل یون لنډه پېژندنه



محمد اسمعیل یون د حاجي محمدخان زوی پر ۱۳۴۲ل کال، د لغمان ولایت د الینګار ولسوالۍ دنیازیو په یوې روښنفکرې کورنۍ کې زېږېدلی دی.
لومړنۍ زده کړې یې د الینګار ولسوالۍ د سلینګار په لومړني ښوونځي کې سرته رسولي دي، ترهغه وروسته کابل ته راغی او په خوشال خان لېسه کې شامل شو. پر ۱۳۶۲ل کال له نوموړې لېسې څخه په دویم نومره بریالی او پر ۱۳۶۷ل کال د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د پښتو څانګې محصل شو. پر ۱۳۷۰ل کال له نوموړې څانګې څخه اول نومره بریالی او پر همدې کال بېرته د پښتو څانګې د کدر غړی شو. پر ۱۳۸۵ل کال په نوموړې څانګه



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې د ماسټرۍ دوره پیل شوه، یون په ډېر ښه او بریالي ډول دا دوره پایته ورسوله.

محمد اسمعیل یون له ۱۳۷۰ ل کال څخه بیا تر ننه پورې د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي تدریسي غړی او د(پوهندوی) علمي پوړۍ ته رسېدلی دی، پر استادۍ سربېره، استاد یون د ((کابل پوهنتون))، ((هیلې)) او((شمشاد ))مجلو د چلوونکي دنده هم په ښه ډول ترسره کړې ده. په پېښور کې د چاپېدونکې ((معارف)) مجلې کتونکی غړی هم و. همدا رنګه د یو شمېر نورو چاپي خپرونو همکار هم پاتې شوی دی.

استاد یون پر ۱۳۸۱ل کال، په جلال اباد کې بېړنۍ لویې جرګې ته د ختیزو ولایتونو د انتخاباتو د دفتر مشر شو، د دې جرګې لپاره تر ټاکنو وروسته د جرګې غړی، بیا د جرګې د غړو له خوا د بېړنۍ لویې جرګې دلومړي منشي په توګه انتخاب شو. استاد یون په دې جرګه کې تر خپل وروستي وسه خپل ملي او تاریخي مسولیت ادا کړ او د هېواد دښمنه عناصرو د توطیو مخه یې ونیوله.

تر دې جرګې وروسته، کله چې د افغانستان د اساسي قانون د تدوین بهیر پیل شو، نو استاد یون بیا د دې بهیر لپاره د ختیزو ولایتونو د دارالانشاد دفتر مشر وټاکل شو. په ختیزو ولایتونو کې د اساسي قانون د لویې جرګې لپاره انتخابات هم د همدې دفتر له



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوا ترسره شول استاد یون د اساسي قانون د تصویب په لویه جرګه کې د نوموړې جرګې د دارالانشا د غړي په توګه خپل فعال رول ادا کړ. ټاکل شوې وه، استاد یون په ختیزو ولایتونو کې د افغانستان د جمهوري ریاست لپاره د عمومي ټاکنو د دفتر مسول شي، خو په کابل کې د لویو جنګسالارانو او ځینو تنظیمي مشرانو له خوا پر حکومت او ملګرو ملتونو د زیات فشار له امله له کاره ګوښه شو. ملګرو ملتونو (UNAMA) استاد یون ته وړاندیز وکړ، چې په کابل کې به تر دې لوړه دنده درو سپارو، خو استاد یون و نه منله او خپلې استادۍ ته یې دوام ورکړ.

درې کاله وروسته یې د ځینو ملګرو په زیات ټینګار او غوښتنه، د جمهوري ریاست د ملي امنیت شورا په دفتر کې د فرهنګي چارو د ریاست دنده ومنله او په کابل پوهنتون کې پر استادۍ سربېره لا تر اوسه دا دنده پر مخ وړي. استاد یون پر ۱۳۸۵ل کال د افغانستان او پاکستان د امن ګډې جرګې لپاره د افغانستان له خوا د منشي په توګه غوره شو او دا دنده یې هم په ښه ډول ترسره کړه.

استاد یون د خپلو اکېډمیکو او لیکوال په توګه په تېرو شلو کلونو کې ګڼ شمېر فرهنګي او ټولنیز خدمتونه ترسره کړي، په ګڼو چاپي، راډیويي او ټلویزیوني مرکو کې یې د واقعیتونو او حقایقو د څرګندېدو له امله د خلکو په زړونو کې ځای نیولی دی. که څه هم



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډېر خلک د یون لیکنې، مرکې او نظریات خوښوي، خو یو شمېر داسې خلک هم شته، چې د یون سرسختي مخالفین دي. د هغه ملي او ګټورو نظریاتو ته هم غلط رنګ او تعبیر ورکوي، دا ډول اشخاص، چې اکثره یې زورواکي او د سیاسي ډلو ټپلو غړي او مشران دي، د استاد یون نظریات خپلو شخصي او تنظیمي ګټو ته خطر بولي، نو ځکه یې په ټینګه مخالفت کوي. زه ددې شاهد یم، هر کله چې یون کومه لیکنه او مرکه کړې، نو دده پر وړاندې یې مثبت او منفي غبرګونونه دواړه راپارولي دي، منفي غبرګونونه اکثره وخت د هغو اشخاصو او ډلو له خوا وي، چې په تېر کړکېچن سیاسي بهیر کې یې ډېرې نامشروع ګټې ترلاسه کړي او ځانونه یې مطرح کړي دي.

مثبت غبرګونونه اکثره د ولس د مشرانو، روښنفکرانو او نورو مخورو له خوا وي، خو استاد یون په دغسې سختو اغزنو او تنګو شرایطو کې بیا هم خپل فرهنګي، سیاسي او ټولنیز کار ته دوام ورکوي.

دا اوسنی فرهنګي کار، چې تاسو یې اوس په مسلسل ډول ګورئ، دا د تېرو شلو کلونو کارونه دي، چې له تېر یو نیم کال راهیسې پرې په منظم ډول کار شوی، اوډل شوي او دا دی ستاسو مخې ته اېښودل کېږي، په داسې یو دولتي دفتر کې چې بوختیاوې په کې ډېرې وي، د منظم او ستر فرهنګي کار سرته رسول اسانه کار نه دی. استاد یون پر خپلو فرهنګي کارونو سربېره د ګڼو فرهنګي ټولنو



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

د غړي، همکار او موسس غړي په توګه هم خپل فرهنګي رول ادا کړی، په پېښور کې يې د دوو المان مېشتو فرهنګي ټولنو (د افغانستان د کلتوري ودې ټولنې) او (د پښتني فرهنګ د ودې پراختيا ټولنې) د همکار په توګه د بېلابېلو ليکوالو په لسګونو اثار، ايډيټ او چاپ کړي دي. دغه راز يې په سلګونو کورنيو مشاعرو، ادبي غونډو او سيمينارونو کې ونډه اخيستې ده، خپله يې هم په لسګونو مشاعرې، سيمينارونه او علمي ورکشاپونه جوړ کړي دي.

سربېره پر دې، په يو زيات شمېر، ملي او نړيوالو کنفرانسونو کې يې په ښه ډول د خپل هېواد استازي کړې ده. دلته به يې د اثارو يادونه وکړو:

## اثار

الف- پنځونې:

| کتاب نوم | خرنګوالی | چاپکال |
|---|---|---|
| • متکور | لومړۍ شعري ټولګه | دويم ۱۳۸۷ |
| • په اورونو کې سندرې | دويمه شعري ټولګه | دويم ۱۳۸۷ |

ب- راټولونې:

| | | |
|---|---|---|
| • هيلې | ګډه شعري ټولګه | دويم ۱۳۸۷ |
| • نيمګړي ارمانونه | د حيران شعري ټولګه | دويم ۱۳۸۷ |
| • د لوونو فصل | ګډه شعري ټولګه | دويم ۱۳۸۷ |
| • د نازو انا ياد | د سيمينار د ليکنو ټولګه | دويم ۱۳۸۷ |



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

- د استاد الفت نثري کليات    د استاد الفت نثرونه    دريیم ۱۳۸۷
- سيندونه هم مري    د اسحق ننګيال شعري منتخبات    دويم ۱۳۸۷

## ج- ژباړنې:

- د ټولنپوهنې له نظره: په افغانستان کې د واک جوړښتونه
  د پوهنوال روستار تره کي اثر    دويم ۱۳۸۷
- .د افغانستان فرهنګي ميراثونو ته يوه کتنه
  د نينسي دوپرې اثر    دويم ۱۳۸۷
- په افغانستان کې د جګړې جنايتکارانو محاکمه
  د پوهنوال روستار تره کی اثر    دويم ۱۳۸۷

## د - يونليکنې:

- د اماراتو سفر    د اماراتو يونليک    دويم ۱۳۸۷
- که يون دی يون دی    د اروپا يونليک    لومړی ۱۳۸۷
- د پنتپاګون ترڅنډو    د امريکا يونليک    لومړی ۱۳۸۷

## هـ- څېړنې او شننې:

- د محمد ګل خان مومند اند و ژوند ته يوه لنډه کتنه    دويم ۱۳۸۷
- استاد زيار د پښتني فرهنګ يو ځلاند ستوری    دويم ۱۳۸۷
- دکابل پوهنتون د ادبياتو پوهنځي پښتو کتابښود    دويم ۱۳۸۷
- د افغانستان فرهنګ ته اوښتي زيانونه    دويم ۱۳۸۷
- د پښتو شعر هندسي جوړښت    شپږم ۱۳۸۷
- له افغانستانه د مسلکي کادرونو د فرار عوامل    دويم ۱۳۸۷
- ساينسي پرمختياوې    دويم ۱۳۸۷
- بېړنۍ لويه جرګه ولسواکي او زورواکي    دويم ۱۳۸۷



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

- اندیال خوشال لومړی ۱۳۸۷
- هیله د خپلو سریزو په لمن کې لومړی ۱۳۸۷
- کلتوري یون لومړی ۱۳۸۷
- فرهنګي فقر لومړی ۱۳۸۷
- مرکه او مرکې لومړی ۱۳۸۷
- خوشال په خپل ایډیال لومړی ۱۳۸۷
- دکتابونو په وړمو کې لومړی ۱۳۸۷
- افغانستان په سیاسي کړلیچ کې لومړی ۱۳۸۷
- پښتو لیکنی سمون لومړی ۱۳۸۷
- اوسنۍ رسنۍ لومړی ۱۳۸۷
- که نړیوال ماته وخوري؟ لومړی ۱۳۸۷

خدای(ج) دې استاد یون ته ډېر عمر ورکړي او جرئت دې ورته هم تاند لري، الله(ج) دې دی له هر ډول بدو بلاوو وژغوري، په فرهنګي کارو زیار کې ورته دنور زغم او وسېلې هیله لرم.

په درناوي

وفاالرحمن وفا

کابل- افغانستان



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# dә nāzo ānā yād

## (Memory of Nazo Ana)

### The collection of seminar's articles

**collected by:**
**M. Ismael yoon**

ISBN 978-9936-500-04-4
9 789936 500044 >

د خپرونو لړ: (۵)

Downloaded from: www.ketabton.com

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**